DMCA.com
PROTECTED & MONITORED

Uploading to other domains or freeware drives is prohibited

Pukhto.Net
پښتو

اوښکې مې د مینې دردانې شولې
دکه مې جولۍ شوه شاه جهان شومه



# دردانې

نادر آر درپه خیل

# دُرداني

## نادار

جان کتاب کور کبل سوات
نقیب احمد جان اینډ برادرز حاجي اقبال پلازه کبل سوات فون: 6961 951 345 92+
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

حقونه محفوظ دي

نوم: اصغر درپه خېل

قلمي نوم: نادار

د پلار نوم: مرحوم حاجي رحيمزاده درپه خېل

د زېږون نېټه: 1982

زېږون ځائې: درپه خېل

تعليم: اووم جماعت

پېشه: ډرائيوري

پته: ضلع بنو، تحصيل ميرانشا، کلے درپه خېل

ټيليفون: 0557734032 ابوظهبي

د چاپ شمېر: 1000

د چاپ کال: 2013ع

کمپوزر: سعيد احمد انجم

پروف: اټل افغان

ډيزائن / ټائټل: نقيب احمد جان

چاپ خانه: مشرف پرنټنګ ايجنسي، پېښور

اهتمام: جان کتاب کور کبل سوات

د موندلو ځايونه

1. يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور
2. کلاسک پبلشرز صدر بازار نوښار
3. حمزه بک ډپو چوک بازار بنو
4. نجيب بک ډپو سرائے نورنګ
5. حاجي مير عالم خان بک سيلرز اينډ پبلشرز مين بازار مير علي
6. افغان کتب خانه لائق شاه مارکيټ ميرانشاه

# تـــــــړون

1. د خپلې خوږې درنې او پښتنې مرحومې مور په نوم چې زما د لیدو ارمان ئې ګور ته یوړو او زه ئې د لېدو ارمان د امېل غوندې په غاړه ګرځوم
2. د خپلې کورنۍ مشر د خپل استاد مرحوم لائق شاه درپه خېل په نوم چې زما د کتاب د چاپ کېدو ارمان ئې ګور ته یوړو
3. د حاجی میرزاعلی خان (ایپی فقیر) د هاغه جرنېلانو په نوم چې فرنګیانو ته ئې د خپلې خاورې په بدل خپله وینه ورکړه

نادار درپه خېل

بسم الله الرحمن الرحيم

په ذاتي جوړ زهٔ د وزیرستان د دغه مردم خېزه سیمي سره ډېر د پخوا راسې بلد یم محترم لائق شاه درپه خیل مې لاد هاغه وخته راسې پېژندو کله چې به ئې په زړهٔ پورې لیکونه د کراچۍ څخه په راوتونکي اباسین رساله کښې چاپ کېدل. دا زما د هلکانۍ ورځې وې وروستو بیا د هغه ځنې علمي او تحقیقي تاریخي اثار چې ما ته ئې په خپله رارسولي وو او د وزیرستان او د اے پی فقیر په حقله پکښې معتبر معلومات راجمع وو دغه دواړهٔ کتابونه لانن هم زما په ذاتي کتابون کښې موجود دي. وروستو بیا د خیبر میډیکل کالج د هغه خنده رویه پروفیسر ډاکټر محمد داود خان سره هم زما ډېر په زړهٔ پورې اړیکي وو. هغه د یو ډېر مینه ناک شخصیت مالک وو. زهٔ ئې زما سره د ډیري میني او اخلاص معترف یم. اوس دا دے د یو بل ذهین سخن ساز د اعلی فکر و نظر د خاوند د خپل وطن نه بهر چرته د دوبۍ په ریګزارونو کښې دمیشته مسافر شاعر چې نادار تخلص کوي سره د سوات د کبل د ګران نقیب احمد جان په ذریعه متعارف کېږم. دې ښاغلي د دغې ناویاته د رپه خیل شاعر د سپیځلي کلام یوه مجموعه مسوده طریق ما ته رارسولې دهٔ. په دې غرض چې زهٔ ئې اولولم او خوندونه

ورنه واخلم. او د خپل فکر او پوهې په بخښه کښې ورنه مشک و عنبر او څه موتیان ملغلرې او جواهر پارې د ځان سره هم خوندې کړم. بیا ورباندې خپل څه لیونشوکې تاثرات هم قلمبند کړم. اے کاش چې د شاعرانه ښکلاګانو دې بام ته د ورختو څۀ خواستطاعت مې لرلې ـــــ د محترم نادار درپه خېل د کلام معیار او خوندونه دومره نادر پریمانه او داسې متنوع دی چې ځان ته د یو جدا کتاب د لیک متقاضی دی. د نقد و نظر په حواله د جدیدې پښتو په دنیا کښې داسې کوم مثال زما په نظر نه راځی چې دې نابغه سخنو رسره ئې مشابه کړم. زۀ فکر کوم چې دا بالغ نظره سخن ساز لکه چې د پښتو ژبې د دوروسطی د کلاسیکی فلک نه راشوکیدلے کوم داسې تا بناک ستورے وی چې هم د رحمن بابا د مکتب دلار لاروے وی . هم د حمید موشګاف د مکتب ملګرے وی هم د بیدل، معز الله خان مهمند پیر محمد کاکړ او مصری خان همسفر پاتې شوے وی او هم ئې علی خان، حافظ د الپوری، او محمدی صاحبزاده سره میشته کړی وی راه و رسم ئې ورسره ساتلی وی. ولې سره د دې ئې خپله لاره ځان ته بېله هم غوره کړې وی. بیا د خپلې سیمې د ادب پال ملګری محترم لا ئق شاه درپه خېل ذکر داسې په دنه ، خوږه او د احترام په لهجه کښې په خپل کلام کښې په بار بار کوی لکه چې هم هغه ئې لار ښود او راهنما وی.

زۀ د ښاغلی نادار در په خیل د کلام په هر بیت او هر شعر کښې د هغه د بصیرت او فنی هنرمندۍ د کمال داد خو بې شکه چې ورکوم ولې په تفصیلا تو کښې ئې د تللو توان او یارا نه لرم. په دې چې که څه هم د هغه خپله مورنۍ لهجه وزیر واله پښتو ده ولې د شعر ژبه ئې دومره ساده او عام فهمه ده چې بېخی دلسان الغېب عبدالرحمن بابا د کلام ګمان وربانديې کیږی. ولې سره د دې ئې رنګ او انداز ډېر منفرد نازک او مقامی رنګونه لری. هم پکښې د خپلې مسافرۍ او بې دیارۍ د ژوند خبرې کوی هم پکښې د وزیرستان د سیمې د مجاهدانه روح ذکر اذکار بیانوی او هم د خپلې خوا د توچی رود د غاړې سندرې وائی.

دا ماراتو د مغیلانو په صحرا نوردۍ کښې چې ئې کله خپل ځان ته پام شی نو خپل ځان ورته صحرا نشین مجنون لیدے شی. کله فرهاد تېشه بردار او کله منصور په سر د دار وی. هم دا نا الحق ندا ئې په غوږو راځی او هم د رود نیل صدا اوری. کله د موسی او د هارون خبرې کوی او کله خلیل او اذر یادوی. داسې معلومیږی چې زمونږ دې نادار مسافر شاعر په خپلو شعرونو کښې د خپلې سیمې کهسارونه او د عربستان ریګزارونه سره یو کړی دی. هم د خپلو غرونو باد نیسم نه هېروی او هم د حجاز د سیمې ایشمې ته د زړۀ دروازې خلاصې لری. دا هر څه ئې د روح د بالیدګۍ او د نظر د طراوت پامته دار دی هم دا ورله د فکر و نظر

هاغه ښکلاګانې ورکوي چې کلام ئې وربانديې د سر نه تر اخره هار سينګار ښکاري. د کلام خوندونه ئې دومره ډېر دي چې څوک هم دا لولي نو ډېر کم به کوم شعر ته د معيار په تول پارسنګ د کم کوز نسبت اوکړے شي. خپل نوم ئې اصغر دے، تخلص ئې نادار دے په قام درپه خېل دے. دا وخت د خپل کلي کور نه لرې په دوبۍ کښې مقيم دے. د ناوياته ملغلرو د دې امېل نامه ئې دردانې دۀ. زما دعا دۀ چې نادار درپه خېل هم دغه شان د خپل خوندور کلام الهامي خوند توتې خپل اولس او خپلې ژبې ته سوغات کوي.

وما توفيقي الابالله

پروفېسر محمد نواز طائر
د پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون پخوانے ډائريکټر
ټيکاؤ منزل تاېه
31-05-2013

# ســــــريــــــزه

نه پوهېږم نه پوهېږم زه چې خپلو یلغار اوکړو
که د زړه په پښتونخوا مې بیا مغلو یلغار اوکړو
د ستم تېره تبرونه هر سړی په لاس کښې راوړل
په نامه د خار و خندئې په سرو ګلو یلغار اوکړو

زه پخپله نادار نه پېژنم دا خو نقیب احمد جان وو چې ما له ئې د هغوئ د شاعرۍ مجموعه راکړه چې زهٔ پرې څه ولیکم ۔ نقیب احمد جان ډېر ذهین هلک دے د ادبیاتو سره مینه لری ۔ د دوئ د اردو نه پښتو منظوم تراجم ما کتلی دی کوم چې د شعر و شاعرۍ مجموعه ده ۔ ډېر ښه ذوق لرونکے شاعر دے او چې اصغر علی نادار صېب د دوئ ملګرے دے نو ضروری ده چې ښه ذوق لری ۔ ما د دوئ د شاعرۍ مجموعه ,,درداني'' ولوستله ۔ زما عادت دا دے چې کله هم د چا په شعری مجموعه لیکل کوم نو خپل قلم راسره وی زما په خیال چې څه اصلاح به وکړم ۔ خو داسې نه وه د نادار صېب شاعری دومره پخه ، دومره پر معنی وه چې د اصلاح ګنجائش پکښې نه وو خوشحاله شوم د الله ورکړه دی چې څوک په څه خزانه مامور کړی ۔ د دوئ خیالات د دوئ مشاهده د دوئ قوت متخیله د ستائیلو ده ۔ زه به د دې نه هم انکار نه کوم چې دوئ د مختلفو شاعرانو د مختلفو ژبو د ادبیاتو ډېره مطالعه کړی ده ۔

ځکه ئې د شاعرۍ رنګ ډېر پوخ او رنګين دے ـ ځائے په ځائے پکښې د غم جانان ، غم هجران ، وصال او فراق سره سره د خپل وطن د خپلې خاورې په بد حالۍ ژړا هم شته ـ د دوئ شاعري کلاسيکي رنګ لري ، وزن او بحر ئې داسې برابر دے لکه د حميد بابا ، علي خان ، عبدالقادر خان ختهک او داسې نورو کلاسيکي شاعرانو غوندې دے ـ د دوئ په شاعرۍ کښې د لوئے بحر اوږده غزلونه هم شته ـ د دوئ عمر څومره دے زه نه يم خبر ، خو شاعري ئې د بالغ ، پوهه ، نظر لرونکي شاعر عکاسي کوي ـ د دوئ شاعري هم لکه د کلاسيکي شاعرانو د فارسۍ ژبې امېزش لري ـ

د دوئ د شاعرۍ مثالونه که زه وړکړم نو لوستونکي به ضرور محسوس کړي چې د رحمان بابا يا د يو بل کلاسيکي شاعر د شاعرۍ نه مثالونه دي ـ

ښه ستم راباندې اوکړه هېڅ څه خوف او ويره مه کړه
نه مې هېڅ څوک د تپوس شته نه مې هېڅ څوک د پوښتنې

څوک له در څخه بدر کاندي په ګتهو
څوک په سپين مړوند اوده کا الغياث
يار چې قيل و قال د غېر په ژبه کاندي
خدائيګو زهر را په خله کا الغياث

هم مې سر په خپل وخت مات دے هم په دار مې دی خندلی
ته بیا هم بهروسه نه کړې اے زما په عشق شک منې

د یثرب لویه سرداره ستا له رویه
صدقه شه زما آل زما عیال

زما دعا ده چې خدائے پاک دې د نادار صېب قلم هم دغه شان لری چې د پښتو ژبې او ادب جولۍ د دغه قسم نورو دردانو نه هم ډکه کړی. زه د دوئ شکر گزاره یم چې په خپل کتاب ئې زما د لیک د خواهش اظهار اوکړو. او د محترم نقیب احمد جان چې د اردو ژبې د ادبیاتو د Ph.D سکالر دے هم ډېره مننه کوم.

پروفیسر ډاکټر سلمی شاهین

ډائریکټر پښتو اکېډمی پېښور پوهنتون

۱۹ جون ۲۰۱۳ء

# د نادار د ناداري هسې لوګړے شم

د انسان لوئي او عظمت په عاجزۍ کښې وی . د بشر فوقیت او اوچتوالے په انکسارۍ او عاجزۍ کښې خوندی دے . که فرعون هر څومره ځان ته خدائے وائی خو چې د حقیقی خدائے بنده ته مخامخ شی نو یو دوه ورځنې هېر شی . که نمرود هر څو د خدائۍ دعوې کوی خو چې د الله تعالی یو کمزورے او زمونږ په نظر کښې حقیر مخلوق ورباندې یرغل وکړی نو د لاده باده ئې پرې باسی . بل خوا که منصور حلاج د خپلې مینې او ناداری په سوب د وخت د خدایانو د لاسه په سر د دار شی خو د عاشقانو د صفونو امام وګرځی .

د ښاغلی احمد جان صېب په لاس نادار صېب خپله شاعری د چاپ په غرض ما ته را واستؤله ما چې څو پاڼې سرسری واړولې ، ګوته په خُله شوم ورته . ښاغلے اتل افغان چې په ناحقه کښې د هېچا ملګرے نه دے او بې ځایه تعریفونه د چا نه کوی او نه خوښوی ، کتاب مې د پروپ لپاره هغه ته ورکړے وو هغه هم د نادار صېب د شاعرۍ نه متاثره ښکارېدو او تعریفونه ئې کؤل . بیا د پروپ د غلطیانو ویستو په مرحله کښې ما کتاب په غور ولوستو او ډېر زیات خوند ئې راکړو . څه زما د ذاتی مصروفیاتو له کبله او

څه د بجلۍ د خراب صورتحال په وجه د نادار صیب کتاب د چاپ مرحلې ته په رسېدو کښې ډېر وخت واخستو .نادار صیب په دې وخت کښې د ټیلیفون د لارې زما سره مسلسل رابطه ساتلې ده .ما تر اوسه لا د هغوئ تصویر هم نه دے لیدلے خو د محمد ګل منصور صیب چې د دوبۍ نه په راتګ ما ته د الفاظو په صورت کښې د هغوئ کومه خاکه مخې ته کړه د هغې په مدد سره ما د نادار صیب انځور په خپل ذهن کښې داسې جوړ کړے چې د انکسارۍ ، عاجزۍ ، مینې ، خلوص ، وفادارۍ ، پښتون ولۍ او غېرت همه رنګونه په ځان کښې لري .هم دغه انځور د هغوئ د اواز نه را څرګندېږي. یو ځلې ډېر په غېر محسوس انداز کښې هغوئ ما ته ګیله وکړه چې په دومره موده کښې خو پکار ده چې دا کتاب چاپ شوے وے. زه یقیناً چې په دې خبره خپل ځان یواځې د نادار نه بلکې د پوره پښتون قام ګناهګار ګڼم چې د هغوئ دردانې زما د له وجې د هغوئ تر لاسه په رسېدو کښې ډېره موده واخسته .خو هغه د فارسۍ ژبې مقوله ده چې ـــــ دیر آید درست آید ـــــ لوئے الله دې وکړي چې دا کتاب د نادار صیب او د پوره پښتون قام په تول پوره وخېژي ځکه چې نادار صیب د وړاندې نه دا بوج ټول زما په اوګو را غورځولے دے چې که په کتاب کښې څه هم غلطي وه او چا هم پرې ګوته اوچتوله نو زه به دا وایم چې دا زما نه د نقیب احمد جان غلطي ده. انسان د غلطۍ نه مبرا هېڅ کله هم نه شي کېدے صرف د لوئے الله کتاب دے چې د هر شک او هرې غلطۍ نه پاک

و صاف دے۔ د نادار صېب د کتاب لپاره زما کوشش او دعا ګانې دي چې د غلطۍ ګنجائش دې پکښې د کم نه کم وي۔ ما اول نادار صېب ته دا وئيلي وو چې د کتاب مخونه سېوا کېږي انتخاب به وړکښې وکړو ، خو چې کله انتخاب هم هغه ما ته وسپارو نو ما ته ډېره ګرانه شوه۔ په دردانو کښې به سړے کومه دردانه غورځوي ، په دې سوب د هغوئ ما ته راستولے ټول کلام په دې کتاب کښې شامل دے۔ نادار صېب يوه ذمه واري ما ته دا هم حواله کړې وه چې په دردانې د پروفېسر محمد نواز طائر صېب او د پروفېسر ډاکټر سلمى شاهين صاحبې ليکل هم واخلم۔ او بيا ئې دا هم حکم کړے وو چې د دې نه علاوه به ته هم پرې ليکل کوې۔ د پروفېسر محمد نواز طائر صېب ليکل پنځه ورځې وړاندې ما تر لاسه کړې وو او د پروفېسر ډاکټر سلمى شاهين صاحبې ليکل نن زما تر لاسه را ورسېدل۔ اوس حېران په دې يم چې د دې نه وروستو زه څه وليکم ـــــ پروفېسر محمد نواز طائر صېب چې د پښتو ادب د اسمان ستورے نه بلکې نمر دے او پروفېسر ډاکټر سلمى شاهين صاحبه چې نن سبا د پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون ډائريکټره او زما استاذه ده ، دواړو په دومره ښو ټکو او مينه ناکه لهجه د نادار صېب شاعرې ستائيلې او د خپلې پوهې او علم په رڼا کښې ئې وړاندې تبصره کړې چې د دې نه وروستو په دې موضوع قلم پورته کوَل ما ته ګستاخي ښکارېږي۔ بل خوا د نادار صېب د حکم نه سرتابي کول راته ګران دي۔ په دې صورتحال کښې بس دومره

وئیلے شم چې تر اوسه څومره کتابونه د جان کتاب کور له خوا ما چاپ کړی دی په هغوئ کښې مې د نادار شاعری ډېره خوښه شوه ـ د بهرتۍ شعرونه پکښې نشته ، یو ځائے دوه کښې د کلاسیکی شاعرانو سره مشابهت راځی ، خو په دومره کتاب کښې دا د نیوکې خبره نه ده ـ هسې خو ټول کتاب د داد قابل او د تعریف وړ دے خو څو شعرونه ترې ستاسو په وړاندې بېدم کوم چې نېغ زما زړه ته کوز شو ـ

د فراق درازو شپو کښې ډېر ویرېږم
د یعقوب په شان را پېښه نه شی ما ته
انتقاد د ناقد هله سود مندی کا
چې په زور او په زېر وګوری انشا ته

چې په ګلګونو لبو ګفت راته نګاره کوې
که ذوالقرنېن شومه په سر مې سره لعلونه ووری

برکت د سپین رخسار اسودی زلفو
خلاص کړم زه د تور او سپین د امتیازه

پوئ نه شوم په دې راز چې سینه ئې زما څیرې کړه
بیا ئې خون الود پرهر پرهر په غېږ کښې و نیوم

ژوند د دې دنیا زما زار شه تر اشنا زما

زار شه تر اشنا زما ژوند د دې دنیا زما

دا یو څو دردادنې ـــ او داسې نه ، درداني تول د داسې دردانو نه ډک کتاب دے .زه ستاسو او د دردانې د دردانو په مېنځ کښې دېوال جوړېدل نه غواړم ـــ ,, دردانې ,, ستاسو لاس کښې دے ، چې څه رنګه دردانې مو په زړه لګی ، ترینه تولوئ .....

په ډېره مینه
نقیب احمد جان
پی ایچ ډی سکالر پیښور پوهنتون
نېټه : 20 جون 2013ء

# نادار در پهٔ خېل څوک دے ؟

د نادار در پهٔ خیل صېب خپل نوم اصغر دے خو پهٔ ادبی دنیا کښې پهٔ نادار در پهٔ خېل پېژندے شی. نادار در پهٔ خېل صېب د شمالی وزیرستان میرانشاه درپه خېل نومې کلی کښې پهٔ 1982کښې د مرحوم حاجی رحیم زاده در پهٔ خېل صېب پهٔ کور کښې سترګې غړولی دی. تعلیم خو ئې اووم جماعت پورې حاصل کړے دے خو ادبی مطالعه ئې جاری ساتلی ده د نادار در پهٔ خېل صېب نه تعلیم خو اول د کاروبار پهٔ سبب پاتې شو خو روسته ئې څو کاله د حالاتو پهٔ زندان کښې د غربت زولنۍ پهٔ لاسو کښې وشړنګولې نادار صېب د محترم لائق شاه در پهٔ خېل صېب د خاندان سره تعلق لری او د لائق شاه درپهٔ خېل صېب پهٔ خاص شاګردانو کښې د خاص مقام څښتن وو ځکه چې د نادار صېب سره خو ئې د کور ستر هم نه وو نادار صېب ته څو څو ځله لائق شاه در پهٔ خیل صېب د کتاب د چاپ کېدو اووئیل خو زهٔ نه پوهیږم چې نادار صېب ولې نه چاپ کوو اوس پهٔ اخری ځل بیا لائق شاه صېب ټینګار پرې اوکړو بیا نادار صېب غاړه ورته کېښوده خو دومره ئې ورته اوئیل چې چاپ کوې به ئې ته راته ، محترم در پهٔ خېل صېب هم ښهٔ ورته اوکړل خو مرګ ظالم دے د چا ارمان ته نه ګوری د چا خفګان ته نه ګوری د چا ځوانۍ ته نه ګوری خو خلق د ځان سره وړی دا رنګې نادار

صېب او د نادار صېب کتاب ورنه پاتې شو او جناب محترم لائق شاه صېب ئې د ځان سره بوتلو اوس د څو ورځې وړاندې چې د نادار صېب سره مې ملاقات اوشو بيا نادار صېب راته اوئيل چې زېرے مې درباندې کړمه ما ورته اوئيل چې د څۀ زېرے ؟ بيا نادار صېب وئيل چې زما يو دوست دے د بونير د علاقې استوګن دے احمد جان عقاب صېب ئې نوم دے هغه دا ځل بيا د کتاب چاپ کېدو ته تيار کړم او ټوله منډه تړه ئې پۀ خپل سر قبوله کړه بيا زۀ هم پرې خوشحاله شوم ورته وئيل مې چې دا خو به ډير ښۀ اوشي چې ستا کتاب جوړ شي او دا دعا مې اوکړه چې خدايه پښتنې مئيندې دې نور هم دا رنګې پښتانه زلمي ډېر راوړي. چې د پښتو ژبې او د پښتون مايوسه قام پۀ کار راشي زۀ اوس خپلې خبرې د نادار صېب پۀ يو شعر سره ختموم.

دښمنان دې هم بې طمعې رخصت نه کړل
زار شم ستا د کلي څۀ ښکلي رواج دي

وحيد احمد وحيد مانېروال

# وزیــــرســــــتان یـــو د ے

اوس د څو کالو نه وړاندې فرنګیانو د پښتنو د ماتې د پاره دا خبره پکښې رامخکښې کړه چې دا شمالي وزیرستان د ے او دا جنوبي وزیرستان د ے خو زۀ دا خبره پۀ دعوی سره کووم چې وزیرستان یو وو هم او یو د ے هم او یو به وي هم. لکه څۀ رنګې چې د وزیرستان زرخېزه خاوره پۀ لیندو او نېزو پۀ تورو زغرو کښې مشهوره ده دا رنګې د وزیرستان زرخیزې خاورې زمونږ د ادب دنیا ته ډیرې ښکلی منلې شوی څېرې هم رابخښلې دی ځکه چې پۀ پښتو ژبه کښې د نثر بابا هم د وزیرستان وو له دې نه وړاندې چا پۀ پښتو کښې نثر نه وو لیکلے. او وړمبے کتاب پۀ نثر کښې د بایزید انصاری پیر روښان (خیر البیان) پۀ نامه چاپ شو اوس زۀ دا خبره پۀ دعوه سره کوم چې پۀ پښتو ژبه کښې نثر د وزیرستان د زرخېزې خاورې پېدوار د ے دا رنګې چاچې د پښتو پۀ غزل کښې تصوف ور داخل کړے د ے او چا چې د تصوف معیاری غزلې لیکلی دی هغه هم د وزیرستان د زرخیزې خاورې میر زاخان انصاری صېب او د هغوئ شاګرد دولت لواڼی د ے اوس بـه زۀ دا هـم اووایم چې د پښتو ژبې صوفیانه غزل هم د وزیرستان د زرخیزې خاورې پیداوار د ے دارنګی د څو کالو نه وړاندې چا چې پۀ لړ ژوند کښې د پښتو ژبې ډېر خدمت کړے د ے هغـه هم د وزیرستان د زرخیزې خاورې رشید علی دهقان صېب د ے. دهقان صېب د وزیرستان پۀ اسمان

يو داسې ځلنده ستورے وو چې پلوشې ئې تر پېښوره ان ترټولې پښتونخوا رسېدلې وې. اوس زمونږ د محفل مشر زمونږ د ادب استاد محترم لائق شاه در پۀ خېل صېب چې د پښتو ژبې د پاره کوم کار کړے دے هغه د قدر وړ دے هغه که پۀ نظم کښې دے که پۀ نثر کښې دے که غزل دے که افسانه ده بلکه دا به اووايم چې ادب پۀ يو اديب باندې څومره حق لری لائق شاه درپه خېل صېب هغه ټول ادا کړے دے. خبره اوس د لائق شاه در پۀ خېل د کورنۍ ځوان زلمی شاعر او زما ناخوښ يار محترم نادار در پۀ خېل صېب خوا ته راګرځوم چې ما به ورته له ډېرې مينې نه وئيل چې زما ناخوښۀ ياره بيا به نادار صېب راته وئيل چې ښۀ ګنې خوښ دې نه يم ما به بيا ورته وئيل چې ګوره رحمت الله درد صېب وائی چې:

وائی خو يو څۀ مطلب ئې بل څۀ وی
سترګی د لالی مې شاعرانی دی

بيا به نادار صېب پۀ خندا شو زۀ به اوس د نادار صېب پۀ حقله دا اووايم چې نادار صېب د غزل شاعر دے د ادب پۀ نورو اصنافو ئې ډېره طبع نه ده ازمائيلی خو دومره به اووايم چې نادار صېب پۀ دې دور کښې هغه رنګ غزل ليکی کوم چې درې څلور سوه کاله وړاندې رحمان بابا خوشحال صېب او حميد بابا د کوم خيال غزل ليکلو نادار صېب پۀ دې دور کښې ډېر اوچت شاعر دے ډېره درنه او پخه شاعری کوی. نادار صېب پۀ غزل مئين شاعر دے نادار

صېب غـزل د زړۀ پـۀ مينـه خوښـوی نـادار صـېب غـزل د زړۀ پـۀ مينـه ليکی نادار صېب د غزل سره دومره مينه لری چې د خپلې مينې لـه مخه دا يقين لری چې څومره د غزل سره زمـا مينـه ده دومـره د غـزل هم زما سره مينه ده ځکه خو وائی چې:

هغــه ورځ بــه مــې غــزل ژاړی نـاداره
چې مـې پـاتی شـی جزدان او قلمـدان

نادار صېب پيـدا پـۀ دې دور کښـې دے خـو خيـال او فکـر ئـې د زړو شاعرانو پۀ څېر دے ځکه خو يو بل ځائې کښې وائی چې:

زۀ چې راتلم له مَا نه تلی وه زما زمانه
ملګرو هغه د رحمان او د ميرزا زمانه

د نادار صېب د دې شعر نـه معلومېږی چې نـادار وو د بلـې زمـانې خو پېدا پۀ دې زمانه کښې شوځکه خو ئې هر څۀ دا دې زمـانې نـه بدل ښکاری نادار صېب ډېره پۀ زړۀ پورې شـاعری کـوی څـوک چـې کله نادار صېب ته ګوری بيا د ده شاعری اوګوری بيا ورتـه ګوتـه پـۀ دندان شی نادار صـېب د رومـان نـه عـلاوه د ژونـد پـۀ هـر اړخ ليکـل کړی دی هغه که تصوف دے که حقيقت نګاری ده لنډه دا چې ډېر څۀ به ورنه پاتې نه وی چې نادار صېب پۀ قلـم کښـې راوسـتی نـه وی د مثال پۀ توګه دا يو شعر درته وړاندې کوم. لکه چې وائی

منصــوری مينــې تــه بــه لاس د ملامــت ور اوږد کـړم
چـې د منصـور پـۀ څېـر د دار پـۀ سر حاضـر مـې نکـړی

نادار صېب پۀ دې شعر کښې څومره ښکلے خیال راټینګ کړے دے وائي چې زۀ که د منصور غوندې دار ته او نه رسېدم بیا به دا زما کمزوري نه وي دا ټوله ګرمه ملامتیا به زما د مینې وي بل ځائې وائي چې:

شب و روز مې قال که دروغژن وو خو چې تا وته
کله مخامخ شوم اموخته بیا پۀ ریښتیا شومه

نادار صېب پۀ دې شعر کښې د نمانځه حالت بیان کړے دے انسان چې کله پۀ مانځه اودرېږي هلته بیا الله پاک ته مخامخ شي پۀ دې شعر کښې وائي چې ما شپه او ورځ دروغ وئیل خو چې کله پۀ نمانځه اودرېدم او دا مې اووئیل چې الحمد الله رب العلمین هلته بیا پۀ رښتیا خبرو اموخته شوم. نادار صېب ښکلې تشبیهات نوي استعارات نادر خیالات د لوړې پائې تلمیحات ښکلې توري پۀ غزل کښې ځائے کړي دي. لکه چې وائي:

خوارو ته ژاړمه زۀ هم د بین یامین پۀ شانتې
یوسفي یار پسې سلګۍ مې پۀ بیا بیا رادرومي

په دې شعر کښې ئې څومره ښکلې تلمیح ده.اکثر شاعران پۀ غزل کښې د مجنون ستائینه کوي خو نادار صېب پۀ څو شعرونو کښې پۀ مجنون هم ملامتیا وئیلې ده.لکه چې وائي

د مجنون تېښته مې ځان ته خوښۀ نه شوه
د فرهاد پۀ کار رضا یم ستا پۀ عشق کښې

بل ځائې وائی چې

مجنون زغم اونکړو صحرا ته ورنه اوتښتېدو ما
د لیلـــی غمونـــه اونیـــول پـــهٔ ســـر پـــهٔ ســـترګو

نادار صېب د فرهاد غوندې سر ماتولو ته هم تیار شی خو بیا ئې پهٔ زړهٔ کښې ویره راشی وائی چې

مـا بـه هـم تنـد ے لکـه فرهـاد پـه تیشـه مـات وو خـو
دې څخـه یریـږم چـې ریـا مـې زړهٔ کښـې رانـه شـی

دا رنګې چا چې د نادار صېب نه د ژوند پهٔ حقله تپوس کړے د ے ځومره ښکلې مثالونه ئې ورکړی دی. لکه چې وائی:

چا وئیـل چـې ژونـدون څهٔ د ے مـا وئیـل ګـوره
اب روان او یـــــا د ســـــبوری لنـــــډ دوام

اوس چې څوک دغه شعر ته د انصاف چشمې پهٔ سترګو کړی هله به ئې اووینی چې نادار صېب پهٔ څومره لنډو لفظونو کښې څومره اوږده خبره کړی ده د نادار صېب چې کله د محشر پهٔ لورې فکر شی بیا څومره پهٔ زوره چغه کړی چې:

خوشـــحالی پـــهٔ مـــخ د زمکـــی څـــهٔ پکـــار ده
چـې پـهٔ وړانـدې مـې حسـاب د محشـر پـروت د ے

د نادار صېب چې کوم یو شعر سړے ګوری هغـه بـه د څهٔ معنـې او مطلب نه خالی نه وی کله کله چې نادار صېب د عشق پهٔ حقله خبره

کوی بیا وائی چې که دین دے که دنیا ده دواړه پهٔ عشق کښې دی لکه چې وائی.

افضل عشق د افضل یار چې کوم وګړی ته نصیب شو
پهٔ دنیا کښې هم ملګرو پهٔ عقبی کښې هم افضل شو

بیا چې کله کله یار ته مخاطب شی څهٔ پهٔ ښکلی انداز کښې ورته وائی چې:

هر یو کس مې مشتری شو هر زما پهٔ جستجو شو
چې مې هر څهٔ زیر خاک کړل صرف ستا پهٔ جستجو شوم

د محترم لائق شاه درپه خېل صېب قول دے چې څنې خلق شاعری کوی خو پهٔ شاعری کښې ئې شاعری نه وی خو د نادار صېب پهٔ شاعری کښې شاعری پهٔ چپو چپو ښکاریږی زهٔ هم د لائق شاه در پهٔ خېل صېب د دې خبرې پهٔ سلو کښې سل فیصده ملګرتیا کوم ځکه چې اوس د مثال پهٔ توګه د لاندې شعرونه اوګورئ زهٔ امېد لرم چې تاسو به هم د لائق شاه در پهٔ خېل صېب د دې خبرې ملګرتیا اوکړئ. لکه چې وائی:

دا چې صور اسرافیل وو خو که غږ د بېلتانه وو
هم ممات ورسره راغے هم اتش رابانـدې بل شو
د وصـال پختـه ثمـر ناصـحان ماتـه
پـهٔ قیصـو قیصـو اوومـه کاالغیـات دی
زهٔ چـې سـوال د مینـې اوکـړم د غصـې نـه

چشـــمان دواړه راتـــه ســـره کـــا الغيـــاث دی
لـــه قســـمت څنـــې ئـــې غـــواړم ګنـــی نـــوره
څـه مـې تـوان څـه مـې توفيـق څـه مـې اسـباب
په يو رنګ کښې مې هم رنګ په بل رنګ ما کړی
پـه خپـل رنـګ مـې کـړه الـود واړه رنګونـه
يـا بـه هيـر رانـه پـه صـور اسـرافيل شـې
يـا چـې روح د عزرائيـل پـه لاس کښـې ورکـړم

اوس تاسو په خپل سپين سپيڅلی نظر ورته اوګورئ انشاالله په هر شعر کښې به سپينه ورځ درته ښکاره شی په اخر کښې زه د خپلو خبرو د کمی او بيشی بخښنه غواړم ځکه چې چرته زه او چرته د نادار صيب لوړ خيال ژور فکر په دې کښې د زمکې اسمان غوندې فاصله ده زه اوس زما ناخوښ يار نادار درپه خيل صيب ته او د وزيرستان سترو شاعرانو ته لکه محترم جاويد جان صيب او محترم سيف موملد صيب محترم نصير دلګير صيب او محترم سليم زاهب صيب ته بلکه ټول وزيرستان ته د نادار درپه خيل صيب د «دردانې» په نوم د شعری مجموعې مبارکی وايم:

ستاسو کشر ورور
حليم زاخيلی ضلع نوښار

# خپـــــلې خبـــــرې

زۀ لا ډېر ماشوم ووم چې پۀ زړۀ کښې به راتله چې کاش چې زۀ لوئے شوے بیا الله پاک داسې شاعر رانه جوړ کړے چې پۀ نیزدو سیمه کښې څوک زما ثانی نه وی ما به تهوله ورځ د ځان سره خبرې کولې ما به وئیل که دا غزل وایم او یا سندری وائیم بیا چې لږ لوئے شوم لږ لږ لیکل مې زده کړل بیا به مې د سندرو پۀ نوم خبرې لیکلې. مور ته مې دې الله پاک جنت الفردوس ورکړی هغې به راته وئیل چې بچیه ته دا واړه شپه څۀ لیکې ما به پۀ دروغه ورته وئیل چې مورې د سکول سبق لیکمه بیا به هغه ډیره خوشحاله وه.بیا چې وخت تېر شو لوئے شومه بیا مې هغه خبرې پۀ سندرو بدلې شوې. خو زۀ اوس هم دا نه وایم چې زما شاعری پۀ تول پوره ده یا زۀ شاعر یمه خو چې څۀ مې لیدلی دی یا مې څۀ زړۀ ته راغلی دی هغه مې

لیکلی دی پـهٔ اخـر کښـې زهٔ د بـونیر د علاقـی وزیـر بهـادر مفلـس صیب او جناب محترم احمد جان عقاب صیب او د ضلع نوښار زمـا د قند پهٔ شانې خوږ دوست جنـاب محتـرم حلیم زاخیلـی صـیب او د افغانستان د خوست د علاقې محترم انصـاف بـورې خیـل صـیب او د میرانشاه د علاقې د سترو شاعرانو محتـرم جاویـد جـان صـیب او محترم سیف مومند صیب مولانا صبغت الله راقب صـیب او د وانـا ایجنسی محترم ظفر وزیر صیب او د ضلع صوابی محتـرم تسـکین مـانیروال صـیب محتـرم وحیـد احمـد وحیـد مـانړوال او لائـق زمـان لائق مانیروال صیب ډیر ممنون او مشکور یم پهٔ اخر کښـې یـو ځـل بیا د احمد جان عقاب صیب شکریه ادا کوُم چې زمـا د کتـاب واړه هلې ځلې ئې پهٔ سر واخستې الله دې ئې ښاد او اباد لری.

او خپل محترم استاد ته صرف د مغفرت دعاګانې کوم چې الله پاک دې ورله جنت الفردوس نصیب کړی. امین

نادار در پهٔ خېل (ابوظهبی)

اے زما ربه کریمه
اے رحمانه اے رحیمه
زۀ فاسق دا ستا پۀ فضل
امان غواړم له جحیمه

# حمد شریف

ستا د حسن ثنا خوان واړه شجر
ارض سما وما فیها شام و سحر
ته په خپله لاالــه الاالله ئې
محمد دې دے برحقه پېغمبر
ته له ځایه لم یلد ولم یولد ئې
نه پدر لرې نه ئې د چا پدر
ته رازق ئې د هر چا رزق ضامن ئې
که په بحر کښې میشته دی که په بر
ته ناظر ئې د دنیا د کائناتو
ته خبر ئې په احوال د هر منظر
د رهزنو تاخت تاراج نه په امان شی
چې د کومې قافلې شې ته رهبر
نمرودیانو ئې که هر څومره تلاش کړو
ستا په فضل وو پنهان زوئے د اذر
د تیارو لښکرې اوتښتیدې لاړې
چې راوړاندې دې لښکر کړو د سحر
ما نادار ته بې حسابه فردوس راکړی
په خاطر د خپل حبیب خیر البشر

Pukhto.Net
پښتو

# نعت شريف

چــې شــپه تيــره شــوه ســحر دے
کـــه څرګنـــد مـــخ د دلبـــر دے
تـــاريکی لـــــه جهـــان لاړه
هـــر يـــو ګـــوټ ئـــې منـــور دے

نه ئې تاج دے په سر ایښے
نه په تخت ناست سکندر دے
نه دنیا نه دنیادار دے
نه زردار دے نه زرګر دے
نه ئې ګانه نه ئې هار شته
ښائسته خدائے بې زیور دے
دلته څۀ چې دی ملګرو
دا زما یار سر به سر دے
د صراط په پل ملګرو
د تمام امت رهبر دے
اوس په خپله فکر اوکړه
چې دا څومره زور ور دے
صفتونه ئې لا ډېر دی
خو ما کړے مختصر دے
چې نادار څومره نادار یم
یار مې دومره بختور دے
زۀ نادار ورته زاری کړم
دے له ما نه مرور دے

# دُعـــا

لویــه خدایــه را عطــا تــه قناعــت کــړې
شپه او ورځ مې پهٔ نصیب ستا اطاعت کړې
د پلیتـــو طایفونـــه امـــان راکـــړې
را پـــهٔ برخـــه شـــریفان و شـــرافت کـــړې
بــدې چــارې مــې بــدلې پــهٔ نیکــۍ کــړې
پـــهٔ راحـــت راتـــه بـــدل واړه زحمـــت کـــړې
زهٔ امــی د ســتا پــهٔ در کښــې ملتجــی یــم
تقصیرونه راتــه معــاف پــهٔ خپــل قــدرت کړې
پــهٔ فــردوس کښــې محلونــه درنــه غــواړم
پــهٔ دنیــا مــې هــم د هــر چــا نــه اوچــت کړې
گناهونـــه او عیبونـــه رانـــه دور کـــړې
پهٔ صورت کښې مې موجود فرض سنت کړې
بـد اخـلاق و بـد گفتـار مـې عـادت مـه کـړې
سـتا ثنـا مـې پـهٔ زبـان بانـدې عـادت کـړې
پـــهٔ قـــانون د فرنگیـــانو تـــه لعنـــت شـــه
پـــهٔ وطـــن جـــاری د شـــرعې حکومـــت کـــړې
مـــا نـــادار بانـــدې نظـــر د کـــرم اوکـــړې
هـــر مشـــکل راتـــه اســـان پـــهٔ قیامـــت کـــړې

يار پۀ لار د اغيار تله کا الغيات دے
د زړۀ ګفت کله پۀ خله کا الغياث دے
چې زما پۀ لور راتله کا الغياث دے
پس تنا هغه وخت تله کا الغياث دے
څوک له درڅخه بد رکاندی پۀ ګټهو
څوک پۀ سپين مرِوند اودۀ کا الغياث دے
امتزاج ئې پۀ مزاج کښې د هر رنګ دے
ساعت اور ساعت اوبه کا الغياث دے
د وصال پخته ثمر ناصحان ما ته
پۀ قيصو قيصو اومه کا الغياث دے
ما که هر څو پرې ګمان د وفادار وو
خو خصلت د وفا نه کا الغياث دے
څوک د سرو لبو پۀ مۍ ومينا مست کا
څوک پۀ سرو لمبو پاخه کا الغياث دے
يار چې قيل و قال د غېر پۀ لهجه کاندی
خدائيګو زهر را پۀ خله کا الغياث دے

زۀ چې سوال د مينې اوکړم د غصې نه
چشمان دواړه راته سرۀ کا الغياث دے
زما زړۀ و ځان ته نه ګوري له کبره
هره چاره پۀ خپل زړۀ کا الغياث دے
دا فرياد مې چې دلبر ته نه رسيږي
که غوږونه پرې کاږه کا الغياث دے
پۀ خله ځنګه احتياج خپل ورڅرګند کړم
يار خبری پۀ ليمه کا الغياث دے
اے ناداره د تقدير کارونه ګوره
پۀ چا څۀ که پۀ چا څۀ کا الغياث دے

اے يارانو د دې د هر دا سلوک
انسان کاندي پۀ خپل ځان باندې مشکوک
نهايت به مې د صبر ملا شی ما ته
چې وهی مې د قيصو پۀ درانه سوک


Pukhto.Net پښتو

ځکه نه راځي تر شونډو ستا د ډېر ښائست ستائيني
چې خورې دی په هر لورې د حالاتو تېرې غني
چې ميوې به ئې خوږې وې خار و خنډ ئې نه درلودو
نن تبرونه پورته کړی هر يو کس په هغه ونې
ښه ستم راسره اوکړه هېڅ څه خوف او ويره مه کړه
نه مې هېڅ څوک د تپوس شته نه مې هېڅ څوک د پوښتنې
هر سبا راته سبا کړې هر بېګاه راته بېګاه کړې
څه باور ستا په لوظونو څه باور ستا په ژمنې
ما رښتيا رښتيا ګڼلې اوس رښتيا وربانديې پوئ شوم
ستا قيصې له فريب جوړې ستا قيصې دی دروغژنې
هم مې سر په خپل وخت مات دے هم په دار مې دی خندلی
ته بيا هم بهروسه نه کړې اے زما په عشق شک منې
شاعری ما وته پاتې په مېراث کښې له چا نه ده
تا شاعر تا نغمه زن کړم د يار مينې نغمه زنې
اوس به چا ته داد فرياد کړی اوس به چا وته ګيله کا
چې نادار تاخت و تاراج کړو د اشنا سترګو رهزنې

خپل ښائست چې سپوږمۍ پټ کړو په سحاب
که محبوبې په مخ واچوو نقاب
خدائے خبر چې زما مینه ثوابې ده
که په حشر به تري بیا مومم عذاب
چې په خپل لاس کښې ئې مال و منال نه وی
سود ئې څه دے که پدر ئې وی نواب
تر هغو د دردانو حاجت منند نه یم
چې تر څو لرم د سرو سترګو شهاب
په نادرو دلبرانو کښې نادر ئې
په نایابو دلبرانو کښې نایاب
چې جلوه د خپل جمال ئې ورښکاره کړه
موسی پریوتو بې هوشه او بېتاب
له قسمت څنې ئې غواړم ګنې نوره
څه مې توان څه مې توفیق څه مې اسباب
رب هغه همنشین مې چرته لاړل
چې درلود ئې ښه اخلاق و ښه اداب

Pukhto.Net

لکــه ســیورے چــې مــدام پــهٔ تــګ و دو وی
هســې یــون کــا پــهٔ شــتاب هــر یــو شــباب
چــې چپــې د اباســین مــې پــهٔ ســر یــوړې
پــهٔ ســاحل راتــه بــدل شــوهر ګــرداب
چــې پــهٔ خلــه کښــې ئــې د مینــې حــلاوت وی
ارزو نــه کــه هغــه کــس د مــی نــاب
چې مې ساه صورت کښې وی نو خدائے دې نه کا
چــې دا ســتا لــه مینــې اوکــړم اجتنــاب
پــهٔ چغــار د بلبلانــو بیــدار نــه شــوې
لاتــر اوســه اودهٔ پــروت ئــې پــهٔ ســنجاب
چــې کــرم د پــاک مــولانــه وی نــاداره
خــلاص بــه نــه شــې پــهٔ حســاب او پــهٔ کتــاب

بــې حقــی مــې جودانــه قــدرې نــه لګــی
حق دی سر کــه سرړے مات کړی پهٔ خپل حق
مــا د مــور پښــتنه غیــره کښــې ملګــرو
ماشــومتوب کښــې وو زده کــړے دا ســبق

چې شیدا شوم ستا په جاه و په جلال
رانه هېر شو هر جمیل و هر جمال

دروغژن یم ستا د عشق رښتوني نه یم
چې تر اوسه مې باقي دی سر و مال

ربه ته که بې زواله کمال راکړې
ګني دلته هر کمال لري زوال

په نازک زړه مې هم داغ ورسره جوړ شو
تا چې کېښودو په غونډه زنه خال

حرام خور وته ئې هیڅ تفاوت نه وي
د حلالو قدر پېژني حلال

دښو برخه اسماني دی نه ملګرو
چې موندله شي په جنګ و په جنجال

د یثرب لویه سرداره ستا له رویه
صدقه شه زما آل زما عیال

کاهلۍ هسې زنار کړو راپه غاړه
چې د ورځې چار مې تېره شي تر کال

ستا د یاد ډیوې مې بلې دي په زړه کښې
حاجت نه لرم د څراغ و د مشال

Pukhto.Net

نابینا سترګی به زۀ هم ښې پرې مړم
که چا راوړو د یوسف د لاس رومال
چې صحبت و اخوت له غېرو غواړې
ګویا غواړی د شیشو په دکان لال
په تاثیر ئې خدایګو هېڅ هم نه پوهېږم
راته ښکاری پوچ در پوچ د ناصح قال
د خلې خوند مې د اخلاص په سبب تریخ دے
نور مې څۀ پوښتې له حال او له احوال
په اشعارو کښې شېوا د لائق شاه نه
دریه خېلو کښې څوک نه لرمه سیال
چې احسان دې همېش یاد لری ناداره
ور په سر کړه د ادب ناوې له شال

ته زما په ډېر خلوص چې اشتباه کړې
وایه وایه اوس په کوم چا به ویساه کړې
چې په یو مخ ښې ئې سل رنګونه ښکاری
اوس به کوم یو کس نیک خواه کوم به بد خواه کړې

Pukhto.Net پښتو

ستا د ناز نخرو خبري
ګوهرونه ملغلري
نبات هم ورته عاجز دے
هم قندونه هم شکري
ته خو شرويه خوشنما ئې
خوش اخلاقه باحيا ئې
د جهان په مخ دلبره
په خوبانو کښې يکتا ئې
سپين رخسار دې افتابی دے
محبت دې ثوابی دے
د دروغو قيصه نه ده
دا خبر خو کتابی دے
تورې سترګی دې لېندې دی
چې د چا په لور اوږدې دی
په ژوندون باندې ئې شوې
څو څو ځله جنازې دی
تورې زلفې دې مارونه
په عشاقو کړی وارونه
چې هر څوک ئې دی وهلی
بيا به وانخلی ګامونه
قد قامت لرې د سروې

شان شوکت لرې د سروې
له خزانه بې پروا ئې
توان طاقت لرې د سروې
ستا جمال دے بې زواله
خالی نه دے له کماله
چې درځیر شم وشرمېږم
ستا له جاه و له جلاله
دچندنو دې لاسونه
دردانې دې سپین غابښونه
ستا تعریف به پوره نه کړم
که ترې جوړ کړم کتابونه
زۀ پۀ تا باندې شېدا یم
له هر څۀ نه بې پروا یم
ته چې هر څۀ هر څۀ وائې
زۀ د ستا یم تا به ستایم
که ستم دے که وفا ده
که کرم دے که جفا ده
هر څۀ ما وته منظور دی
که جزا ده که سزا ده

د حاکمانو په دربار ځکه محکوم غونډې یم
چې په معلومه زمانه کښې نامعلوم غونډې یم
لکه عنقا چې نام ئې شته و نور ئې هېڅ هم نشته
زۀ هم د یار په خیال کښې دا رنګې یو نوم غونډې یم
مجنون ساکن شو د صحرا او منصور چغې اوکړې
رښتیا به وائې چې په دغو کښې د کوم غونډې یم
کله چې خیال اوکړم په زړۀ کښې ځان حاتم اوګڼم
کله بیا وایمه چې زۀ هم لړه شوم غونډې یم
دومره پاخه پاخه داغونه په زړۀ مه راکوه
لاخو اشنا په وجود پوخ نه یمه اوم غونډې یم
کوم خواه چې ګورم د حالاتو تور تمونه جوړ دی
د ژوندانه په اوږده لاره ډېر مغموم غونډې یم
په بې روخې کښې مې د مخ په لمبو ویلې نه کړې
زۀ خو د واورې په مثال یمه د موم غونډې یم
چا وته خوږ یمه د شهد او د شکرو په څېر
چا وته تریخ لکه د زهرو د زقوم غونډې یم
د سر ویښته مې ځائې په ځائې ملګرو سپین ښکاره شول
نادار لا بیا هم ځان ته وایم چې ماشوم غونډې یم

کلــــه هــــائ او کلــــه هــــوئ کلــــه ژړا
ستا پـهٔ عشق کښې چې راپېښ دی رب پـهٔ ما
د چشــمانو رڼــو اوښــکو تــه چــې ګــورم
هــــو بهــــو دی ګوهرونــــه د دریــــا
شــپه مــې تېــره پــهٔ لټــون لکــه شــبنم کــړه
د ګــل غېــږه کښــې اودهٔ شــوم پــهٔ ســبا
عشــق مــې دومــره ســتا د مینــې احتــرام کــا
چــې ګیلــه مــې پــهٔ خلــه نــه راځــی لــه تــا
یعقــوبی ســترګې مــې هغــه یوسـف غــواړی
چــې د زړهٔ کنعــان زمــا وو پــرې رڼــا
یــو تــه نــا چــې بــې وفــا او بــې بقــا ئــې
دنیــا واړه بــې وفــادی بــې بقــا
چــا چــې درد د خپــل بــدن لیــدلې نــه وی
څــهٔ پــوهیږی د درد منــدو پــهٔ دوا
راشــه نــن پــهٔ نــن چــې روغــه ســره اوکــړو
نــه بــه بیــا تــه نــه بــه زهٔ وایــم انــا
دا چــې هــر ســاعت پــهٔ ســپینو جــامو ګــرځم
دا دعــا مــې د ادې او د بابــا

نـه تېـر وخـت پـهٔ بېرتـه بيـا راسـتنيدې شـی
نــه مونــدېږی ورک يــاران پــهٔ بېرتــه بيــا
سـتا د لــب زمــا د نـم پـهٔ رنـګ الــود دی
واړه تــــوری د غــــزل مــــې دلربــــا
چې اغـاز ئـې سـتا د عشـق پـهٔ مضـمون وشـی
د لپـــذير وی د لپســـــند هغــــه وينــــا
اے نــاداره لکــه يــک تنهــا چــې راغلــې
لــه دنيــا بــه دروـــی هســـې يــک تنهــا

چـې د حيـات لــه خونـده بيـا خبـر شـی
پــهٔ هغــه شــان کـړې بيـا مقـيم زاخيلـی
د مـرګ پـهٔ خلـه کښـې بـه تـر کومـه پـروت وی
الهـــی روغ مـــې کـــړې حلـــيم زاخيلـــی

Pukhto.Net
پښتو

مشـــوره د الفـــت هســـې چـــا راكـــړي
چـــې نـــن وارہ عاشـــقانو تـــه مشـــير يـــم
نـــه بـــې تانـــه بـــل مـــرام لـــرم پـــهٔ ژونـــد كښـــې
نـــه بـــې تانـــه د بـــل چـــا د عشـــق اسـير يـــم
چـــې ګـــذار د بيلتانـــه دې پـــهٔ زړهٔ راكـــړو
وايـــه وايـــه زهٔ مجـــرم پـــهٔ كـــوم تقصـــير يـــم

سـتر ګه ور راتــه پــهٔ ســمو ســتر ګو ګــوری
بــاک ئــې نشـــته کــه رنــدو وتــه حقیــر یــم
ګذارونــه لــه هــر خــوا رابانــدې کیـــږی
نــه پــوهیږم چــې ,,تــو چــی□□ یــم کــه کشــمیر یــم
تــه طفلانــو تــه ښــهٔ بــد ښــایه ناصــحه
زهٔ د عشــق پــهٔ مقــدس جمــات کښــې پیــر یــم
امیرانــو تــه مــې طمــع اســره نشـــته
پــهٔ جامــه د فقیــرۍ کښــې لــوئے امیــریم
هــر تــدبیر مــې ئــې د ژونــد کــه خاکســتر کــړو
بیــا هــم زهٔ شــکر ګــذار پــهٔ خپــل تقــدیر یــم
د زړګــی پــهٔ بــالاکوټ مــې ســتا د هجــر
زلزلــې راغلــې اشــنا څکــه پــهٔ ویــر یــم
لاس مــې اونیســه پــهٔ لاس کښــې ګنــې ډوب شــوم
لاهـــو شـــوې د حـــالاتو پـــهٔ غـــدیر یـــم
خــدائے شــیدا پــهٔ بــې نظیــره محبوبــه کــړم
پــهٔ عشــاقو کښــې نــن څکــه بــې نظیــر یــم
مــا خپــل ځــان یــار تــه بخښــلې دے نــاداره
څکــه ځــان وتــه د یــار پــهٔ ســتر ګو ځیــر یــم

ستا د عشق کسب فيض نه لری زياني
محمود هم پکښې بائلودې سلطاني
مجنون هم له چا پهٔ زور اخستی نه وه
د عشق برخه ده ملګرو اسماني
د مغرب د واکدارانو له کبله
پهٔ عجم کښې جوړه شوه ورانه وراني
چې پدر د حکماو لقمان ولاړو
هر لقمان څکه نن جوړه لقماني
تا که غشی د ستم راته تيار کړل
ما اغوستی درته زغره ميداني

پـهٔ مـذهب د مشـرکانو مـې خـدائے مـه کـړه
عقيــــــده زمـــــا د زړهٔ ســـــلېماني
نـور پـهٔ هـر ځيـز کښـې مـې حق د تربـور شـته دې
يـــــوه مينــــه د دلبــــر زمـــا ځـــاني
ستـا پــهٔ عشــق کښــې ستـا د هجـر لــه کبلــه
شـــــوه ملګــــرى راســــره ســـرګرداني
دا پــهٔ لاس کښـــې دې د ســـرو ګلـــو ګيـــډۍ ده
کــــه پـــهٔ وينـــو ســـور ســـالو د افغـــاني
بيـا هـم ځـائے پـهٔ ځـائے خـواران پکښـې اوسيږى
در پـــهٔ خپلـــو کښـــې کـــه ځـــو ده ودانـــي
پــهٔ خپلـوۍ د نــا اهلانــو چــې غلــط شــوې
اے نـــادراه دا دې خپلــــه نـــاداني

نــه پــوهيږم نــه پــوهيږم زهٔ چــې خپلــو يلغــار اوکـړو
کـه د زړهٔ پـهٔ پښـتو نخـوا مـې بيـا مغلـو يلغـار اوکـړو
د ســتم تيــره تبرونــه هــر ســړى پـهٔ لاس کښــې راوړل
پـهٔ نامـه د خـارو خنـډ ئـې پـهٔ سـرو ګلـو يلغـار اوکـړو

نــه مــراد شــوم نــه مريــد شــوم
نــه قريــب شــوم نــه بعيــد شــوم
نــه حســين زوئــے د حيــدر شــوم
نــــه خالـــد بـــن وليـــد شـــوم
نــه مــې ســر د دښــمن مــات كــړو
نــه زۀ خپــل پــۀ ســر شــهيد شــوم
نــه پــۀ مــی و مينــا مســت شــوم
نــه ســيد او نــه ســعيد شــوم
نــه تقــوا لــرم پــۀ ژونــد كښــې
نــه محكــم ســتا پــۀ توحيــد شــوم
نــه ګــدا ســتا د دربــار شــوم
نــه ســلطان هــارون رشــيد شــوم
چــې مــې مــخ د جهــان اوليــد
پښــېمان پــۀ خپــل توليــد شــوم
انتهـــا مـــې ابتـــدا شـــوه
چــې قــديم شــوم اوس جديــد شــوم
نــه فريــب راڅخــه جــوړ شــو
نــه نــادار خلقــو فريــد شــوم

چې دا ستا پـهٔ نـاز ادا بانـدې مئـین شـوم
پـهٔ فریـاد او پـهٔ غوغـا بانـدې مئـین شـوم
مـا طلـب د خوشـنودۍ کـړو خـو ملګـرو
پـهٔ ژړا او پـهٔ هـا هـا بانـدې مئـین شـوم
کـه همـه عمـر مـې تېـر کـړو پـهٔ ظلمت کښـې
خو بیـا هم پـهٔ سپین سبا بانـدې مئـین شـوم
یـو ویښـتـه ئـې د وفـا پـهٔ بـدن نشـتـه
څـهٔ پـهٔ داسـې بـې وفـا بانـدې مئـین شـوم
لـه خپـل ځـان نـه نـا اشـنا ورېسـې ګـرځم
چې پـهٔ هغـه یـار اشـنا بانـدې مئـین شـوم
بـدرنګۍ مـې اوس پـهٔ هېڅـا پېـروز نشـی
چې د ښـکلو پـهٔ ښـکلا بانـدې مئـین شـوم
تبسـم مـې پسـې ورک د تشـنه لـب شـو
چې د ګـل لـب پـهٔ خنـدا بانـدې مئـین شـوم
زهٔ چـې ځـان و جانـان اوګـورم بیـا وایـم
چې پـهٔ سـتوری د سـما بانـدې مئـین شـوم
تقـدیر څـهٔ د تعجـب کارونـه کانـدې
دروغـژن ووم پـهٔ رښـتیا بانـدې مئـین شـوم
د لیلـی سـره مـې عشـق د مجنـون راغـے
نـادار ځکـه پـهٔ صـحرا بانـدې مئـین شـوم

Pukhto.Net
پښتو

د خپل ځان نه خبر نه يم
چې زۀ څۀ يم او څۀ نه يم
د حالاتو پۀ تيارو کښې
لا تر اوسه پروت اودۀ يم
ستا د عشق پۀ جوارى کښې
نه پۀ ځان او نه پۀ زړۀ يم
د مجنون پۀ لاره يون کړم
نن دلې سبا پۀ غرۀ يم

نـــن پـــهٔ دې ژونـــدی مـــاحول کښـــې
زهٔ پـــهٔ شـــان لکـــه د مـــړه يـــم
نـــه پـــوهېږم يـــار مـــې بيـــل دی
خـــو کـــه بيـــل ورځنـــی زهٔ يـــم
څـــومره ډېـــر چـــې پکښـــې خـــوښ يـــم
هـــومره تنـــګ پـــهٔ ژوندانـــه يـــم
ګفـــت مـــې نـــه راځـــی تـــر لبـــو
لال زبانـــه چيـــه خلـــه يـــم
راشـــه ځـــان پکښـــې اوګـــوره
د تـــوچی د ســـيند اوبـــه يـــم
دل ســـوخته ودل ســـتی شـــوم
خـــو پـــهٔ خلـــه وايـــم چـــې ښـــهٔ يـــم
منتظـــر ســـتا د کـــرم يـــم
منتظـــر ســـتا د راتلـــه يـــم
تـــه واکمـــن د کـــل اختيـــار ئـــې
زهٔ د ســـتا تـــر مخـــه څـــهٔ يـــم
يعقـــوبې وســـواس مـــې مـــل دے
ناســـت پـــهٔ شـــانې د ړانـــده يـــم
کـــه نـــادار پـــهٔ صـــورت ســـپک يـــم
حســـاب شـــوے پـــهٔ درانـــه يـــم

Pukhto.Net پښتو

لکه چغې فریادونه کا جرس
هسې ستا له غمه اوسی هر یو کس
چې د زړۀ پۀ اصفهان کښې مې میشته وو
نن مې اولېد هغه یار پۀ مودو پس
وسوسې له احتیاطه وسواس اومونده
احتیاطه کښې هزار چنده کاوسوس
یار هغه دے که له وس ئې پوره نه وی
چې د کار پۀ وخت کښې غل نکړی خپل وس
ما د هجر پۀ چینه د عشق نمانځه ته
مازیگر کښې شبخه کړے دے اودس
د مالیار بوستان به هغه ساعت مومې
کوم ساعت چې له ځان جوړ کړې خاروخس
پۀ خپل ځان باندې به څۀ تنگ غیرت اوکړې
چې ئې نه وی تنګ غیرت پۀ خپل اولس
د احسان له خوږو هغه څوک بهتر دے
چې له خاورو څخه ډک کاندی خپل نس
چې خرقه د قناعت چا ته نصیب شی
ارزو نه کا دبخمل او د اطلس
اے نادارہ د اشعار پۀ برکت دې
ستا څۀ ، خلق احترام کا د انس*

* انس ، زما ماشوم زوئے

چې د ژوندون هر یو مرام وی پکښې
پهٔ داسې در داسې دیار اوسیږه
رهزن د خضر پهٔ جامو کښې گرځی
خطا دې نه کړی ښهٔ هوښیار اوسیږه
د عمر لاره لنډه تنگه ښکاری
پهٔ هر یو گام باندې پهٔ دار اوسیږه
اے د یار غمه رانه ورک چې نه شې
تل مې د زړهٔ پهٔ اوږو بار اوسیږه
پهٔ شوم طالع دومره باور نه لرم
چې یا پنهان شه یا پهٔ جار اوسیږه
شرار د مینې زړهٔ کښې پټ اوساته
صدا چې اونکړې قرار اوسیږه
د تنگیالیو د میدان پهٔ خاطر
تل صدقه و تل ایثار اوسیږه
سپیره بادونه د خزان که راشی
ځان پرې وچ نه کړې سبزه زار اوسیږه

پـهٔ سـوال منـت عشـق بلنـدى، تـه رسـى
ځـان ملتجـى کـړه منـت بـار اوسـيږه
تـش پـهٔ کتـو چـې ئـې زر کيـږى خـاورې
د هغـو ښـکلو پـهٔ دربـار اوسـيږه
شـونډې چـې تـا د انـاالحق غوښـتلې
اوس د منصـور غونـدې پـهٔ دار اوسـيږه
د خپـل غربـت او مفلسـى، پـهٔ ورځـو
نـاداره تـل شـکر ګـزار اوسـيږه

شـاهانه کسـان ارزو کانـدي د تخـت
زهٔ فقيـر يـم رب تـه خواسـت کـوم د بخـت
مـا پـهٔ خـوارو سـترګو مـه ګـوره کـه خـوار يـم
دا خـو وخـت دے چـې بـدليږى وخـت پـهٔ وخـت

چې د هر سړی غمخوار شو زما عمر
پهٔ غمو کښې ګرفتار شو زما عمر
سزا راکړه سزا وار شو زما عمر
چې ورګډ پهٔ دې بازار شو زما عمر
چې نعره د اناالحق ئې پهٔ خله راغله
د منصور پهٔ څېر پهٔ دار شو زما عمر
ما د خوارو ازار هم اغستې نه وو
خو چې ولې خوارو زار شو زما عمر
د دنیا طلب ئې پریښود پهٔ دنیا کښې
ستا د سپین مخ طلبګار شو زما عمر
نه ئې یو ساعت زما پهٔ رضا تېر کړو
نه یودم راته ایسار شو زما عمر

د جرس ندا ئې اورم ليده نه شي
چې روان په کومه لار شو زما عمر
چا د سرو ګلو اميل ورځنې جوړ کړو
چا ته خس و چا ته خار شو زما عمر
يو مثقال وفا دې بيا هم اختيار نه کړه
که سل ځله درنه زار شو زما عمر
هر راحت ئې په زحمت باندې بدل شو
چې له تا نه دور کنار شو زما عمر
ګناهونه ئې چې غرونه غرونه جوړ شول
اوس د رحم اميدوار شو زما عمر
وخت چې تېر شي بېرته کله راستنيږي
چې په تېر وخت توبه ګار شو زما عمر
په رفتن د ښو يارانو چې اګاه شو
په چغار او په کوکار شو زما عمر
سبا ئې مې دډېر عمر دعا اوکړه
اوس په ما باندې انبار شو زما عمر
د شانه سره راپرېوتو په زمکه
ستا د زلفو هغه تار شو زما عمر
اے ناداره ناداران پرې تعجب کا
داسې خوار داسې نادار شو زما عمر

نه مې اولید ستا د سپین مخ سحرونه
نه مې اولید ستا د زلفو ماښامونه
په لېمو کښې مې رنګونه شفقي شول
رانه غواړي ستا د حسن افتابونه
په يو رنګ کښې مې هم رنګ په بل رنګ مه کړې
په خپل رنګ مې کړه الود واړه رنګونه
يرغلونه مې د زړۀ په اقليم کاندي
ستا د مينې د ماضي ښکلي وختونه
اے زما د زړۀ طبيبه راته راشه
بې له تا نه مې څوک نه کړي ملهمونه
هيڅ طفيل نشته چې ژوند د طفلۍ راشي
که هر څو ورپسې مروړمه لاسونه
شهيداني مې توبې د مُل اياغ شوې
چې مې واړول په سر کڼ شمېر جامونه
ته خبر په حال د چاه يوسف نه ئې
ورونړو اوکړل په خپل ورور څنګه کارونه
د زما پُر آب لېمو نه ويره اوکړه
شب و روز چې تري راځي اوښکې رودونه
هر زمان ورته له خدايه امان غواړم
مړاوې مه شه د توچې د باغ ګلونه
تعجب دې نن ماتيږي په تبرونو

Pukhto.Net

دبـــــار دارو میـــــوه دار شـــــجر ښـــــاخونه
ادمیـــــت د ادم زاد نـــــه هلـــــه لاړ شـــــی
چـــې اختیـــار کـــړی د مغـــرب د خـــاک خویونـــه
اقتـــدا کـــړه د یثـــرب پـــهٔ مقتـــدا کښـــې
چـــې زیبـــا دې شـــی پـــرې دواړه جهانونـــه
روښـــنائې د انجمـــن دې کـــه پکـــار وی
لکـــه شـــمع پـــهٔ ســـر بـــل کـــړه ســـره اورونـــه
مســـجدونه مـــې پرانســـتې دروازې دی
ځـــوک بـــلال نشـــته چـــې اوکـــړی اذانونـــه
کـــج مژګـــان کـــج ابرویـــان درازې زلفـــې
لکـــه مـــار مـــې پـــهٔ زړګـــی کانـــدی وارونـــه
نهایـــت بـــه ئـــې قیـــام پـــهٔ ســـر د دار وی
ځـــوک چـــې فـــاش کانـــدی د عشـــق پنهـــان رازونـــه
ســـتا دیـــدن یـــاره ګنـــاه ده ثـــواب نـــه دے
کـــه پـــهٔ مـــا دې پېرزونـــه دی ثوابونـــه
ســـتا د عشـــق لـــه کاروبـــاره پـــهٔ دنیـــا کښـــې
ټـــول نـــابود دی بهبـــود نـــه کانـــدی کارونـــه
حیـــات ځـــهٔ ممـــات تـــرې غـــوره دے نـــاداره
چـــې پـــهٔ پښـــو کښـــې دې شـــرنګا کـــړی زنځیرونـــه

چــې زخمــې شــې ســتا د مینــې پــهٔ حســام
هغــه کــس شــې ګــل وریــن او ګــل انــدام
د ګلشــن حاجــت بــه هــر ګــز پــاتې نشــې
کــه مــې اولیــد یــو نظــر هغــه ګلفــام
چــا وئیــل چــې ژونــدون څــهٔ وی ماویــل ګــوره
آب روان او یــــاد ســــیوری لنــــډ دوام
څوک مجنون څوک ئې فرهاد څوک ئې منصور کړو
عشــق کــه یــو دے خــو جــدا لــری اقســام
لــه هغــو نــه بــل حــرام پــهٔ جهــان نشــته
چــې حــلال فرزنــد څــوک لــوئے کــا پــهٔ حــرام
ســترګې روښــې کــړه د ځــان پــهٔ لــورې ځیــر شــه
فرښــتو نــه هــم بــالا دے ســتا مقــام
پــهٔ تســبیح کښــې د خــدائے هــر رنګــې ارام شــته
نــور حــرام شــه کــه دې اومونــدو ارام

پـــهٔ اشـــعارو مـــې خـــدائے هســـې برکـــت کـــړه
چـــې قبـــول شـــی پـــهٔ مـــزاج د خـــاص و عـــام
د نیـــک نـــامو یارانـــه بـــه دې نیـــک نـــام کـــړی
د بـــــدانو ســـــره شـــــی ســـــړے بـــــدنام
ګلګـــون لـــب ســـفید رخســـار و ســـیاه زلفـــې
ســـتا لـــــه مخـــه خوښـــوم دغـــه تمـــام
یـــار خـــو یـــار تـــه دعاګـــانې د خېـــر غـــواړی
تـــه کـــړې مـــا تـــه ازارونـــه هـــر مـــدام
ژغـــوره ځـــان لـــه کـــج زبانـــه هســـې ښـــکاری
لکـــه تـــوره چـــاوی ایښـــی پـــهٔ نیـــام
ســـتا رضـــا زمـــا د ژونـــد هغـــه ارزو ده
چـــې ئـــې غـــواړم پـــهٔ ســـجود او پـــهٔ قیـــام
محتـــرم بـــه تـــرابـــده خـــدائیګو نـــه شـــی
څـــو چـــې او نـــه کـــړی د نـــورو احتـــرام
د غیـــرت تـــاریخ ئـــې واړه را معلـــوم دے
ځکـــه نـــاز کـــړم پـــهٔ خپـــل کلـــی او خپـــل قـــام
چـــې پـــهٔ ســـر د اســـلام ســـر مـــاتوې نـــه شـــی
تـــو لعنـــت ئـــې پـــهٔ ایمـــان شـــه پـــهٔ اســـلام
غـــم ښـــادي کـــوم چـــا لیـــدلی پـــهٔ یـــو ځـــائے دی
چرتـــه عشـــق چرتـــه ملګـــرو ننـــګ و نـــام
ســـپین جبـــین دې رانـــه پـــټ شـــو څـــهٔ ســـبب دے

که راخور شو پرې د زلفو تور ماښام
د واعظ پهٔ وعظ نه غولېږم ياره
دا ستا اسم مې پهٔ خله دې ګام پهٔ ګام
تعجب مينه راحت دې که زحمت دې
چې محمود ئې د اياز کړلو غلام
نه خوشبو د ګلاب بيا بېرته راګرځي
نه راګرځي تېر ايام و تير هنګام
پهٔ عمل او پهٔ کردار که خالص نه يم
خو راتګ د غزل شمېرم يو الهام
د فردوس د کوثر جام به ئې نصيب شي
چې نوشلي وي چا ستا د مينې جام
چې غزل د خوار نادار ئې د پسندوي
خلقو وايم زهٔ هغو ته سلام

اے صوفي اوکړه صوفيانه خبرې
دمستو مستو مستانه خبرې
د ديوانګانو ديوانه محفل کښې
فرض پهٔ تا د فرزانه خبرې

Pukhto.Net

چـــې مئـــين د ســـتا پـــۀ نـــاز شـــوم
لـــه هـــر څـــۀ نـــه بـــې نيـــاز شـــوم
خـــوار منصـــور ئـــې چـــې پـــۀ دار کـــړو
هغـــــه غـــــږ هغـــــه اواز شـــــوم
ســـــتا د عشـــــق لـــــه برکتـــــه
ســپين کــوتتر شــوم نــه چــې بــاز شــوم
د تقـــــدير چـــــارو تـــــه ګـــــوره
تـــه محمـــود زۀ دې ايـــاز شـــوم
د خورشـــيد خـــوئ مـــې اونکـــړو
لـــه هـــر چـــا نـــه مخفـــي راز شـــوم
زړۀ وځـــان مـــې دواړه بائيلـــل
هســـې رنګـــې قمـــار بـــاز شـــوم
د ســـازونو امتـــزاج شـــوم
ســـاز چـــې ســـتا د عشـــق لـــه ســـاز شـــوم
پـــۀ تـــولی کښـــې د عشـــاقو
ســـر بلنـــد و ســـر فـــراز شـــوم
زړۀ مـــې غـــوڅ کـــړی او بيـــا ژاړی
پـــۀ خـــوی بـــوی ملګـــرو پيـــاز شـــوم
پـــۀ لټـــون د ليلـــی ګـــرځم
زۀ نـــادار د غـــرو شـــهباز شـــوم

ځوک چې خاورې ایرې نه کاندي خپل ځان
ناروا شه که ئې اوموندو جانان
شب خیزي د کامل عشق له مخه کیږي
نه چې کیږي په ګفتار و په زبان
پانې پانې مې زړهٔ ستا په ګفتګو شو
که ړلی راغله د ګلو په بوستان
قانع زړهٔ مې خدائے تر هغې طامع مه کړه
چې تر څو مې دم باقي وي په جهان
د کراماً کاتبین په لوړې ځیر شه
ښهٔ و بد دې همه لیکي هر زمان
د وصال د نورستان په امیدونو
شپې اوباسم د فراق په کفرستان
عشوه ساز یار مې له حاله خبر نه دے
که مې دے پسې د اوښکو جوړ باران
دا وسواس بیهوده بویه که دانا ئې
هر څهٔ اوسپاره کرم ته د سبحان
ندامت راځنې نه کیږي ناصحه
که مې لاړ شي په دې لار سر و سامان

د مهتاب پۀ دود پۀ تورو شپو څرګند شه
افتاب مه شي چې دې شام کاندی پنهان
ملائک به ئې ثنا پۀ سما کاندي
که څوک شو د نورین حسن ثنا خوان
هيڅ څۀ طمع امېد مه کړه چې مونده شی
پۀ دکان د شیشو ګرو در مرجان
توري زلفې دې ماران دی پرې پېره کا
مې ګون لب دې یاره لال د بدخشان
دا زما د خوش بختۍ لوئے علامت دے
چې پۀ خپله شوم د خپل درد ترجمان
د څراغو حاجت خدایه راته مه کړې
د زړۀ کور مې کړې پۀ مخ د یار روښان
فراسیت مې فرحتونه زیر خاک کړل
ځان ته پاتې ناله ګیر پۀ هائے سوران
زۀ به مړ یم خو غزل به مې ژوندے وی
وی به لوئے زمونږ د کلي ماشومان
دا زما پۀ دردناک ژوند به حېرانی کړی
چې ئې څنګه تیروو وخت پۀ جهان
هغه ورځ به مې غزل ژاړی نادار
چې مې پاتې شی جزدان و قلمدان

که هر څومره درپهٔ در شو زما عمر
خو د تورو شپو سحر شو زما عمر
پهٔ اتش چې د زرګر اشنا ستی شو
ځکه سیم شو او سره زر شو زما عمر
چا چې لاره د منزل لیدلی نه وه
د هغو خلقو رهبر شو زما عمر
سر تر پایه شیفقي رنګو الود دی
پهٔ الماس د عشق پرهر شو زما عمر
کله کله ئې اینځر و انګور شمېرم
کله وایم چې کیکر شو زما عمر
هنر مند وګړی فیض ځنې حاصل کا
بې هنر ته بارپه سر شو زما عمر
ستا د سپین جلوه ګر مخ له برکته
څومره سپین و جلوه ګر شو زما عمر
چې پهٔ تا پسې له ځانه نا خبر شو
اوس له خپل ځان نه خبر شو زما عمر

Pukhto.Net

پــهٔ وعــدو ســتا د راتلــو بــه څــهٔ بــاور کــړی
چــې پــهٔ خپــل ځــان بــې بــاور شــو زمــا عمــر
د عصـــا محتاجـــه لاس وتـــه عصـــا شـــو
د رنـــدو ســـترګو نظـــر شـــو زمـــا عمـــر
جـــولۍ ډکـــــه ګرځـــوم د دردانونـــــه
هفـــت کشـــور د ســـکندر شـــو زمـــا عمـــر
یارانـــه د بختـــورو مـــې چـــې اوکـــړه
پــهٔ څـــو چنـــده بختـــور شـــو زمـــا عمـــر
لکـــه رپ د ســـترګو اوګـــوره نـــاداره
دومـــره لنـــډ و مختصـــر شـــو زمـــا عمـــر

چــې ئــې زهٔ ســتا پــهٔ درشــل یــم راویســتلے
خپــل مضــمون او خپــل غــزل یــم راویســتلے
زاخیلـــی یـــاره نـــادار درتـــه راتلـــم نـــه
خـــو ســـتی ګوګـــل یـــم راویســـتلے

نن که زرداران سیم و زر پورې لاس اونیول
ما ورته ملګرو په دلبر پورې لاس اونیول
نن د ستمونو ظلمتونو کښې چې ګورمه
واړه مظلومانو په محشر پورې لاس اونیول
ما درته د امن سپین سالو په ځان راخور کړلو
تا راته په جنګ او په سنګر پورې لاس اونیول
نور د محبت د امتحان انتها څنګه وی
دا چې تا په غر زما په سر پورې لاس اونیول
خوند چې د تور مخو ماښامونو ور معلوم شولو
ځکه ښاپیرک په سپین سحر پورې لاس اونیول
چغې د منصور مې کړی نه دی خو قاضی صیب!
تش مې ستا په لور په یو نظر پورې لاس اونیول
ډیر مې ورته اووئیل چې زهٔ ښاخ د اینځرانو یم
دې راته کیکر او په نښتر پورې لاس اونیول
څوک ئې کړو مفتی څوک فلسفی څوک ئې شاعر کړلو
هر یو هنر مند په خپل هنرپورې لاس اونیول
خدائے کړو شل وشول د بل په درځکه تر مرګه خو
ستا نادار اشنا دا ستا په در پورې لاس اونیول

که پهٔ خنجرو پهٔ نېزو مړ شوم
خو پهٔ اسلام او پهٔ پښتو مړ شوم
لکه حسين د کربلا پهٔ دښتو
پهٔ لاس د خپلو او پردو مړ شوم
دعوه ګير ځکه د فردوس يمه زهٔ
چې ووم رکوع ته پهٔ لويدو مړ شوم
شکر پهٔ بل تدبيرئې مړاوې نه کړم
شعله زن اور وم پهٔ اوبو مړ شوم
که مړ پهٔ زهرو وے خفه به نه ووم
خفه پهٔ دې چې پهٔ خوږو مړ شوم
نور مې څهٔ قتل قتال کړے نه دے
تش پهٔ الفاظ د الاهو مړ شوم
د ځان د سود د پاره مړ نه يمه
پهٔ سود د خپلو او پردو مړ شوم
رنګ به مې ولې سوے سکور نه ښکاری
لکه پتنګ پهٔ سرو لمبو مړ شوم
څهٔ پهٔ تهمت و الزام مړ نه شومه
پهٔ حق پرسته ګفتګو مړ شوم
ناداره داسې مرګ ته مرګ نه وايم
چې د بوستان پهٔ سرو غنچو مړ شوم



PukhtoNet پښتو

چې له تا څخه جدا یم
شب و روز په واویلا یم
د جرس په دود مې ژوند دے
په هائے هائے و په غوغا یم
ستا د لبو له کبله
ارزو مند د مې مینا یم
د حالاتو په تورتم کښې
روڼ ساعت د سپین سبا یم
زۀ د سر په ماتولو
د فرهاد په څېر رضا یم
چې ئې سیورے د سر نشته
د هغو د سر سایه یم
که په خپله سر تر پایه
د پتنګ په څېر جلیا یم
د دنیا په مخ دلبره
ستا له مخه زۀ بیسیا یم
زۀ بیا بیا درته منت کړم
تا شړلے په بیا بیا یم
کله بل د ځان پیشوا کړم
کله وایم خپل پیشوا یم
کله ځان ته فاسق وایم

کله وایم چې پارسا یم
د ژوندون طمع مې نه شي
خله کښې پروت د اژدها یم
نهایت به شمه خاورې
چې له خاورو نه پېدا یم
دبل چا پهٔ یارۍ څهٔ کړم
چې د ستا یار او اشنا یم
راز مې چا ته څرګند نه شو
ژړغونې پهٔ خندا یم
اوس مې پټ که له هر چائې
خو دا واوره درته وایم
پهٔ محشر کښې به دې یاره
د مولا پهٔ حضور ښایم
ندامت هلته بیا نشته
ته به دا ئې زه به دا یم
دا به هر څهٔ درنه غواړم
که فریاد که پهٔ ژړا یم
زهٔ نادار دې درد ولې
ژړولې پهٔ دنیا یم
زهٔ نادار پهٔ درست جهان کښې
مرور اشنا له تا یم

خبر کــه زهٔ ازغـــے یمــه احســـان راســره اوکـــړه تـــه
پـتې مـې کـړه پـهٔ پـاڼو کښـې ګلونـو کښـې مـې اونغـاړه
چـــا تـــه هـــم اشـــنا د غـــم و درد خبـــرې مـــه کـــوه
مینــه مــې مخفـــې ســـاته رازونـــو کښـــې مـــې اونغـــاړه
ځـــان راتـــه شـــاعر کـــړه د بهـــادر کلـــی رحمـــان غونـــدې
جـوړ رانــه غــزل کــړه پـهٔ لفظونـــو کښــې مــې اونغـــاړه
ســتا ښائســت چــې څنګــه د رنګونـــو امتـــزاج ښـــکاری
مـا هـم پـهٔ خپـل رنـګ کـړه پـهٔ رنګونـو کښـې مـې اونغـاړه
څـو مـې عاشـق وش بلاکـش زړهٔ چـې شکسـت نـه منـی
هـــومره مـــې هـــدف کـــړه ګـــذارونو کښـــې مـــې اونغـــاړه
هـــر خـــوا کـــه ســـیلۍ د نفرتونـــو الـــوتلی ده
نـــه غـــواړم نفـــرت زهٔ الفتونـــو کښـــې مـــې اونغـــاړه
فـــاش بـــه اخفـــا راز شـــی او دنیـــا بـــه تـــرې خبـــره شـــی
یـــاره پـــهٔ لیمـــو پـــهٔ نظرونـــو کښـــې مـــې اونغـــاړه
دا د دهـــر دود دســـتور د مینـــې رقابـــت کـــوی
زلفـــې راخـــورې کـــړه ظلمتونـــو کښـــې مـــې اونغـــاړه
راشـــه د غـــزل ښـــاپیرۍ بیـــا پـــهٔ درپـــه خپـــل نـــادار
نـــوے غـــزل راوړه الهـــامونو کښـــې مـــې اونغـــاړه

# خور خوير متحده امارات

اوس مــې د خيــال د شــاهين هغــه شــان وزرې نشــته
کــه څــهٔ قيصــه ده چــې لفظونــه او ســندرې نشــته
هغــه رڼــې تــورې دی زنــګ هغــه کســان هــم نشــته
هغــه ډالونــه مــات ښــکاريږی هغــه زغــرې نشــته
څــومره چــې ســتا د ګلګــون لبــو حــلاوت شــيرين دے
دومــره خوږلــت خــو د قنــد څــهٔ چــې د شــکرې نشــته
تــا چــې اووينــم د خټــک قيصــه مــې زړهٔ تــه راشــی
دا چــا وئيــل چــې پــهٔ دريــاب کښــې ملغلــرې نشــته
ښائســت د مصــر مــې ليــدلے هــم افســون د بنګــال
خــو ســتا پــهٔ شــانې ښــيوه ګــرې افســون ګــرې نشــته
يــاران د دهــر قيــل وقــال کــه د دنيــا غــواړی خــو
زمــا پــهٔ خلــه ســيوا لــه عشــق نــورې خبــرې نشــته
دغــه همــه واړه دروغ دی هــيڅ بــاور پــرې مــه کــړه
چې پهٔ توچي کښې سپين توتان تورې ګور ګورې نشته
نــادرې ډېــرې دی خــو تــه دا پــهٔ يقــين اومنــه
لکــه ليلــی د نــادار نــور داســې نــادرې نشــته

پرستار خدائے د هغې پرې پېکر کړم
چې ئې نه وينم نظير که څو نظر کړم
يا به مات لکه فرهاد ورپسې سر کړم
يا به دور لکه يعقوب پسې نظر کړم
په فراق کښې ئې که څو اشفته حال شم
نه به اخ او کړم و نه به څوک خبر کړم
د مژګانو په نېزو غلبيل غلبيل يم
ځکه تيره همه شپه په شور و شر کړم
د ساقي د ميئو جام په ما حرام شه
که يو ځل ترګلو تير د لب کوثر کړم
يا به هېر رانه په صور اسرافيل شي
يا چې روح د عزرائيل په لاس کښې ور کړم
قناعت د الهي داسې عطا ده
چې په تش لاس کښې ئې مور له هفت کشور کړم

پـــه ژړا اســـــم اعظـــم ورېســـــې لـــولم
دعاګـــانې د وصــــال شــــام و ســــحر کــــړم
برخــــې واړه ازلـــــې دي پـــــه زور نــــه دی
ګـوره تـه ئـې چـې انګـور زۀ ئـې کيکـر کـړم
ســـر تـــر پـــا دا ســـتا د يــــاد جګړنـــو يـــاره
پـــه نېـــزو او پـــه چـــاړو پرهـــر پرهـــر کـــړم
دروغـژن بـه شـم چـې سـتا حسـن پـه وړانـدې
صــــفتونه زۀ د شـــــمس و د قمــــر کــــړم
عشـقه سـتا احسـان بـه هېـر نـه کـړم تـر مرګـه
دا چـــې زۀ دې تشـــنه لـــب وليمـــه تـــر کـــړم
پـــه توحيـــد د خـــدائې قـــائم اوســـه نـــاداره
هســـې نـــه چـــې ځـــان د کفـــر برابـــر کـــړم

ســـتا د پښـــتون لبـــاس نـــه زار شـــم تـــه پـــه ځـــائې پښـــتون ئـــې
چـــې دومـــره کلـــک ئـــې پـــه پښـــتو دا د کـــوم ځـــائې پښـــتون ئـــې
دا د مغـــــرب لبـــــاس پـــــه تـــــا ځکـــــه اثـــــر نـــــه کـــــوی
چـــې تـــه پيـــدا د پښـــتنې ابـــی نـــه خـــدائې پښـــتون ئـــې

Pukhto.Net پښتو

مرد هغه دے چې ئې بل پهٔ اوږو بار شي
نه هغه چې د بل چا پهٔ اوږو بار شي
چې کردار د چا بدل تش پهٔ ګفتار شي
که له اصله وي اينځر بيا هم خار دار شي
احمقان دي چې وصال وته تلوار کا
د دنيا چارې پهٔ وار نه پهٔ تلوار شي

شــایـد هلــه د لیلــی پــهٔ دربــار ځــائے شــی
چـــې ســـاکن د مجنونـــانو د دیـــار شـــی
هــر ســړی تــه یــار وئیــل مناسـب نـه دی
یـار هغـه دے چـې د کـار پـهٔ وخـت پکـار شـی
تعجـــب د ســـیاه زلفـــو پـــهٔ کـــردار دے
چـا تــه دم شـی او د چـا د پـاره مـار شـی
عاشـق بویـه چـې تنـد ے پـهٔ تیشـه مـات کـه
یـا نعـرې د انـا الحـق اوکـړی پـهٔ دار شـی
احتیـــاج مـــې د همـــا د ســـیوری نشـــته
خـو کـه بخـت مـې لـږ لـه خوبـه رابیـدار شـی
د ســپین مــخ ضـحا دې راواړوه زمـا مــخ تــه
ظلمتونـــه راخـــواره دی چـــې ســـهار شـــی
انســانیت پــهٔ زرداری، مالـــداری نـــه دے
پـهٔ ښـهٔ خـوئ پـهٔ انسـانانو سـړے شـمار شـی
د یـــار عشـــق د ثوابونـــو امتـــزاج دے
بختــور دے چـې ئـې یـون پـهٔ دغـه لار شـی
امېدونـــه ئـــې همـــه د ژونـــد پامـــال شـــی
چې پـهٔ هجر کښې ئې وران د زړهٔ حصار شی
کـوک پـهٔ کـوک بـه د نـادار پـهٔ خپـر ژړاکـه
چـې زیـانی دا سـتا د مینـې پـهٔ بـازار شـی

نادار چې واړه شپه ملګرو فریادونه کوي
د زړهٔ پرهر ئې خله پرانیستې ده دردونه کوي
دا ستا پهٔ یو نظر کتو د ژوندون ځانګه زما
شوله زرغونه نن سبا کښې به ګلونه کوي
زړګے ئې سنګ دے پهٔ قارون هیڅ څهٔ اثر نه کوي
د وخت موسی که ورته هر څو تبلیغونه کوي
د دنیا ژوند آب روان دے د فهیم پهٔ نظر
احمقان څومره دور درازه امېدونه کوي
زما د زړهٔ پهٔ مدینه کښې فرښتې د مینې
د ستا د حسن تذکرې او اذانونه کوي
له دې نه بل کم بختي نه وي چې د ستا پهٔ در کښې
له تا نه په نه غواړي اغیارو ته سوالونه کوي
راز د اخفا به ئې څرګند شي نهایت پهٔ دنیا
محیط د سترګو ئې چې شب و روز موجونه کوي
ناله شب ګیر مې جوړې نه رسي تر یاره پورې
ځکه موم دل نه شو تر اوسه ستمونه کوي
ستا د نفاق او خود بیني او خود رائي له مخه
د ستا نادار نه هر وګړے نفرتونه کوي

پــه تراخــه خلــه د رقيــب كــه هلاهــل شــوم
خــو د يــار پــهٔ عسـلى خلـه كښــې عسـل شـوم
همــــدمان د دهــــر واړه رانـــــه بيـــل شــــول
چــې لــه تــا څخــه اشــنا پــهٔ بيلېــدل شــوم
ســتا پــهٔ تلــو پــهٔ انجمــن ظلمــت راخــور شــو
لكــه شــمع كــه هــر څــو پــهٔ بلېــدل شــوم
زړهٔ مــې څيــرې كــړه پــهٔ تيــغ د ســتم يــاره
بــاک ئــې نشــته اوس عــادى د زړهٔ چــاودل شــوم
دغــه هــم ســتا د احســان لــوئې علامــت دے
ســتا لــه دره چــې پــهٔ بــل در شــول و شــل شــوم
گلابــى يــار مــې خصــلت د گــلاب راكــړو
پـــهٔ موســم د رژيـــدو پـــهٔ خنديـــدل شـــوم
د زمـــا د انگهـــــار كرامـــــت بويـــــه
پـــهٔ ټــولې كښــې د عشــاقو چــې افضــل شــوم
چـــې د ســـتا د خونتـــابى لـــب پـــهٔ ارزو شـــوم
ســر تــر پايــه خــون الــود لكــه بخمــل شــوم
احتيـــاج مـــې د ناقـــدد تنقيـــد نشـــته
زهٔ نـــادار د اخفـــا راز نـــه جـــوړ غـــزل شـــوم

مـــا د اشـــنا پـــهٔ محبـــت پســـې هجـــرت کـــړے د ے
دا مـــې ګنـــاه کـــړی کـــه دا مـــې عبـــادت کـــړے د ے
د لعلـــو لبـــو پـــهٔ خـــاطر پـــهٔ مېکـــده د ســـاقی
د ډکـــو ډکـــو پېمـــانو مـــې خـــدائیګو ســـت کـــړے د ے
اوس ئـې کـه هـر څـو جسـتجو کـړم مونـداوے ئـې نشـم
هغـــه وګـــړی چـــا چـــې رحـــل تـــه رحلـــت کـــړے د ے
تـــا کـــه هـــر څـــومره دل ســـوخته و دل ســـتی کړمـــه زهٔ
مـــا نـــه ګیلـــه کـــړی او نـــه مـــې نـــدامت کـــړے د ے
زمـــا بـــه لاس ســـتا بـــه ګرېـــوان وی پـــهٔ مېـــدان د محشـــر
ځکـــه چـــې تـــامې رقابـــت مـــا رفاقـــت کـــړے د ے
د هغـــه ښـــکلی یـــار یـــاری د دونهـــې غـــاړه نـــه ده
وصـال ئـې مـا هـم خـدائیګو ډېـر پـهٔ ریاضـت کـړے د ے
تـــر اوســـه پـــورې ئـــې لـــه چـــا ســـر غړولـــې نـــه د ے
محـــب زړګـــی مـــې د هـــر چـــا محبوبیـــت کـــړے د ے

نه په نعرو نه په صحرا نه مې تنده چې مات کړو
دا مې همه د ستا د مينې مروت کړې دے
کارونه کيږي په تقدير په تدبير هيڅ هم نه شي
هغه ناکام دے چا چې څومره فراست کړې دے
نه د خسرو دهشت ګنجونو نه د دنګو ماڼو
ما صرف يو نظر د ستا د مخ حسرت کړې دے
زما خلوص ورته ديوال دے فولادي ملګرو
خبر که حريف په ما خر به له هر جهت کړې دے
عشاق دي خدائے ترې په امان کړي لکه ما نادار چې
د اشنا عشق څومره په سوال او په منت کړې دے

هغه جذبات و احساسات ئې څه چې دي هم ګرانې
لکه بت ستر ګې غرڅوي نور بيدار پاتې نه دے
د مرګ او ژوند تپوس ئې کړه بيا به ئې اوکړې ارمان
تا چې ليدلے وو اوس هغه نادار پاتې نه دے

شب و روز مې بدې نغښتې د اشنا د کور طواف ته
وزګار نه يمه زاهده ستا په شانې اعتکاف ته
مونږ د مينې ديوانګان يو په هامون کښې مې ګذران دے
حرامونه محرابونه مې بخښلي دی اشراف ته
په کوم ځائے به مې اوس غواړی په کوم ځائے به مې لټون کا
ښاپېرۍ د مينې يوړم زۀ د هجر کوه قاف ته
ته چې بد وائې و ما ته د اشنا په پاکه مينه
حيرانی به ولې نه کړم اے ناصحه ستا انصاف ته
ستا کرم دے بې حسابه ما په هغو حساب مه کړې
چې په خپل ځان پورې تنګ وی سوال زاری کړی ځی اعراف ته
ته چې حسن د ليلی ئې زۀ چې عشق د خوار مجنون يم
بيا زما او ستا په مينځ کښې څۀ حاجت دے اختلاف ته
د رقيب په خله مې خدائيګو هيڅ باور د روغې نشی
لکه توره چې چا پټه ور داخله وی غلاف ته
دا ددې دهر دستور دے ما نادار ته ښۀ معلوم دے
هر څوک خړو خچن وائی د دې دوړپاک وصاف ته

دواړه کسې مې ړانده شول
دربسې اوبه اوبه شول
حافظه مې شوه کمزورې
هم غوږونه مې درانه شول
ښهٔ بېداره احساسات مې
د غفلت پهٔ خوب اودهٔ شول
اوس به صبر پرې کومه
دا چې پېښ راته هر څهٔ شول
تا چې کړې وو لوظونه
ټن پوره درځنې نه شول
که راځې که نه عادت مې
دا ستا لارې ته کاته شول
امیدونه مې پهٔ سینه کښې
د توچې پهٔ ډوبېده شول
ستا د عشق پهٔ اتش دان کښې
اندامونه مې پاخه شول
تن مې هیڅ پرې نه توانېږې
بې بهبوده مې خواره شول
بیا ناداره ولې ژاړې
وایه بیا څهٔ در پهٔ زړهٔ شول



Pukhto.Net پښتو

عشقه ستا له مخه غزل خوان شومه
نمر شومه څرګند په درست جهان شومه
ښنو کښې د دلبر چې سجده ريز شومه
څنګه ووم څو څنګه عاليشان شومه
څومره ئې چې وصل ته خوشنود وومه
دومره ئې په هجر پريشان شومه
اوښکې مې د مينې دردانې شولې
ډکه مې جولۍ شوه شاه جهان شومه
ستا د خشک و تر له مخه اوګوره
ياره تشنه لب و تر چشمان شومه
سر وهم په ګټو هر مدام ياره
تا پسې په شان اب روان شومه
ما چې سنګ باری په سر قبوله کړه
سُور په وينو لال د بدخشان شومه
وئيل مې درته ډېر څۀ خو چې ته راغلې
مخې ته دلبره لال زبان شومه

بیا د وخت مغل مجبور په توره کړم
زغره مې پۀ غاړه خوشحال خان شومه
خپل ځان ته پۀ خپله نن حېرانه وه
څۀ عجب که زۀ ورته حېران شومه
تېر مې چې بې غمه او بې عشقه دے
اوس د هغه عمر پۀ ارمان شومه
غوره ده چې مات کاندې تندے عاشق
نه لکه سر زۀ پۀ بیابان شومه
ستا دغه ناسازو ستمونو ته
یاره نادار ګوته پۀ دندان شومه

Pukhto.Net
پښتو

ناقده ته پۀ ما تنقید مه کوه
پۀ ادبی سیمه مې برید مه کوه
زما غزلې حسېنې دي خو ته
راسره ضد لکه یزید مه کوه

# د عبد الرحمان بابا په زمکه

د دلبرو اشنائی
راکړه ما له ګدائی
کله دار وی کله ناروی
رنګ په رنګ مې ازمائی
سودا مه کړه سودا اوکړه
که دې کاندی سودائی
سود د زیان له مخه کیږی
سود مند خلق فرمائی
په څو چنده وفادار کړم
د دلبر بې وفائی
زړۀ ته نور هم رانژدې شو
په سبب د جدائی
زۀ د عشق په کار مشغول یم
دنیا دار د دنیائی
شاعران یوازې نه دی
شیخان هم ښکلی ستائی
عفوه غواړمه له یاره

د خپل ځان په خطائی
ما چې اولیدو یو ځلې
حلاوت د شیدا ئی
اوس مې باک و پروا نشته
د خپل ځان په رسوا ئی
زیر پا مې هر هنر کړو
زیر خاک مې دانا ئی
مچ مګس نه یم چې اوسم
په دکان د حلوائی
د لیلی د پاکې مینې
یو مجنون یم صحرایی
تا چې پرېښومه یواځې
اوس مې خوښه تنهائی
د چشمانو سیند مې جوش کړی
د ځیګر له ګرمائی
نه مې توان د باده پاتې
نه مې پاتی پار سائی
اوس به صبرېرې کومه
دغه چارې دی خدائی
اوس به غواړمه له خدایه
ستا د عشق سر بالائی

خدائے دې نه کړی چې شیشه شم
زۀ ګوهر یم دریائی
یوجزدان یو قلمدان مې
د ژوندون ده کمائی
نادار زده له هیچا نه ده
شاعری د عطائی

Pukhto.Net

ناقده خېر دے که تنقید کوې ته
پۀ ادبی سیمه مې برید کوې ته
خو زۀ پوهېږم چې صبا به مې بیا
د حق شناس غوندې تائید کوې ته

پــه جلــوه د خپــل جمــال مــې جلــوه ګــر کــړه
ظلمتونـــه د حيـــات راتـــه ســـحر کـــړه
صــرف يــو ځــل مــې پــۀ خپــل حســن خبــر کــړه
خبــر دے بيــا مــې لــه خپــل ځــان نــه نــا خبــر کــړه
د نيـــزو پـــۀ ځيـــر مژګـــان دې راتـــه نيـــغ کـــړه
پـــۀ بـــدن کښـــې مـــې هـــدف د زړګـــى ســـر کـــړه
عـــا شـــقى و خـــود بينـــى دواړه نـــه کيـــږى
کـــه عاشـــق ئـــې بيـــا پســـې ځـــان قلنـــدر کـــړه
چـــې وصـــال د هغـــه يـــار پـــرې حاصـــليږى
ســـيم و زر در و دينـــار خـــاورې پـــۀ ســـر کـــړه
د زرګـــــر د زيوراتـــــو بهبـــــود نشـــــته
مـــــدام فکـــــر د اخلاقـــــو د زيـــــور کـــــړه

مسخر به ما فیها شی ستا پهٔ وړاندې
خو ته ځان ورته رښتونې مسخر کړه
دا دې د هر طائفو نه دور کنار شه
خور پهٔ ځان باندې دامن سپین څادر کړه
تاریکی د افتونو علامت دې
افت مه شې الهی دې روڼ قمر کړه
کوک پهٔ کوک لکه یعقوب پسې ژړا کړه
که مونده ئې نه کړې ځان خو بې بصر کړه
چې دښمن ئې هم خالی له دره نه ځی
ځان د هغه کور و کلی درویز ګر کړه
پهٔ محمود او پهٔ ایاز کښې تو پیر مه کړه
که دانا ئې پهٔ یو شان ورته نظر کړه
که لمبې دی پهٔ سر خیژی لکه شمع
باک ئې نشته دې محفل پرې منور کړه
د دنیا پهٔ غم دې واړه عمر تیر کړو
پاتې عمر تیر پهٔ غم کښې د محشر کړه
نور چې هر څهٔ رانه هېر وی ته مې یاد وې
پهٔ خپل عشق کښې مې اشنا هسې مضطر کړه
زاخېلی یار به تنقید دربانديې اوکړی
ځان پهٔ خپل غزل نادار برابر کړه



Pukhto.Net

Pukhto.Net
پښتو

ستا د وصال د ارمانونو سره ژوند تېروم
نشته سحر د ظلمتونو سره ژوند تېرووم
ګلګوني سترګې تشنه لب خوشنو دی نه لرمه
مدام د اوښکو امېلونو سره ژوند تېرووم
د ښاپېرک پهٔ ثبر مې مخ د ضحا او نه لیدو
تل د تور مخو ماښامونو سره ژوند تېرووم
خلق ګمان کاندی چې دے آتش پرست دے جوړې
زهٔ ستا له مخه د اورونو سره ژوند تېرووم

خوددار سړے يم زيرګی نه کړم ګنې خدائے ګواه دے
لکه کابل د يلغارونو سره ژوند تېرووم
د مصور پهٔ هر تخليق باندې مئين يمه زهٔ
خو بيا هم ستا د تصويرونو سره ژوند تېرووم
پهٔ دې جديد دور کښې طنز اوکړم پهٔ خپل ځان پورې
چې د خپل کور د دېوالونو سره ژوند تېرووم
زما پهٔ يو رنګ ئې سل زر رنګونه نور اومړل
د زمانې داسې رنګونو سره ژوند تېرووم
چې رښې تورې فولادی زغرې ئې کار وو د ژوند
اوس د هغو خلقو يادونو سره ژوند تېرووم
نه پهٔ حيات نه پهٔ ممات ترې خبر شيګړه وينم
توبه د داسې عالمونو سره ژوند تېرووم
پهٔ بې خودې کښې زهٔ پهٔ غږ د انا الحق ملګرو
لکه منصور د زندانونو سره ژوند تېرووم
د هر خزان پهٔ سر بهار دے د راحت پهٔ طمع
نادار د ډېرو زحمتونو سره ژوند تېرووم

Pukhto.Net

چې شېدا د هغه يار پۀ سپين بشر شي
سر تر پايه نوراني و جلوه گر شي
همه واړه سود مندي بويه چې څومره
پۀ الفت کښې دل سوخته ودل مضطر شي
چې طالع ئې اشتى نه کاندي ملګرو
سور ګلاب د ګلشن خود ورته شرر شي
دا خو برخې دي چې رب ئې چاله ورکړي
څنې تاک څنې نښتر څنې کيکر شي
کومې اوښکې چې د يار پۀ ياد کښې تویٔ شي
هغه لال د بدخشان در و ګوهر شي
شاعري او عاشقي خو اسماني ده
دغه چارې نه پۀ سيم او نه پۀ زر شي
د تقدير د ورق تحرير به بدل نه کړي
پۀ شعور که له هر چا نه زور ور شي
صحيفې ئې چې د عشق لوستلي نه وي
دے انجانه که هر څو متبحر شي

دا غـــزل مـــې درپــه خېـــل لائــق تــه يوســه
چــې اګــاه مــې لــه مطلبــه پــاتر ســر شــى
د ژونــدون قــدر قيمــت هلــه مونــده کــړى
پــهٔ درګــاه چــې د خوبـــانو محقـــر شـــى
ادم زاد لـه هـر څهٔ کلـک وو غـم ئـې زهـم کـړو
ګنــې مــات بــه تــرې حجــر وچ بــه شــجر شــى
د فـــراق پـــهٔ اتـــش ځـــان ســـوزه نـــاداره
عاقبــت بــه دې خوشــبو د مشــک عنبــر شــى

چاتــه بــه اوکــړم د نېمګــړ ى ژونــد نيمګــړى قيصــه
واړه وګــړى مــې شــى ســترى پــهٔ دې ســتړى قيصــه
زړګــے مـــې ريـــږدى د حـــالاتو نـــه يريـــږم داســـې
نــه وى چــې بيــا مــې پښــېمانه کــړي پــهٔ کــړى قيصــه

په ستم د خپل صنم
زړۀ مې شو قلم قلم
پۀ عجب رنځ اموخته يم
نه رغېږم او نه مرم
غم د سيورى پۀ شان شاته
راپسې چې چرته ځم
چاته داد و فرياد اوکړم
چا ته اووايم همدم
د نفاق غبار راخور دے
کور پۀ کور و چم پۀ چم
نه تعظيم د امام پاتې

نـه تعظـيم شـته د حـرم
تـو لعنـت پـهٔ داسـې دور
تـو لعنـت پـهٔ داسـې دم
محبـت د يـار مقـيم کـړم
د فـراق پـهٔ جهـنم
شپ و روز پـهٔ هائے سوران يـم
راخبـر يـږی نـه عـالم
ملتجـی اوسـم کـريم تـه
ورنـه غوارمـه کـرم
پـهٔ سـبب د غـنم رنګـو
زړهٔ مـې چـاؤد لکـه غـنم
پـهٔ بـدل کښـې د وفـا دې
د جفـا کـړے قسـم
چـې لاهـو شـو خبـرئـې نشـته
سـتا د مينـې پـهٔ قلـزم
د رڼـا پـهٔ دود مـې خـوښ دې
د اوږدو زلفـو تـورتم
پـهٔ مـخ اوښـکې د نـادار دی
کـه پـهٔ ګـل پـروت دے شـبنم

ملګــــرو لال د بدخشـــــان در اوګـــــوهر څـــــۀ کـــــوم
چــې یــار مــې نــه وی هفــت اقلــیم د ســکندر څــۀ کــوم
د خــدائے مخلــوق تــه چــې تــرې خبــر ښــیګړه نــه رســیږی
داســـې پیـــری د بایزیـــد او د درویـــز ګـــر څـــۀ کـــوم
د حـــق تعـــالی نـــه زیـــورات د ښـــو اخلاقـــو غـــواړم
نـــور د زرګـــر د ســـیم و زرو پـــۀ زیـــور څـــۀ کـــوم
کلـــه نـــا کلـــه چـــې خپـــل کـــړی ګناهونـــه شـــمیرم
پـــۀ چغـــو اوژاړم چـــې دا بـــه پـــۀ محشـــر څـــۀ کـــوم
د وطـــن کونـــډې یتیمـــان مـــې چـــې جـــامې نـــه لـــری
پـــۀ اور دې اوســـوزی پـــۀ دا رنګـــې اختـــر څـــۀ کـــوم
د عنبرینـــو زلفـــو مینیـــه مـــې پـــرې نـــۀ مـــاتیږی
مـــا تـــه بـــې ســـوده دی پـــۀ مشـــک او پـــۀ عنبـــر څـــۀ کـــوم
چـــې د ژونـــدون پـــۀ پـــیچ و خـــم لار مـــې یـــوازې پریـــږدی
لـــه دې نـــه غـــوره یـــم یـــوازې پـــۀ رهبـــر څـــۀ کـــوم
ســر مــې پــۀ ســر کښــې ســتا د ســر چــې د فرهــاد ســر نــه شــی
پــرې تــو لعنــت شــه بیــا بــې ننــګ دے پــۀ دا ســر څــۀ کــوم
پـــۀ کومـــه شـــپه چـــې د وصـــال مهتـــاب او نـــه ځلیـــږی
پــۀ شــپه خوشــحال ووم پــۀ تیــارو کښــې پــۀ ســحر څــۀ کــوم
نـــاداره برخـــه چـــې د خـــوار و نـــادار نـــه وی پکښـــې
پـــۀ داســـې مـــال داســـې منـــال او ســـیم و زر څـــۀ کـــوم

دا نه ده چې په زور مې رانیولې دے غزل
په ما لکه باران راورېدلې دے غزل
د توریو په غدیر کښې د حالاتو په چپو کښې
په خپلو سپینو لاسو مې وینځلې دے غزل
خوشبوئې د بخور او د لوبان په شانې درومې
د ځان غوندې مې ځکه سوزولې دے غزل
تنقید د ناقدانو بېهوده راته ښکارېږي
ما خپل د خیال په تله ښه تللې دے غزل
چې رنګ ئې او مفهوم ئې د رحمان صاحب په شان وي
د پاک الله نه ما داسې غوښتلې دے غزل
د رحل په رحلت مې بیګانې ـ شپه یقین اوکړو
په چغو چغو ځان ته ژړولې دے غزل
مجال د تورتم نشته چې زمونږ په کوڅه راشي
په بام د خر استان مې ځلېدلې دے غزل
نادار ه تاثرڅه د ,,دهقان□□ څه د ,,لائق□□ دے
په باغ کښې د توچي چې تو کېدلې دے غزل

مخامخ تور مخ ولاړ یمه اشنا ته
هسې ځان صفا کوم توري دنیا ته
تجلي که د جمال راته اوښائی
زۀ به لاړ شم درپسې کوه سینا ته
هر نظر مې یاره ستا پۀ حسن لګی
که نظر کړم ښکته ارض پورته سما ته
خورشیدی مخ له نقابه راعیان کړه
احتیاج مې چې باقی نه شی رڼا ته
تقدیر هر چاواته خپله برخه ورکړه
ماښام تور شو نور ئې اوبخښۀ سبا ته
حق چې ستا د محبت پرې ادا کیږی
روا څۀ چې سر مې ایښې ناروا ته
دا دنیا هر یو کمال زوال الود دے
بې له ښکلو که ئې ځیر شی څوک ښکلا ته
چې ناصح وته ښائست د اشنا ستایم
لکه وصف چې د نمر کړم نا بینا ته
هر غزل مې د دردونو امتزاج دے
دردناک خلق ځکه مجبور کاندی ژړا ته
در پۀ خپل کښې به ئې نه مومې نادار
څو چې او نه کړې سفر پسې ,,صفا□□ ته

زۀ شـيدا پـۀ لاجـواب يـم څکـه هسـې لاجـواب يـم
پـۀ خـوارۍ پـۀ نـادارۍ کښې هـم پـۀ مثـل د نـواب يـم
کلـه جـوړ ځنـې ثـواب شـی کـه هـر څـۀ پـۀ وبـال سـروم
کلـه کلـه بيـا وبـال شـی اموختـه کـه پـۀ ثـواب يـم
توليـدی تـه نابينـا ئـې څکـه نـه درتـه ښـکارېږم
ګنـې زۀ خـو سـپين سـپېځلې د تيـارو پـۀ سـر مهتـاب يـم
عنـدليب نـه يـم ملګـرو چـې کوکـاری مـې عـادت دے
زۀ پـۀ پـرې سينه خنـدا کـړم پـۀ خـوئ بـوئ لکـه ګـلاب يـم

پـهٔ نېـزو سـتا د مژگـانو زمـا زړهٔ غلبېـل غلبېـل دے
ځکـه داسـې نالـه گیـر یـم ځکـه هسـې رنـگ بېتـاب یـم
کـه تقدیر مـې ځنـې خـلاص کـړی گنـې وار د تـدبیر تېـر دے
بنـد پـهٔ بنـد بانـدې تړلـې سـتا د مینـې پـهٔ طنـاب یـم
طالبـان د محبـت مـې پـهٔ لوسـتلو پـهٔ ژړا شـي
ستا د عشق پهٔ مدرسه کښې هسې باب هسې کتاب یم
د طـوبی د سـیورې لانـدې د ناسـتی ارزو مـې نشـته
لتهـوم پکښـې سـتا حسـن مقـیم ځکـه د محـراب یـم
بارانونـه پـهٔ مـا یـاره د وصـال د رحمـت اوکـړه
خدائے راستی چې زیاتی سترے ستا د هجر له سحاب یم
د ځـوانۍ خـواره خوبونـه مـې پـهٔ خـس و پـهٔ خـار کـړي
دروغ څـهٔ لـه درتـه وایـم چـې عـادی زهٔ د سـنجاب یـم
حیرت وړے یم خپل ځان ته پهٔ جذبو د عشق مجذوب یم
کـه پـهٔ مُـل و پـهٔ ایـاغ چـې د سـاقی مسـت و خـراب یـم
ستا پهٔ سپین سپېځلی عشق کښې پهٔ مثال د سپین کوتر
شوم نه د تورو غرو شاهین یم نه شقی لکه عقاب یم
د ساحل امید مـې تـرک شـو د حیات طمع مـې پـرې شـوه
زهٔ نـادار پـهٔ گردابـو کښـې د حیـات هسـې غرقـاب یـم

Pukhto.Net
پښتو

څــو بـــه پـــۀ مـــا ظلـــم ســـتم کانـــدی دلبـــر الغیـــاث
ناســـازی نـــوې نـــوې کـــړی شـــام و ســـحر الغیـــاث
ځـــان ئـــې شـــیرین زۀ ئـــې فرهـــاد کـــړم امتحـــان مـــې اخلـــی
کـــه غرمـــات نـــه شـــو مـــاتوم بـــه ورتـــه ســـر الغیـــاث
مـــا بـــه پـــۀ پښـــو کښـــې لکـــه ریـــګ د بیابـــان ورتـــوئ وې
کـــه مـــې درلـــودل پـــۀ جـــولۍ کښـــې درګـــوهر الغیـــاث
دنیـــا بـــې شـــکه بـــې وفـــا ده هفـــت اقلـــیم ئـــې فـــانی
چـــې خـــالی لاس ورڅخـــه یـــوړل ســـکندر الغیـــاث

زۀ بــه د يــار يارانــه غــوارم كــه زمــا پــۀ خوښــۀ
خــدائے چرتــه راكــړل نعمتونــه پــۀ محشــر الغيــاث
پــۀ پــېچ وخــم نشــيب فــراز لارو كــاروان د حيــات
بــه څنګــه يــون كــا وړانــدې نــه لــري رهبــر الغيــاث
مــونږ متــاثر كــړو د مــى ګــون لــب لبالــب جامونــه
ځكــه خــو مينــه كــړو پــۀ مــى او پــۀ ســاغر الغيــاث
نــه مــې منــع شــته درنــه يــاره نــه ګيلــه كومــه
دا بــــه ليكلــــى وى زمــــا پــــۀ مقــــدر الغيــــاث
تــاک ســر ټيټــى اوكــړه نختــر ســر بلنــدى خوښــۀ كــړه
ځكــه پــۀ شــونډو كښــې اوس تــل وى د نختــر الغيــاث
ســتا د الفــت د كرامــاتو نــه بــه څــۀ وايــم زۀ
پــۀ دود د عــود شــوم پــۀ نصيب مــې شــو مجمــر الغيــاث
ســتا د زهــره جبــين ارزو مــې پــۀ لمبــو ســوزوى
ځكــه خــو ګــرځم درپســې اوتــر اوتــر الغيــاث
دا مــې شــومتيا د خپــل طــالع وه نــور هــيڅ هــم نــه دى
چــې پــۀ لتــون كښــې دې نــدا كــړم درپــۀ در الغيــاث
نــاداره ســيم و زر چــې نــه لــري بيــا ســود نــه لــري
ځــان كــه هــر څــو يــار او اشــنا كــړې د زرګــر الغيــاث

ملګـــرو يـــو خواتـــه زمـــا هغـــه صـــنم خفـــه دے
بـــل مـــې د خيـــال شـــاهين الـــوت نـــه کـــه قلـــم خفـــه دے
چې نـه مـې غېږ ورکړه صحرا تـه نـه مـې غـر سـورے کړو
نـــه پـــهٔ دار وخـــتم پـــردې مـــې د يـــار غـــم خفـــه دے
اوس خـو صـبا شـي او بېګـا شـي خـو موجونـه نـه کـړي
چـې قحـط سـالي شـوه کـه د سـترګو مـې قلـزم خفـه دے
دلتـــه کـــه مـــا ګـــورې لـــه هـــر چـــا مـــرور مـــرور
هلتـــه کـــه اوګـــورې لـــه مـــا نـــه ټـــول عـــالم خفـــه دے
د ازادۍ فقيـــــره ســـــتا دغـــــې فقيـــــرې خـــــاورې
نـــن اغوســـتلې ســـرې جـــامې دي پـــهٔ هـــر دم خفـــه دے
پـــرون ئـــې خپلـــه د ســـتم پـــهٔ تـــوره اووهلـــم
نـــن راتـــه ژاړي پـــهٔ ســـلګو ســـلګو چـــې مـــرم خفـــه دے
هغـــه د پـــاک مقـــام خاونـــد دے زهٔ ادنـــى ئـــې ډېـــر ډېـــر
کـــه پـــهٔ رکـــوع او پـــهٔ ســـجود کښـــې يـــادوم خفـــه دے
دغـــه مقـــام هـــم د حېـــرت دے ګوتـــه خلـــې تـــه درومـــي
چـــې امـــام ژاړي قـــران ژاړي او حـــرم خفـــه دے
بيـــا د خـــزان ســـپېرې ســـيلۍ پـــرې يلغارونـــه اوکـــړل
ځکـــه ګلشـــن پـــهٔ ويـــر لـــړلے دے شـــبنم خفـــه دے
نـــاداره حـــق د ګيلـــو نـــه لـــرې کـــه ډېـــر خفـــه ئـــې
پـــهٔ فراقـــت کښـــې اشـــنا هـــم درســـره ســـم خفـــه دے

څـــومره زور دې وو اشـــنا پـــهٔ بيلېـــدل کښـــې
سره اورونـه مـې ئـې بـل کـړل پـهٔ ګوګـل کښـې
پـــهٔ جـــذبو د محبـــت هســـې مجـــذوب يـــم
تـــوپير کـــړې نـــه شـــم عســـل او هلاهـــل کښـــې
د حرمـــــت ســـــره جـــــونګړه غـــــوره بويـــــه
نـــه چـــې اوســـې بـــې حرمتـــه پـــهٔ محـــل کښـــې
زهٔ چـــې هـــر کلـــه ورځيـــر شـــم راښـــکاره شـــي
امتـــزاج ســـتا د جمـــال پـــهٔ هـــر اجمـــل کښـــې
دا د ســـــتا د بـــــې تنګـــــې نتيجـــــه ښـــــکاري
چـې مژګـان دې راتـه نېـغ نـه شـول محفـل کښـې
نـه پـوهېږم چـې پـهٔ ښـې کـه پـهٔ ګـس لاړ شـم
سـتا منـزل شـو رانـه ورک پـهٔ ډېـر مـزل کښـې
زاخيلـــې يـــاره ربښـــتيا بـــه راتـــه وائـــې
خيـال دې څهٔ دې پـهٔ دې خيـال پـهٔ دې غـزل کښـې
خپـــل کـــردار چـــې د ګفتـــار پـــهٔ شـــانې نـــه کـــړې
تـــاثر دې ځکـــه نشـــته پـــهٔ وئيـــل کښـــې
جـــو دانـــه ريـــا مـــې خدايـــه پېـــدا مـــه کـــړې
د ژونـــدون پـــهٔ هـــر مقـــام او هـــر عمـــل کښـــې
پـــهٔ حيـــات ئـــې بيـــا خلاصـــون نشـــته نـــاداره
مقيـــد چـــې شـــي د تـــورو زلفـــو ول کښـــې

بېګانې شپه مې چې اولېد په دلبر خوب
خدائيګو ډېر وو بختور او منور خوب
حېراني ده نه روزه شته نه اختر شته
دا چې وينم هره شپه زۀ د اختر خوب
نښانه د کاهلۍ ده نوره څۀ دی
کوم وګړے چې اختيار کړی د سحر خوب
عاقبت به دې په برخه سياه خاک وی
ډېر ډېر مه کړه د بخملو په بستر خوب
ډېر خوب څۀ دې خو د لنډ عمر لنډون دې
غوره بويه دين دنيا ته مختصر خوب
په مئين د ملامت لاسونه مه ږده
کله کيږی په ازغو کښې د کيکر خوب
نادانان دی د شعور خاوندان نه دی
څوک چې کاندی له ماښامه تر سحر خوب
قافله به ئې اوس يون په کوم جهت کا
چې په نيمه لار کښې راغلو په رهبر خوب
په روغ تن په روغ بدن باندې خوب کيږی
څۀ به اوکړی چې په عشق کښې وی مضطر خوب
نادار ستا د محبت له برکته
ځان ته خوښ کړو په دائره کښې برابر خوب

ستا پهٔ در کښې مې دا سوال دے زما خدایه
زهٔ څهٔ نه غواړم خو څهٔ راته مه وایه

شب وروز مې دغه سوال او التجا ده
پهٔ خالي لاس مې ستون مه کړې له دې سرایه

ډېر خود دار تندی ئې پښو کښې سجده ریز شول
چې ئې طمع د وفا کړه له خود رایه

زهٔ به څهٔ یم او زما خوښهٔ به څهٔ وی
ستا چې خوښهٔ ده هغه راته فرمایه

که چا ریا یو د دوپائ خویونه زده کړل
دوپائ هم زده کړل خویونه له چار پایه

ښهٔ خوښهٔ وی ما دې بد پهٔ ښو نیولی
چې دې څهٔ پهٔ خله رادرومی راته وایه



Pukhto.Net

الهـــی کـــه تـــه مـــې دا ځـــل پـــرده پـــوش شـــوې
بیـــا بـــه چـــا تـــه ښـــکاره نـــه کـــړم د زړۀ رایـــه
لـــه دې نـــوی او جدیـــد دســـتور دې زار شـــم
چـــا اغســـتی قلنګونـــه لـــه ګـــدا یـــه
نـــه مـــې دومـــره مجـــال شـــته چـــې خواتـــه درشـــم
نـــه مجـــال د صـــبوری لـــرم لـــه ورایـــه
زیســـت ئـــې واړه د مـــردۀ پـــۀ مثـــال شـــی
خدائے دې نه کړی له خپـل ځایه څوک بې ځایه
دا چـــې هـــیڅ بـــې هیڅـــه نـــه راځـــې خفـــه ئـــې
دومـــره لـــر. ډېـــر څـــۀ خـــو هـــم راتـــه اوښـــایه
اے ساده طبیبـه کـوم ځـائې بـه مـې ښـۀ شـی
زۀ پـــۀ اور د عشـــق جلیـــا یـــم ســـر تـــر پایـــه
د ژوندون مهـار مـې سـتا پـۀ لاس کښـې در کـړو
چـــې دې زړۀ غـــواړی هغـــه خواتـــه مـــې بیایـــه
زاخیلـی چـې پـرې پـوهیږې نـه کـه قصـد کـړې
دا غـــزل مـــې پـــۀ غـــزل کښـــې نـــن وســـتایه
کـــه دې پېښـــۀ در پـــۀ خپلـــو تـــه راوکـــړه
زاخیلـــې د نـــادار نـــوم خلقوتـــه ښـــایه

ته به ئې منې او یا به نه خو بې له تا په ما
شپه او ورځ شی تېره خو خندا مې زړۀ کښې رانه شی

ما به هم تند ے لکه فرهاد په تیشه مات وو خو
دې څخه یریږم چې ریا مې زړۀ کښې رانه شی

هسې نه چې جاه و جمالیت دې خاکستر کړمه
پام کوه اشنا چې بد دعا مې زړۀ کښې رانه شی

مخ د فنا خدائیګو تر هغې لیدلې نه شمه
څو پورې ملګرو چې رښا مې زړۀ کښې رانه شی

هغه دم د زیست زۀ د تراب په دود نابود ګڼم
دم چې کله واخلم او اشنا مې زړۀ کښې رانه شی

ډیره جستجو ئې که محراب و په هامون کړم خو
ښکلی نه موندیږی چې ښکلا مې زړۀ کښې رانه شی

هغه دعا هیڅ د قبولیت قابله نه ګڼم
ځان ته چې څۀ غواړم ستا رضا مې زړۀ کښې رانه شی

هر ځائے تاخت تاراج چې د ادم په ادمیت وینم
د یو به ووم ادم نه چې هاها مې زړۀ کښې رانه شی

دومره متاثر شوم د دنیا د جفاګانو نه
خدائے دې راته خیر کړی چې جفا مې زړۀ کښې رانه شی

اوس بــه زۀ چــا وتــه کــړم ســتا خبــرې
مــا خــو بــه تــا تــه کــړې دا ســتا خبــرې
ســاقيه فــيض نــه لــری مــه کــړه راتــه
نــوره د مــل او د مينــا خبــرې
ســپينه لمــن د يوســف نــه تــوريږی
ډيــرې کــه اوکــړی زليخــا خبــرې
نــاداران خپلــه نــاداری ژړوی
دنيــادار کانــدي د دنيــا خبــرې
زمــا د زړۀ د مــدينې پــه حقلــه
ابرهــا کــړی څــۀ نــا اشــنا خبــرې
د ژونــد آشــائــې زيــر خــاک کــړه زمــا
نــن داســې اوکــړې مســيحا خبــرې
تــر اخــری دم دې چــې هېــرې نــه شــی
چــا درتــه کــړې مــې پــۀ ژړا خبــرې
بېګــا مــې خــوب ليــدو منصــور ســتائيلو
دار او مجنــون کــړې د صــحرا خبــرې
نــاداره نــن مــې د امېــد کــاروان تــه
تــورې تيــارې کــړی د رڼــا خبــرې

لکـه مـاهی دا سـتا دمینـې پـهٔ قلـزم کښـې اوسـم
خوشـنودی نـه لـرم د زیسـت تـل پـهٔ مـاتم کښـې اوسـم
د غـــنم رنګـــو دلبرانـــو پـــهٔ ســـبب ملګـــرو
هغـه لذیـذ غونـدې لـذت شـوم چـې غـنم کښـې اوسـم
مجنـون کـه ډیـره جسـتجو کـړه پـهٔ صـحرا د لیلـی
خـو اوئـې نـه موندلـه ځکـه پـهٔ حـرم کښـې اوسـم
دا سـتا د وصـل د فـردوس پـهٔ طمـع ځـان پـاکؤوم
لکـــه فاسـق د فراقـت پـــهٔ جهـنم کښـــې اوسـم
زهٔ ئـې سـل زر فرسـنګه شـمارم چـې درتلـې نـه شـمه
پـهٔ دا مـې څـهٔ کـه درسـره پـهٔ یـو قـدم کښـې اوسـم
ممـــتحن یـــار مـــې امتحـــان رانـــه د مینـــې اخلـــی
ځکـه خـو هسـې اشـفته سـترګې پـر نـم کښـې اوسـم
سـتا د اب ګـون اتـش ګـون مـخ پـهٔ برکـت دلبـره
هغـه زینـت شـوم چـې پـهٔ ګـل او پـهٔ شـبنم کښـې اوسـم
د وطـن تـورې ګټـې هـم پـهٔ ګـوهر نـه ورکـوی
د پښـتنو پـهٔ داسـې کلـی داسـې چـم کښـې اوسـم

د ښلتانه سیلۍ به ما ترې راغوزار کړی اخر
مدام چې ستا د مینې بام ته په سلم کښې اوسم
نه ئې تر سا خوښ شوم او نه مې پارسائې ته پرېږدی
څۀ په بې درده طنز کوونکی شان عالم کښې اوسم
ووم به تر هغې لال زبانه لیمه تر په اوښکو
ترڅو چې ستا د ښلتانه په محرم کښې اوسم
پرون مې حسن د یار وئیل چې زۀ که ووم که نه ووم
خو بیا به هم دا ستا په خیال او په قلم کښې اوسم
دا خو تقدیر دے د تدبیر لاسونه نه وررسی
دا زۀ چې کله په عرب کله عجم کښې اوسم
خصلت به کړم لکه د شمعې چې اصحاب مې خوښ وی
خبر دے نادار که تر ابده په تورتم کښې اوسم

محبت دې هسې وهم را عطا کړو
دښمن څۀ چې له خپل ځان څخه یرېږم
عاقبت به کډه وړم ورنه صحرا ته
ښار کښې زۀ له هر انسان څخه یرېږم

Pukhto.Net پښتو

ویلی چې د موم غوندې پهٔ عشق کښې داشنا شومه
روڼ شومه ملګرو سپینه پرخه د سبا شومه
ستا دې حیاناکو سترګو څهٔ عجب تاثیر درلود
څو که بې حیا ووم بیا هم پوهه پهٔ حیا شومه
کله پهٔ خپل ځان باندې ګمان د پارسا اوکړمه
کله ځان ته وایمه چې دا خو سم ترسا شومه
بیا مې پهٔ اقلیم د زړهٔ یلغار د بېلتانه جګړن
کاندی ځکه داسې ناله ګیر او پهٔ غوغا شومه
خدائے چې انجمن یو صوفیانه شان را نصیب کړلو
ځکه خو د حرص او نفس له قېد ځنې رها شومه
مُل مې د ساقی چې لبالب جامونه اولیدل
هومره وار خطا شوم چې پهٔ خپل وار هم خطا شومه
نه مې تر مطلب رسی څوک نه مې پهٔ مفهوم پوئ شول
زهٔ د ژوند پهٔ ورق څهٔ معمه غوندې انشا شومه
شب و روز مې قال که دروغژن وو خو چې تا وته

کله مخامخ شوم اموخته بیا پهٔ رښتیا شومه
ستا بلند مقام لوړې رتبې ته مې لاس نه رسی
څوکه پهٔ سلم باندې ولاړ پهٔ تمنا شومه
ماچې مطالعه د محبت د صحیفې اوکړه
خام عقل مې پوخ شو کم سنی کښې سم دانا شومه
څوک مې ثناخوان شول پهٔ سما څوک مې پهٔ ارض باندې
زهٔ چې پهٔ ثنا باندې مشغول د خپل اشنا شومه
د کم همتی بویه زما چې پهٔ فراق کښې هم
نه پهٔ چغو سر نه مې سر مات نه پهٔ صحرا شومه
ما چې زړهٔ او ځان دواړه پهٔ یو نظر ور اوبخښل
اوس پهٔ دې سودا باندې نادار ګډ پهٔ سودا شومه

ځکه خو زهٔ ګنډلې شونډې لال زبانه ګرځم
چې پهٔ دې وخت کښې دخبرو جامې هم تورې دی
پهٔ بېش بها به خرڅېدې چې پهٔ بازار د دهر
د هغو سپینو ملغلرو جامې هم تورې دی

Pukhto.Net پښتو

عشق کښې که بې دسته او بې پا شومه
بیا ئې هم ممنون د بېش بها شومه
شمع د تیارو په رقابت کښې تل
ځان سوزي نو څۀ که زۀ جلیا شومه
اے د توچي نمره چرته ډوب شولې
زرکړه راڅوکېږه نابینا شومه
څوک چې په نشیب و فراز لارو کښې
پاتې دي د هغو رهنما شومه
دا څۀ رانه جوړ شول او دا څۀ شومه
دا چې نه د ارض نه د سما شومه
ډیر که حاسدانو حسد اوکړو خو
خوب ووم د یوسف دا دے ربښتیا شومه
ځان ته حیرت وړے یم پوهیږم نه
خدایه چې فاسق اوکه پارسا شومه
سر مې فرهادي جذبو چې مات نه کړو
دا څۀ که مجنون سر په صحرا شومه
هر څۀ مې چې ستا رضا کښې اوموندل
ځکه خو رضا ستا په رضا شومه
اوس په انګهار او ناله ګیر ښۀ یم
زۀ نادار چې تا باندې شېدا شومه

خال ئې شين او زيړه زنه ئې ګبين
رنګ مې ځکه زعفراني او زړۀ مې شين
ستا د حسن له کبله په ما ډېر دے
ياره قدر او قيمت د هر حسين
په بازار کښې بيا د مشکو ارزاني شوه
که دا ستا د زلفو بوئ راځي مشکين
د خلې خوند مې هسې تريخ دے په فراق کښې
چې يو شان شميرم تراخه او هم شيرين
چې اختيار کړې راته تا رنګ رنګ ناسازې
په اوراق مې تحريرونه شو رنګين
په خپل ځان کښې اشتباه شی چې دا څوک دے
مخامخ چې ځان ته اونيسی ائين
ستا د دم او د قدم په ليک مشغول دی
لږ نظر کړه په کراما کاتبين
په ناز ناز قدم پرې ږده او پرې رادرومه
ما تغر د زړګی خور دے بخملين

Pukhto.Net پښتو

دوبـــاره بـــه لکـــه تخـــم رازرغـــون شـــم
کـــه اغیـــارو کـــړم هـــر څـــو زیـــر زمـــین
کـــه ســـودا دعقبـــی بیـــا پـــهٔ مخـــه درشـــی
صـــدقه کـــړه تـــرې نـــه واړه ســـره او ســـپین
چـــې رحلـــت ئـــې رانـــه اوکـــړو دوبـــاره مـــې
مونـــدهٔ نـــه کـــړل هغـــه ښـــکلی همنشـــین
چـــې د ابـــر شـــال پـــهٔ مـــخ د خورشـــید خـــور شـــو
کـــه پـــهٔ زلفـــو کښـــې دې پـــټ شـــو ســـپین جبـــین
زهٔ نـــادار بـــه رب تـــه ســـوال د ښـــهٔ غـــزل کـــړم
زاخیلـــی یـــاره تـــه وایـــه پـــرې امـــین

Pukhto.Net
پښتو

الهـی هســې کـړې زمـا دغـزل تـوری ښـکلی
چـې ښـهٔ پـهٔ مینـه پـهٔ اخلاقـو ورتـه ګـوری ښـکلی
زهٔ بـه ئـې ولـې د تنـدی دپاسـه نـه ګرځـوم
زمـا جانـان بـه شـمارول د اسـمان ستوری ښـکلی

مینې سندریزه شان لهجه دې کړم
خوښ شومه د هر چا سنجیده دې کړم
هر یو کس خپل ځان ته پکښې ځیر دے اوس
روڼ دې کړمه سپینه ائینه دې کړم
غواړې ئې چې هر مئین له خدائے څخه
هغه د وصال رنګینه شپه دې کړم
ما خووې چې وار د جنون راغے خو
عقل مې دې پوخ کړو فرزانه دې کړم
ژاړی مې یاران ټول پهٔ لوستو باندې
څهٔ د غم نه ډکه مرثیه دې کړم
مینې ته خو پاکه وې خو دا ولې
زهٔ نادار عادی چې پهٔ باده دې کړم

# د علي خان په زمکه

شــومه دم چــې راشــی یــاد د شــاه لیلــې
پــهٔ ګریــوان مــې اوښــکې ځــی لکــه ویلــې
د ژونـد شـپې مـې چـې تیریـږی پـهٔ فـراق کښـې
همــه بویــه پــهٔ هــائے هــوئے پــهٔ واویلــې
جودانــه قــدر مــې زړهٔ تســلانه شــو
کــه هــر ځــو مــې ورلــه ورکــړی تســلې
پــهٔ ګــلاب چــې د صــبا پرخــه پرتــه ده
کــه پــهٔ ســپین صــبا دې ســپین رخســار خــولې
شــب و روز مــې رب تــه دغــه مناجــات دی
ښــکته مــه شــه دا زمــونږ لــوړې شــملې
بــس د ســتا جګړنــې ســترګې مــې شــوې خوښــې
کــه مــې خــوښ نــه دی جنګونــه معــاملې
د زړهٔ وینــو او د اوښــکو دومــره فــرق دے

لکه فرق دے د توچي او ګمبيلې
اصفهان مې د زړګی وران او ويجاړ شو
چې پرې راغلې ستا د هجر زلزلې
ما ته تېرعمر را ياد شی چې په باغ کښې
مې تر غوږ شی د بلبلو غلغلې
په زړګی مې د ګيلو شيدر ولاړ دې
خوله تُرکو په خله نه راځی ګيلې
باده خور دې د باده په جام کښې غواړی
زاهدان دې په سجود په مصلې
الهی ته مې د هغو وسيله کړې
څوک چې اوسی په جهان بې وسيلې
دې تراخو تراخيو حالاتو يقين اوکړه
راوستلے يم تر پوزې او تر خلې
قناعت چې الهی چاته عطا کړی
صبوری کړی په سکړک او په شوملې
د لايق غوندې اديب پکښې پېدا وو
دا مې شان دا مې پهچان د قبيلې
درونډ کلام ليکه ناداره چې پرې درونډ وې
نه چې وزن ئې ماسه وی يا تولې

اے د یار د پاکې مینې اخفا رازه
تا به پټ ساتم په زړهٔ کښې له غمازه
د انا لفظ زیاتی له ځان نه دور کړه
سبق زده کړه له محمود او له ایازه
برکت د سپین رخسار اسودي زلفو
خلاص کړم زهٔ د تور او سپین له امتیازه
بلندي دې د حیات راته عطا کړه
په خوبانو کښې سرخېله سر فرازه
هیڅ خامي مې عشق کښې نشته خو چې ولې
ناکامي مې په نصیب ده له اغازه
په نوښار کښې به دې چرته جستجو کړم
د توچي غاړې له راشه دلنوازه
که پارسا دي په محراب کښې که ترسا دي
اګاه بویه د خپل حسن له اعجازه
چې جذبه ئې فرهادي شي تندے مات که
هر اعزاز شه صدقه له دې اعزازه
سرودونه ښاپېر یو قاف ته یوړل

Pukhto.Net

کــه شــاهین مـــې دخیـــال پرېـــوت لـــه پـــروازه
چـــې خورشـــید د بـــلال بانـــګ تـــه منتظـــر دے
کـــه د هجـــر شـــپه پـــهٔ مـــا شـــوله درازه
مطربـــان بـــه دربـــاب تارونـــه پـــرې کـــړی
کـــه خبـــر شـــی د ســـوخته زړونـــو لـــه ســـازه
صـــالحان فرزنـــدان خدایـــه درنـــه غـــواړم
نـــه چـــې ژونـــد کـــا بـــې روزې او بـــې نمـــازه
ښـــهٔ او بـــد د هـــر چـــا نیســـم پـــهٔ جـــولۍ کښـــې
نـــادار ناســـت ورتـــه بـــې غـــږه بـــې اوازه

دا مـــنم چـــې نـــن بـــه وی وحشـــت انګیـــزه
هـــم بـــه وی پـــهٔ خـــون الـــوده او جنـــګ ریـــزه
خـــو بیـــا هـــم تـــرې نـــه امېـــد کـــړم د ســـرو ګلـــو
خـــدائے پیـــدا دې د تـــوچي زمکـــه زرخېـــزه

چـــې د ســـاقي ګلګونـــو لبـــو جـــام تـــه اورســـېدم
اثـــار څـــۀ داســـې دي چـــې خپـــل مـــرام تـــه اورســـېدم
دا خـــو مـــې بخـــت وو څـــۀ د زور او زرخبـــره نـــه وه
چـــې د هغـــې ښـــکلې دعـــا ســـلام تـــه اورســـېدم
اے د ښائسـت د مملکـت محمـوده نـه وينـې تـه
پـــۀ غلامـــۍ کښـــې دې چـــې زۀ غـــلام تـــه اورســـېدم
دا کمـــزوري وه ســـتا د لاس زۀ کـــه مصـــري، تـــوره ووم
د کـــار پـــۀ وخـــت کښـــې چـــې زاړه نيـــام تـــه اورســـېدم
زۀ دې د مـــخ پـــۀ ســـپين ســـبا مشـــغوليدم چـــې ځـــان تـــه
راخبريـــدم ســـتا د کاکـــل ماښـــام تـــه اورســـېدم
اے د رحمـــان د غـــزل رنګـــه تـــا بـــه چرتـــه غـــواړم
ووم د تـــوچي نـــه راروان بـــاګرام تـــه اورســـېدم
دا ســـرخرويي بويـــه زمـــا کـــه مـــې ګريـــوان څيـــرې کـــړو

يـــا د منصـــور غونـــدې د دار قيـــام تـــه اورســـېدم
ســينه چــاکې خصــلت نــاکې او پــهٔ هــر څــهٔ صــبورې
چـــې الله راکـــړل ځکـــه دې مقـــام تـــه اورســـېدم
دا د دونهـــې غـــاړې قيصـــې افســـانې مـــه شـــماروه
پـــهٔ ډېـــر همـــت او رياضـــت ګلفـــام تـــه اورســـېدم
دا خـــو څـــهٔ خـــاص مصـــلحتونه وو زمـــا او جانـــان
چې خاص الخاص خلق مې پرېښول عام ته اورسېدم
شـــاعرانه غونـــدې تحفـــه يـــم کـــه دې اوپېژنـــدم
دې خـوش قسـمته چـې کـوم کلـې قـام تـه اورسـېدم
ور بـه ئـې نـه کـړم د زرګـر پـهٔ سـيم و زرو بانـدې
دريغـه نـادار کـه چـرې خپـل کـلام تـه اورسـېدم
اورم او وينمـــه چـــې ډېـــر خلـــق دا لاپـــې کـــوي
چـــې زهٔ هـــم لاړم د نـــادار کـــلام تـــه اورســـېدم

وايم پهٔ راستۍ چې ستا د شان ثانې مې نه مونده
څـو مـې کـه د قـاف د ښـاپېرو کلـې تـه مخـه کـړه
سـتا مشـکينې زلفـې مـې پـهٔ زړهٔ راورېـدې ځکـه
مـا پـهٔ سـپين سبا د تـورو شـپو کلـې تـه مخـه کـړه

نـــه مـــې خـــوښ تـــوپ و تفنـــګ
نـــه د ســـپينو تـــورو جنـــګ
تـــوره کيـــږده پـــهٔ نيـــام کښـــې
خـــدائے دې اوکـــړي چـــې شـــي زنـــګ
د ښـــه خـــوئ تـــوره راواخلـــه
لـــه هـــر چـــا واخلـــه قلنـــګ
د دې دهـــــر طائفونـــــه
دور کنـــار اوســـه پـــهٔ څنـــګ
ســـپين د بـــوس پـــهٔ شـــانې مـــه شـــې
تـــورئـــې ښـــه خـــو شـــه لونـــګ
د هـــر رنـــګ امتـــزاج مـــه شـــې
پـــهٔ هـــر رنـــګ شـــه پـــهٔ يـــو رنـــګ
ســـره اوســـپين دې صـــدقه کـــړه
پـــهٔ خـــاطر د نـــام و ننـــګ
د نـــادان د نـــادانۍ نـــه
صـــدقه کـــړه خپـــل فرهنـــګ
بلبلانـــو تـــه ځيـــر مـــه شـــې
ســـبق زده کـــړه لـــه پتنـــګ
د هغـــې يـــار پـــهٔ لټـــون کښـــې
در پـــهٔ در اوســـه ملنـــګ



Pukhto.Net پښتو

هغه یار له خدایه غواړه
په هر غر په هر اهنګ
دم په دم د ژوند حساب کړه
خوئ خصلت کړه د نهنګ
یا مجنون یا تندے مات کړه
په تبشه او په کولنګ
د دلبر د مخ تصویر مې
جوړوې نشي ارژنګ
ته خوشنود اوسې دلبره
غم په ما بنه دے اړنګ
د دې دهر دا دستور دے
یو خوشحال شي یو اورنګ
زۀ له تا نه ګیله نه کړم
زړۀ دې خدائے پیدا دے سنګ
بې له تا نه مې خوب نه شي
په توشک او په پلنګ
د مې ګون لب له کبله
ارزو نه لرم د بنګ
ستا نادار ته ستا په لوری
هزار میله یو فرسنګ

# خوشحال خان بابا ته

ستا پۀ سیمه مې ګذر دے د ختکو خوشحال خانه
د غزل خبرات دې غواړم د غزلو شاه جهانه
خوشبویانې دې تر اوسه پۀ فضا کښې پۀ ګردش دی
پسرلی دې تلې نه دی د ادب له ګلستانه
که آمد دے که اورد دے خو چې ستا پهلاسو تېر دے
سماوی ئې زیب مونده دې سماوی دی عالیشانه
صنایع او بدایع دې تلمیحات او تشبیهات دې
د ګلاب پۀ څېر خندا کا خبر نه دی له خزانه
تا وئیل حق مې پۀ پښتو ده حق دې شته پرې دا دې حق دې
خو حساب د حقوق نشته حق به غواړې اوس له چا نه
ستا د قبر خاوره ما ته پښتانه غوندې څۀ ښکاری
چې ئې ته پۀ غېږ کښې ځائے کړې پۀ مغلو ارسلانه
ما نادار ته برخه راکړه که وی نظم که وی نثر
خو چې ستا پۀ رنګ الود وی ستا پۀ شان وی قدردانه



Pukhto.Net

که بې دسته او بې پا شوم که هر څومره کوښه کو شوم
بیا هم تا ته دعا ګو یم په سبب دې غزل ګو شوم
بې سوګنده باور اوکړه ستا د حسن د افتاب نه
لکه واوره ویلې کېږم ورځ په ورځ په کمېدو شوم
د یوسف کنعانی ښېښه نن په ما شوله راپېښه
د ګوهرو په مثال ووم خرڅ په بېعه د شیشو شوم
تقصیرونه خپل منمه خو نن زۀ پرې ندامت کړم
التجا مې کړه قبوله ستا په ښو کښې په لوئېدو شوم
تماشې د عالم مه کړه هسې نه د تماشو شې
زۀ هم هله تماشه شوم چې دیار په تماشو شوم
د غزل بناپېرۍ راشه باګرامی خیالونه راوړه
د حالاتو له کبله بې غزلو بې مصرعو شوم
ستا کوڅه زما د پاره زعفران زار دې دل وجانه
که هر څو اشفته حال ووم بیا هم ګډ په موسېدو شوم
هر یو کس مې مشتری شو هر زما په جستجو شو

چې هر څۀ مې زير خاک کړل صرف ستا پۀ جستجو شوم
پــه توحيــد د الهــی مــې چــې يقــين د زړګــی پــوخ شــو
هلــه شــمار پــۀ ادم زاد شــوم هلــه ګــډ پــۀ پښــتنو شــوم
د روښــان مــزاج لــه مخــه کــه تيــارو کښــې هــم اوســيږم
بيــا هــم طمــع د رڼــا کــړم مســتقبل تــه پــۀ کتــو شــوم
د ادب ذوق پــــۀ زړګــــی کښــــې فطرتــــی لــــرم ملګــــرو
نــه چــې نــن پــۀ ادب پــوئ شــوم اموختــه پــۀ قصــيدو شــوم
دا دنيــــا زنبــــور خانــــه ده محبــــت ورســــره مــــه کــــړه
ګنې بيا به هائے و هوئے کړې چې خوږمن ئې پۀ لشو شوم
دا کــــرم د پــــاک الله دے دا د مــــور او پــــلار دعــــا ده
پۀ ښاريه د مردګانو کښې حساب چې پۀ ژوندو شوم
زر تــــر زره بــــه دا واورې چــــې نــــادار د درپــــه خيلــــو
ســتا لــه ډيــره غمــه درده بــې غــوږو او بــې لبمــو شــوم

سـپين ږيريـو ارمـانونو مـې نـن خـوئ د زلمـو اوکـړو
د هجـر اوږده شـپه ئـې بيـا پـۀ مـا بانـدې سبا کـړه
د وخت پۀ طوفانونو کښې راګير دے نه خلاصيږی
مـور جـانې خپـل نـادار تـه دې سبا بيګـا دعـا کـړه

ژوند د دې دنیا زما زار شه تر اشنا زما
زار شه تر اشنا زما ژوند د دې دنیا زما
سل کاله ژړا زما ستا تر شانه هېڅ نه ده
ستا تر شانه هېڅ نه ده سل کاله ژړا زما
جام مُل او مینا زما بې تا اثر نه لری
بې تا اثر نه لری جام مُل او مینا زما
سترګې نا بینا زما ستا په فراقت کښې شوې
ستا په فراقت کښې شوې سترګې نابینا زما
هجر کښې خندا زما فیض و فیضان نه لری
فیض و فیضان نه لری هجر کښې خندا زما
عقل شو عنقا زما ستا په عشق کښې ورک شولو
ستا په عشق کښې ورک شولو عقل شو عنقا زما
دا به شی ریا زما سر که په تېشه مات کړم
سر که په تېشه مات کړم دا به شی ریا زما
داد زما غوغا زما خبر دې که ته نه اورې
خبر دے که ته نه اورې داد زما غوغا زما

ستا اشتی آشا زما نور به درنه څهٔ غواړم
نور به درنه څهٔ غواړم ستا اشتی آشا زما
ژوند دے آسیا زما شب وروز ګردش کښې دے
شب و روز ګردش کښې دے ژوند دے آسیا زما
هائے زما ها ها زما یاره چې عادت نه شی
یاره چې عادت نه شی هائے زما ها ها زما
خوښهٔ دې ښکلا زما ځکه ښکلی ګورمه
ځکه ښکلی ګورمه خوښهٔ دې ښکلا زما
دا تحریر انشا زما نن څهٔ عجیبه ښکاری
نن څهٔ عجیبه ښکاری دا تحریر انشا زما
دا بویه حیا زما چغې چې نادار نه کړم
چغې چې نادار نه کړم دا بویه حیا زما

اول شمع اتش بل پهٔ خپل تندی کړی
پسې تن د پتنګ ګډ پهٔ سرو لمبو شی
اے ناداره ګل ته هله بلبل رسی
چې سینه ئې ځیرې ویرې پهٔ ازغو شی

چې پېدا مې پۀ زړګی کښې ستا د وصل اشتیاق شو
خدائے رستی چې زیر خاک مې د زیست واړه طمطراق شو
د زهـرا مـخ برکـت دې دومـره زۀ هـم پـرې پـوهیږم
چې زهرا مې خدائے عمل کړو سپین زهرا زما اخلاق شو
کـاهلی پـۀ سنجاب مـه کـړه کـه دې نیـت وی دخجونـو
خوب به بیا چرته کښې اوکړې دغه وخت اوس د اشراق شو
ابتهـاج مـې د زړۀ نشـته هـر زمـان اشـفته حـال یـم
چې زمـا او ستا پـۀ میـان کښـې زرغـون کلـه افتـراق شـو
درویز ګر چې ستا د درشـو نـو لـه هر څۀ بـې خبر شـو
تـاج هغـو تـه پـۀ سر شـو سـکندر د درسـت افـاق شـو
لـږ نمـود خـو راتـه اوکـړه دخپـل حسـن پـۀ جلـوو کښـې
زړۀ مې بیا ورور د هارون شو زړۀ مې ډېر درته مشتاق شو
نـاخبرو بـه خبـر شـئ د ازار د فـاطمې د ے
چـې زمـونږ پـۀ پښـتنو کښـې عنقـا هسـې اتفـاق شـو
دا تـاثیر د آب ګـون مـخ دې دا تـاثیر د آتـش ګـون لـب
چـې آب ګـون زمـا حیـات شـو آتـش ګـون راتـه اُتـاق شـو
پـۀ هـر لـوری دا حـالات دی پـۀ هـر خـوا دا سـیلۍ راغلـه
کـه زمـونږ پـۀ کـور و کلـی خـور یـوازې دا نفـاق شـو

زۀ چې راتلم له ما نه تلي وه زما زمانه
ملګرو هغه د رحمان او د میرزا زمانه
یا مې لیدلے وے دولت یا خوشحال خان او حمید
یا مې لیدلې الغیاث وے د مُلا زمانه
یا مې نصیب وے انجمن د علی خان معز الله
یا مې نصیب وے هغه ښکلی د شیدا زمانه
اوس هم که هغه زمانه وے چې ئې زۀ غواړمه
زما غزل ته به وے هر وخت پۀ ژړا زمانه
شکر لایق خو مې پۀ ژوند باندې ښۀ ونازوو
یو ځائے مو تېره کړه د شعر د ښکلا زمانه
ناداره خدائیګو که تر مرګه ئې مونده کړمه بیا
لاړه چې یو ځل د غزلو د بابا زمانه

د شيوغ د ناکړدو له برکته
خدائے ساکن کړو پۀ سما باندې عيسی
پۀ تقوی کښې چې کوم کېف دے ساقی جانه
نشته ستا پۀ مُل کښې وايم پۀ دعوی
چې د وخت فرعونانو سر پرې ټيټ کړم
عصا غواړم درنه خدايه د موسی
تجلی د خپل جمال راته وښايه
زياتی نه غواړمه سيورے د طوبی
منتظر د ابابيل يم عام الفيل دے
ابرهه جوړ دی يهود و نصاری
د قارون د کمالاتو زوال ګوره
چې له تختهٔ ئې شو ځائے تحت الثری
د ادم و حوا زوئے شو که ئې پلار چې
دوئ پيدا دی پۀ سبب د مصطفی
ابتدا مې که د ژوند پۀ خالی لاس وه
هم لرمه پۀ خالی لاس منتهی
عظيم شان چې خدائے د ستا وته ځرګند کړو

Pukhto.Net

دا هـــم بخـــت وو د خديجـــه الكبـــرى
پـــهٔ هغـــه د واعـــظ وعـــظ اثـــر نـــه كـــا
تـــا چـــې كـــړې نـــه وى خپـــل چـــا تـــه هـــدى
هغـه وخـت هـم زهٔ دا سـتا پـهٔ يـاد كښـې غـواړم
چـې مـې سـاه صـورت كښـې پـاتې وى اخـرى
پـهٔ ټـولى كښـې دعشـاقو مـې حسـاب كـړې
چـې د ښـو بـدو حسـاب شـى پـهٔ عقبـى
تـور مابښـام مـې د زړګـى پـهٔ كشـور خـور دے
چـې راځـى بـه كلـه سـپين وخـت د ضـحى
انجمـــن د خمـــر خـــوارو مـــې خـــوښ نـــه دے
آتـــش پـــورې كـــا پـــهٔ زهـــد پـــهٔ تقـــوى
كـه تشـريح مـې د ژونـدون هـر څـومره اوكـړې
پـوئ مـې نـه دي څـوک تـر اوسـه پـهٔ معنـى
پـــهٔ نعـــرو د محبـــت منكـــر منصـــور شـــوم
مفتـــى اوكـــړه نـــن پـــهٔ مـــا هســـې فتـــوى
تخيـــل د رحمـــان خدايـــه نـــادار غـــواړى
چـې د مـرګ نـه پـس هـم تـل اوسـى يحيـى
د فاســـق فـــاجر خيالونـــه رانـــه دور كـــړې
كـړه مـې پـاک پـهٔ خپـل كـرم دزړهٔ اقصـى

خون بها به له چا غوارم لاس پۀ بل چا څنګه کیږدم
چې مې خپل اشنا قاتل شو زۀ مقتول ګودر مقتل شو
چې جمال مې د خوبرویو د نظر د لاندې تېر شو
اوس چې کوم لوری ته مخ کړم هر یو مخ راته اجمل شو دا
چې صور اسرافیل وو خو که غږ د بېلتانه وو
هم ممات ورسره راغے هم آتش راباندې بل شو
افضل عشق د افضل یار چې کوم وګړی ته نصیب شو
پۀ دنیا کښې هم ملګرو پۀ عقبی کښې هم افضل شو
څکه ګرځم او راګرځم تمامی ورځ پۀ دې لاره
پرون دلته کښې روان ووم ورک له ما څخه غزل شو
ستا د شان پۀ ائینه کښې زۀ چې ځیر شومه خپل ځان ته
ته باور راباندې اوکړه ځان ښکاره راته بدل شو
چې مې هر کله یار خپل وو غم و درد رانه پردی وو
چې مې یار رانه پردے شو غم و درد بیا زما خپل شو
طنز کونکیه نور طنز مه کړه که دې فکر وی خپل ځان ته
ته د بوس پۀ شانې سپین شوې نادار تور شو خو کجل شو

طبیبــه زر ورتــه رادرومــه چــې سســتی اونــه کــړې
ســتا پــهٔ درشــل بانــدې د مینــې رنځــوران پراتــه دی
څوک د محمود پهٔ څیر پهٔ عشق کښې غلامان پاتې شول
څــوک د مجنــون پــهٔ څېــر مــدام پــهٔ بیابــان پراتــه دی
بېلتـــون زمـــا د ارمـــانونو قاتـــل اوګرځېـــدو
ځکـه پـهٔ سپین لباس کښې مړه پهٔ ګورستان پراته دی
پــوهېږم نــه چــې پــهٔ خــزان کښــې ګــلان اوتوکېــدل
کــه پــهٔ دا مــان د غــره ملګــرو ګــل رویــان پراتــه دی
ډېــر دې د وصــل پــهٔ فــردوس ډېــر د هجــران پــهٔ جحــیم
ډېــر پــهٔ اعــراف کښــې ســتا د مینــې طالبــان پراتــه دی
نــاداره ســـتا او یـــا د نـــورو پښـــتنو شـــعرا
نشـــته حاجـــت لا خـــو شـــعرونه د رحمـــان پراتـــه دی

# يو ځل راشه د نوبنار نه

دتــــوچي رنــــو اوبـــــو تــــــه
دې خـــوږو خـــوږو چينـــو تـــه
د ســـــروګلو بــــاغيچو تـــــه
زمـــونږ چـــم زمــــونږ کوڅــــو تـــه
درتــــه ســــوال کـــؤم جانانــــه
يـــو ځـــل راشـــه د نوبنـــار نـــه

انتظـــــار کښــــي دې اوســـــېږم
لکــــه واورهٔ ويلــــــي کېــــږم
ورځ پـــهٔ ورځ پـــهٔ تــــن کمېـــږم
مــــرم پـــهٔ ځـــان بانـــدې پـــوهېږم
رنځـــور پــــروت يـــم بـــې درمانــــه
يـــو ځـــل راشـــه د نوبنـــار نـــه

د تـــــوچي د ســــيند موجونــــه
ونــــې بــــوټي کـــاڼي غرونـــه

زمـــونږ چـــم زمـــونږ کورونـــه
زمـــــــونږ لاري دیوالونـــــــه
منتظـــــر دی قـــــدر دانـــــه
یـــو ځـــل راشـــه د نوښـــار نـــه
رایــــــادیږی ســــــتا خبـــــري
ســــتا غــــزل او ســــتا ســــندري
ســــتا د فکــــر ملغلــــري
چـــي راوړي بـــه دي لـــه لـــري
اوس ئـــي اوغـــواړم لـــه ځانـــه
یـــو ځـــل راشـــه د نـــو ښـــار نـــه
د ســـندرو مجموعـــه ئـــي
د ګـــل روخیـــو قصـــیده ئـــي
د شـــهد اوو مرثیـــه ئـــي
هـــم مطلـــع او هـــم مقطـــع ئـــي
یـــو محـــیط ئـــي بـــي پایانـــه
یـــو ځـــل راشـــه د نوښـــار نـــه
پســـرلی زمـــونږ پـــۀ کلـــی
بـــي لـــه تـــا نـــه دی راغلـــی
هـــم کـــه راشـــی تېـــر شـــی غلـــی
زنګېـــــدلي خوښېـــــدلي
زیـــاتی تنـــګ یـــم لـــه خزانـــه

یو ځل راشه د نوښار نه
د اختر دمیاشتې رنګه
چې جدا یم ستا له څنګه
خوب مې نه کېږی بې تنګه
دی اورونه له هر څنګه
ژوند مې ګران دے پۀ ما ګرانه
یو ځل راشه د نوښار نه
هغه تېر ښکلی وختونه
سندریزه محفلونه
هغه ناز هغه جنګونه
د ګلونو ګذارونه
څنګه هېر به شی له ما نه
یو ځل راشه د نوښار نه
ستا نادار دا ستا پۀ طمعه
لېمه ډک ګرځی له نمه
ښۀ خبر شه پرې صنمه
اخر مری به ستا له غمه
بیا به ژاړې دل و جانه
یو ځل راشه دنوښار نه

# د ادب ناوې

نه اوس هغه پیرروښان شته
نه ملګرو میرزا خان شته
نه لایق شته درپه خېل کښې
نه رشید علی دهقان شته
نه ماستر اختر علی شته
نه اوس ناز پهٔ دې جهان شته
نه مولانا ګل محمد شته
نه نېک بخته راهی جان شته
دادب ناوې ده کونډه
نه ئې شان نه ئې پهچان شته
نه حنا لری د لاسو
نه چار ګل نه ئې پېزوان شته
نه ئې شال پهٔ تندی خور دے
نه ئې تور دراز زلفان شته
نه ئې سرې شونډې شراب شته
نه ئې سپین ښکلی دندان شته
ځان ته ناسته مروره

لــــه خپـــــل ځـــــان نــــه نـــــا خبــــره
پــــــــه ژړا پـــــــه واويـــــــــلا وي
لــــــه ماښـــــامه تـــــر ســـــحره
بــــــې ګفتـــــــاره لال زبانـــــــــه
چـــــا ســــره نـــــه کـــــړي خبــــره
د دې دور پښـــــــــتنو نـــــــــــه
ښـــــــکاري ډېـــــــره مـــــــروره
د پـــــــالنې ئـــــې څـــــوک نشـــــته
ځکــــــــه هســــــــې دې ابتــــــره
خپـــــل اولاد وتـــــه چـــې ګـــــوري
خـــون ئـــــې څـــاڅي لـــــه ځيګـــره
زمــــونږ بخـــت بــــه پســـې لاړ شــــي
رانـــــــه درومــــــــې بختـــــــوره
دې چـــــې ژونـــــد پـــــرې تيرولــــــو
لاس ئــــــې پورتــــــه دی لـــــه ســــره
ســــــباوي بــــــه تښـــــــتيدلې
د تــــــوچي نــــــه بــــــه وی تللــــــې
مـــــونږ بـــــه هـــــم پســــې ژړېـــــږو
دے بـــــــه هـــــــم وی ژړېـــــــدلې


Pukhto.Net پښتو

# د لایق شاه درپه خېل پهٔ مرګ

چې لایق درپه خېل لاړو پرې یتیم وزېرستان شو
د ادب پهٔ مرغزار باغ مسلط سپیره خزان شو
ادیبان منم چې ډېر دی که نور هم له دې نه ډېر شي
خو زما دا طمع نه شي چې بل څوک د ده پهٔ څېر شي
بل چې داسې ګل تېوکېږي زر کالونه به پرې تیر شي
چې پهٔ بوئ او پهٔ زینت ئې زیبا واړه ګلستان شو
د ادب پهٔ مرغزار باغ مسلط سپیره خزان شو
یو خوا ښهٔ نثرنګار وو بل خوا ښکلې غزل ګو وو
ښهٔ اکمل د افسانو وو ښهٔ اوچت شان تاریخ ګو وو
بالالوئې ناول نګار وو بالا ښکلې نظم ګو وو
کور پهٔ هر سړی ورانیږي وران پهٔ ده باندې جهان شو
د ادب پهٔ مرغزار باغ مسلط سپېره خزان شو
ډېر مخلوق ئې د تیارو نه لاس نیولی رابهر کړو

هر سړی ته ئې پۀ لاس کښې د خپل علم مشال ورکړو
چې پۀ هیڅ څۀ خبر نه وو ده له هر څۀ نه خبر کړو
زړۀ او ذهن د هر چا نن پۀ سبب د ده روښان شو
د ادب پۀ مرغزار باغ مسلط سپیره خزان شو

د دې دهر پۀ ظلمت کښې یو روښانه سپین مهتاب وو
پۀ خصلت کښې سپین کونتر وو نه شقی لکه عقاب وو
مشغولائې د زیست واړه یو قلم او یو کتاب وو
دې خو لاړو خو افکار ئې راته پاتې یو نشان شو
د ادب پۀ مرغزار باغ مسلط سپیره خزان شو

د پښتون بابا اولاد وو پۀ پښتو باندې مئین وو
یو د ښۀ صورت څښتن وو بل د ښۀ سیرت څښتن وو
پۀ خوی بوی د پسرلی وو خور پۀ دشت او پۀ ګلشن وو
خو رحلت ئې رانه اوکړو راته پاتې ئې ارمان شو
د ادب پۀ مرغزار باغ مسلط سپیره خزان شو

د پښتو پۀ مشقت کښې شپ وروز خدائیګو قلق وو
پۀ هر چا ئې حق درلودو خو پۀ ما ئې بالاحق وو
ځکه ما ته ئې ښودلے د پښتو ادب سبق وو
زړۀ مې ځکه پسې ژاړی روح مې ځکه پۀ سوران شو
د ادب پۀ مرغزار باغ مسلط سپیره خزان شو

# زما مورې محترمې

زمــا مـــورې لـــه تـــا زار شـــم
يـــو وار نـــه پـــهٔ هـــزار بـــار شـــم
تـــا ماشـــوم غېـــږه کښـــې لـــوئے کـــړم
پـــهٔ ښـــهٔ بـــد بانـــدې دې پـــوئ کـــړم
تـــا بـــه مـــا تـــه د تـــن وينـــه
راکولـــه تـــل پـــهٔ مينـــه
مـــا بـــه کلـــه چـــې ژړا کـــړه
تـــا بـــه شـــپه راتـــه ســـبا کـــړه
يـــوه شـــپه کښـــې مـــې څـــو ځلـــې
تـــه لـــه خوبـــه ويښـــولې
بيـــا بـــه هـــم تـــه پـــهٔ جـــار جـــار وې
کـــه هـــر څـــو بـــه بـــې قـــرار وې
زهٔ بـــه چرتـــه چـــې نـــاجوړ شـــوم
يـــا بـــه لـــږ شـــان تـــود و ســـوړ شـــوم

ما به اوکړلي کوکارې
ته به راغلي په تلوارې
چې جار جار بچیه وایه
خپل تکلیف راته اوښایه
له روڼي به دې لغړ کړم
سر تر پایه به دې غوړ کړم
دا د ستا ډېر خدمتونه
د شپې ورځې محنتونه
خدائیګو نه رانه هېرېږی
ګام په ګام راته یادېږی
کله کله به لمبو ته
کله کله به اوبو ته
ګډ یدلم تښتېدلم
تا به کلک را اونیولم
زۀ په هېڅ نه پوهېدلم
په هر لور به زغلېدلم
نور به څۀ درته اووایم
په کوم شان به دې وستایم
خو اوس لنډه قیصه دا ده
چې اباده دا دنیا ده
زۀ چې څو دلته ژوندے ووم

که بابا ووم که زلمے ووم
کړم دا ستا به خدمتونه
ډېر پهٔ مالرې حقونه
تا چې څهٔ راسره کړی
نه دی سیند د توچی وړی
هغه شپه وی که سحر وی
که غرمه که مازیګر وی
ستا خدمت وته تیار یم
که هر څو زهٔ بې قرار یم
ستا رضا زما رضا ده
ستا دعا مې مدعا ده
ستا د پښو لاندې جنت دے
ستا خدمت لوئے عبادت دے
اے زما ګرانې مورجانې
درته غوارم دعاګانې
ستا رضا ته ارزو مند یم
زهٔ نادار دا ستا فرزند یم
درنه غوارمه بخښنه
ډېره ډېره ستا مننه

Pukhto.Net

# بلبل

پـه یـو ګلشـن کښـې یـو پریشـانه بلبـل
څـهٔ عجیبـه شـانې قیصـې اوکړلـې
زهٔ تـرې راتلـم خـو بـس ایسـار ئـې کړمـه
پـهٔ مـا ئـې هلتـه کښـې څـو شـپې اوکړلـې

نـور څـهٔ خـو نـه وی خـو شـوملې او دوډۍ
دا ئـې زمـا پـهٔ میلمسـتیا کښـې راوړې
پـهٔ سـپینو غاښـو مـا قبـولې کړلـې
ځکـه چـې دهٔ هـم پـهٔ خنـدا کښـې راوړې

بیـا ئـې وئیـل راتـه نـاداره یـاره
انشـاءالله عقـل و هنـر خـولـرې
پـهٔ دې رواج او پـهٔ سـماج خـو مـدام
لیکـې اشـعار او پـرې نظـر خـولـرې

شـاعر سـړے ئـې تـه مـې ځکـه خـوښ شـوې
زهٔ اوس لـه تـا یـوه پوښـتنه کـوم
تـه بـه د خـدائے د پـاره حـق وینـا کـړې
زهٔ بـه حـال نـه وایـم دا ژمنـه کـوم

اول خــــو دا چــــې ګـــــلاب پـــــاڼې پـــــاڼې
شـــولو بوســـتان هــم وران ویجـــاړ لیـــده شـــی
نـــرګس رامبیـــل او ریحـــان هغـــه خوشـــبو
نــه کــړی ژونــدون ئــې همــه شــاړ لیــده شــی

نـــه هغـــه تورتـــور بوراګـــان راځـــی اوس
نــه پــۀ ګلشـــن کښــې اوس مالیــار ښــکاریږی
نـــه څـــوک امیـــد د بهـــارونو لـــری
نـــه پـــۀ هغـــه شـــانې ګلـــزار ښـــکاریږی

هــر خــوا چــې ګــورم تــور تمونــه جــوړ دی
ســحر هــم ورک دی د تیــارو پــۀ غیــږ کښــې
چــې پــلاز نیکــه ئــې بغــاوت تــرې کــؤو
نمســی ئــې پــروت دی د هغــو پــۀ غیــږ کښــې

تـــورو زاغـــانو هـــم لبـــاس بـــدل دے
چمـــن تـــه راغلـــل د بلبـــل جـــامو کښـــې
خـــار دارو ونـــو هـــم ځانونـــه پـــټ کـــړل
چمــن کښــې شــنې شــولې د ګــل جــامو کښــې

هغـــه شـــمیم او هغـــه بـــاد صـــبا
هــم نــه راځــی شــائد خفــه چــې نــه وی
دغـــه ســـپیره او دغـــه رد مـــاحول تـــه

سترګې ئې سرې نه وې غصه چې نه وي

ځکه چې اوس هغه وختونه نشته
چې په هر کور به خوشحالیانې کېدې
هغه طبیب هغه روغتون هم نشته
چې د رنځور به دوایانې کېدې

اوس خو که شته خو غمکدې دي واړه
شور او غوغا اورم ویرونه اورم
ماحول زخمي دے د ستم په الماس
تمامه شپه ئې فریادونه اورم

د تورې شپې د تاریکۍ له مخه
ښخوا به هر کور کښې ډیوې بلېدې
نن په تمام پښتون اباد کلي کښې
د چا د لاسه سرې لمبې بلېدې

خوږې خبرې مې تر غوږ نه راځي
هر دم ترخې ترخې خبرې اورم
په فردوسي خاوره لمبې بلېږي
شرنګار د تورې او د زغرې اورم

ورور شو بې خوره خور بې وروره شوله
مېندې شوې بورې ناوې کونډې شولې

پــــهٔ زړهٔ او ذهــــن د ســــماج ملګــــرو
تــــورې مچــــۍ د جبــــر پنــــډې شــــولې

دغــــه د ســــرو ســــپينو وطــــن اوګــــوره
نــــن پــــهٔ ګولــــو او پــــهٔ لمبــــو بــــدل شــــو
هغــــه شــــفقت او اخــــوت د خلقــــو
نــــن پــــهٔ چــــاړو او پــــهٔ نېــــزو بــــدل شــــو

محــــراب هــــم وران شــــولو امــــام هــــم نشــــته
قــــران پــــهٔ وينــــو ســــيپارې پــــهٔ وينــــو
هــــر يــــو د پــــوال نــــن لــــوټې لــــوټې شــــولو
واړه کــــوڅې ښــــکارېږي ســــرې پــــهٔ وينــــو

د مجبــــورۍ پــــهٔ تــــار ګنــــډلې شــــونډې
اوســــې وګــــړي غرېــــو نيــــولي ژونــــد کــــړي
لکــــه پتنــــګ چــــې پــــهٔ لمبــــو ســــوزېږي
دا رنګــــې دوئ هــــم ســــوزيدلي ژونــــد کــــړي

نــــو اوس مــــې پــــوئ کــــړه زهٔ خــــو نــــه پــــوهېږم
چــــې دا زمــــا او کــــه دا ســــتا غلطــــي ده
د دغــــه ســــوال جــــواب هيڅــــا را نــــه کــــړو
ځکــــه رښــــتونې ده رښــــتيا غلطــــي ده

ما چې اولېدو کردار د پښتنو
خوښ مې ډېر شو کار روزګار د پښتنو
تش په خله چې پښتو وائی پښتو نه کا
ریه مه ئې کړې په شمار د پښتنو
که ئې هند او یورپ تل ورانول غواړی
مه شه وران بالاحصار د پښتنو
د پښتو رسم ورواج د سړی زده شی
دکان ښه وی په بازار د پښتنو
که رباب زیر او بم نه وی بیا هم خوند کا
که دې واورېدو زار زار د پښتنو
پښتانه د احمد شاه بابا نمسی دی
ځکه دار دے میدام یار د پښتنو
یو مې خوښ د دوئ سرکش کینه ناک زړونه
بل مې خوښ په سر دستار د پښتنو
هغه چا وته پښتون وئیلې نه شم
څوک چې تلې نه شی په لار د پښتنو
د اغیارو په څېر ها او نا ئې نه وی
یو وی قول یو اقرار د پښتنو
هر وینسته ئې د پښتو پښتو نعرې کا
چې مېدان ته شی نادار د پښتنو

چې نه ستم نه ستمګر پېژني
څه به ما ښام څه به سحر پېژني
نه ئې اتش نه ئې بنې ته حاجت
زرګر په سترګو باندې زر پېژني
چا چې د عشق ناوې ليدلی نه وی
نه ئې سينګار نه ئې زېور پېژني
ما څوک په خپل ديار هم نه پېژني
جانانه تا په بحرو بر پېژني
ځان که هر څو کړې په دروغه خوشحال
جهان د مينې مرور پېژني
بس خوارول کا چې په کوم چا راشي
عشق نه محمود نه سکندر پېژني
د سترګورو سترګې هم ړندې شوې
چې نه حسين او نه شمر پېژني
څوک وهغو ته هنر مند نه وائي
چې بې له مينې بل هنر پېژني
چې رود نيل مې د چشمانو مست شي
بيا نه کچکول نه قلندر پېژني
شونډې ګنډلی په نادار حالاتو
ګني د هر چا خېر و شر پېژني

په وسیم صورت شیدا یم د دلبر
ځکه ژاړم هر ماښام او هر سحر
څوک همدم و همدرد نه لرم په عشق کښې
د غم ورځې تېرووم سر به سر
چې ناراض اشنا رضا شی زه رضا یم
باقي نه غواړم ملګرو سیم و زر
سپین رخسار وته ئې ځکه خورشید وایم
چې ځلیږي زیات په شپه کښې له قمر
د جنت حورو غلمان به ترې نه زار کړي
که چا اولیدو زما د یار بشر
واړه عمر به مې زړه ورباندې موړ شی
که په خوب کښې راښکاره شو یو نظر
نه مې اولید نه کوڅې وته ورتلې شم
ځان ته ناست یم له هر چا نه مرور
چې ئې زید د عشق لذت ترګلو تېر کړو
ځکه تېر شو په خپل در و په پدر
بې له تا ئې بل څه زیب و زینت نشته
د ژوندون د ناوې زېب ئې و زیور
د نادار د زړګی حال یوسه احمد ته
په یثرب دې که نسیمه کړو ګذر

چې په کور کښې ئې دينار او سيم و زر وي
څه خبر به په فردوس او په سقر وي
د دولت په ميو هر زمان مدهوش وي
پروانه کا که سحر که مازيګر وي
چې سود خور وي او سود کاندي څه پکار دي
مخ ئې ورک شه که دې ورور که دې پدر وي
خپلول د هغو خلقو مناسب دي
چې اخلاق پکښې موجود د پېغمبر وي
ته به خامخا د بل نه ضرر مومې
که ورکړے دې بل چا وته ضرر وي
اميد مه کوه چې بيا دې کور ته راشي
چا چې کړے يو ځل قبر ته سفر وي
ژوند د دهر دې که تېر وي په تو شکه
هلته نه د چا تو شک او نه تغر وي
نيک عمل او نېک خوئي په ژوند اختيار کړه
په خبرو د نادار دې که باور وي

Pukhto.Net

د فــراق پــهٔ اتــش ســوے او ســوخته یــم
دوایــاني دې طبیبــه اثــر نــه کــا
ســتا د یــار وتــه داخــل شــوم خــو ویرېــږم
چــې سـپاهیان د بېلتانــه مــې بــدر نــه کــا
د مغــرب جلادیــان تــورې پــهٔ لاس راغلــل
خدایــه لاس چــې پــهٔ عجــم برابــر نــه کــا
د بېلتــون نــه دې پــهٔ عشــق کښــې نــاز نخــره ده
پــهٔ مشــتاقو خلقــو جــوړ چــې محشــر نــه کــا
چې محب د خپل محبوب پهٔ څنګ کښې ناست وی
هغــه شــپه دې خــدائے ســل کالــه ســحر نــه کــا
زړهٔ دې نــه دے محبــوبې ســنګ خــارا دے
ژړاګــانې مــې پــهٔ تــا چــې اثــر نــه کــا
پــهٔ خپلــوی چــې د نــا اهلــو فخــر کانــدی
دغــه واړه بــې هنــر دی هنــر نــه کــا
خــلاوت د شــب خیــزی چــې ورمعلــوم شــي
هغــه کــس بــه خــوب ارام پــهٔ بســتر نــه کــا
کــه تــه دا وارې نــادار وتــه پخــلا شــوې
خــدائے ګو بیــا بــه دې پــهٔ ژونــد مــرور نــه کــا

زړۀ مې غواړی د ساقی د لبو جام
ځکه داسې بې سکون یم بې ارام
که ستم دې که کرم دې ستا پۀ عشق کښې
ما نیولی پۀ کرم دی د تمام
چې دا ستا جفا بدله پۀ وفا شی
خدائې به کله راولی هغه ایام
پۀ دنیا کښې به پۀ هر څۀ هر څۀ تېر شم
تېر به نه شم پۀ دعوی د ګل اندام
مینه هغه سلطانی ده پۀ دنیا کښې
اے زړګیه چې محمود ئې کړو غلام
ستا د ښو تلی به ښکل کړمه قاصده
که دې راوړو د ګل فام اشنا پیغام
که خلیل دے که موسی دے که عیسی دے
واړو کړے دے پۀ ستا پسې قیام
زۀ نادار دا ستا یاری د رب نه غواړم
پۀ سجود کښې ورته ژاړم هر مدام

د دلبر پهٔ غم و درد کښې هر زمان يم
د ګلاب پهٔ څېر پهٔ پرې سينه خندان يم
زمانه رابانـدې بيا هم باور نه کړی
که پهٔ عدل و انصاف نوشېروان يم
بې رهبره چې پهٔ لار د منزل يون کا
ستا د مينې محبت هغه کاروان يم
خپل خپلوان مې ابادی وته راکاږی
زهٔ مجنون يم خوښ خرم پهٔ بيابان يم
يعقوب نه يم چې يوسف راځنې ورک دے
نابينا دا ستا پهٔ طمع پهٔ چشمان يم
زندګی مې پهٔ مثال د زندانی ده
چې پهٔ ذېل د تورو زلفو بنديوان يم
د ژوندون لګام مې لاس ته نه رادرومی
پهٔ هر دم لار لندووم اب روان يم
مدعا مې پېژندنه ستا د شان ده
دې د پاره زهٔ راغلے پهٔ جهان يم
نا بيناو ته مې فيض کله رسيږی
د مهتاب پهٔ دود پهٔ ابر کښې پنهان يم

پـــهٔ غوړونـــو درانـــه کلـــه زمـــا اوری
د خوشـبو پـهٔ خبـر پـهٔ پټـه خلـه ګویـان يـم
خبـر کـه تـه زمـا پـهٔ نـه لیـدلو خـوښ ئـې
زهٔ نـادار دې د لیـــدلو پـــهٔ ارمـــان يـــم

ناقـده خبـر دے کـه تنقيـد کـوې تـه
پـهٔ ادبـی سـيمه مـې بريـد کـوې تـه
خـو زهٔ پـوهيږم چـې صـبا بـه مـې بيـا
د حـق شـناس غونـدې تائيـد کـوې تـه

پـــت دې لاړو تـــا تـــه نشـــته دے لاپتـــه
مـرګ بهتـر دے نـه چـې ژوند دې شـي بـې پتـه
تـاج محـل مـې ميراثـي مونـدلے نـه دے
شهنشـاه يـم سـتا د عشـق لـه برکتـه
چـې د مشـکو او عنبـرو بـاران اوری
کـه شـميم د زلـف راځـي لـه هـر جهتـه
التجـا درتـه کـوم چـې د چـا يـار شـه
لاړ خـو نـه شـې د لقمـان د لاس حکمتـه
مـا سـپوا لـه دې چـې زيـان وی پـهٔ هـر ان کښـې
نـور مـې سـود نـه موندلـه مينـې محبتـه
کـم و بـيش بـه رانـه اوشـي څـهٔ بـه وايـم
خـدائے اګـاه دے د هجـران لـه سـخت سـاعته
کـه حيـات دے د حرمـت سـره حيـات دے
حيـات څـهٔ ممـات بهتـر دے بـې حرمتـه
ښـکلی بـې همتـه چـا مونـدلی نـه دی
تـه لـه ښـکلو ګيلـه مـه کـړه کـم همتـه
پـوچ ګفتـار بـه ناصـحان پـهٔ خپلـه تـرک کـړه
کـه خبـر شـي سـتا د عشـق لـه فضـيلته
د نـادار پـهٔ خـاطر تـل خـدائے تـه دعـا کـړه
دا قيصـه دربانـدې سـپارم امانتـه

دُر دې یـــا ګـــوهر یـــا ملغلـــرې دی
کښــلې مــې چــې ســتا پــهٔ نــوم ســندرې دی
تېــرې مــې چــې ســتا پــهٔ اطاعــت کښــې دی
هغـــه شـــپې مـــې واړه بختـــورې دی
هــیڅ تــاثیر پــرې نــه کــړی مغربــی شمشــیر
مـــونږ ورتـــه اغوســـتی داســـې زغـــرې دی
اذن ابابیـــل تـــه کـــړه چـــې زر راشـــی
راغـــې عـــام الفیـــل جـــوړې لښـــکرې دی
ســـتا د ډېـــر ښائســـت پـــهٔ رونړ مشـــال یـــاره
ســـوی مـــې د زړهٔ پتنـــګ وزرې دی
خوند د لبو جام کښې چې خدائے ایښې دے
نـــه دومـــره قندونـــه نـــه شـــکرې دی
دغـــه دې آمـــد آورد څـــوک نـــه ګڼـــی
څـــهٔ چـــې دی اشـــنا داســـتا خبـــرې دی
لارو د منـــزل وتـــه کـــه پـــام اوشـــی
څـــومره چـــې اوږدې دومـــره ژورې دی
څـــهٔ پـــهٔ عجیبـــه دور پیـــدا یمـــه
شـــپې د ګـــور لـــه کـــور څخـــه بهتـــرې دی
هـــر څـــوک د نفـــاق پـــهٔ ګـــرد الـــود ښـــکاری
دلتـــه د الفـــت قیصـــې نـــادرې دی
ځیـــر ورتـــه کتلـــې نـــادار نـــه شـــمه

سـتـرګې د يـار دومـره زوروري دی

✲ ✲ ✲ ✲

چـا تـه د مينـې ابتـدا د انتهـا غونـدې شـی
چـا تـه ملګـرو انتهـا د ابتـدا غونـدې شـی
چـې د يوسـف د لاس رومـال بـه خدايـه کلـه مـومم
د سـماج سترګې چې پرې اومرېم بينـا غونـدې شی
مـلا ئـم تـن لکـه د مـوم زۀ بلومـه ځکـه
چې پۀ هر ګوټ کښې توره شپه ده لړ رڼا غونـدې شی
د ژوندانـه ټـول همـدمان د بـې کسـی پـۀ لحـاظ
چـې راتـه ګـوری لـه ناکامـه پـۀ ژړا غونـدې شـی
د رڼـو اوښـکو پـۀ شـبنم زمـا پـه يـخ اسـويلو
د رقيبـانو د بوسـتان ګلونـه وا غونـدې شـی
د چـا پـۀ مـخ چـې پلوشـې دا سـتا د مـخ اولګـی
زړۀ ئې روښان شی مخ ئې هم د سپين سبا غوندې شی
نـه بـه پـۀ کلی د ښائسـت کښـې ستا ثـانی پيدا شـی
نـه بـه پـۀ قـام کښـې د عشـاقو څوک زمـا غونـدې شـی
قاضـی صـاحبه پـام بـه ډيـر کـوې خطـا چـې نـه شـې
د عشق پۀ صلحه کښې انسـان کلـه خطـا غونـدې شـی
کلـه نـا کلـه نـاروا هـم شـی روا پـۀ انسـان
نـاداره کلـه بيـا روا هـم نـاروا غونـدې شـی

تمامه شپه زما د خیال مصور
قلم پهٔ لاس د ستا تصویر جوړوی
کله تهٔ وچی کله کابل یادوی
کله عکسونه د کشمیر جوړوی
هر یو ناقد دې ښهٔ صحی تنقید کړی
نه بېهوده چې تري تفسیر جوړوی
چا ته د لبو د باده جام ورکړی
چا ته د زلفو نه زنځیر جوړوی
پهٔ نیمه لار به تاخت تاراج پرې راشی
بې بدرګې چې څوک بهیر جوړوی
تقدیر کښې هرګز تغیر نه کیږی
زړهٔ کښې که هر رنګې تدبیر جوړوی
خاونده ته ئې ویر پهٔ کور کښې جوړ کړی
څوک چې زمونږ پهٔ کور کښې ویر جوړوی
دغه پیری د نادار سود نه لری
چې د مرید نه ځان ته پیر جوړوی

پـه خپـل شـوم طـالع مـې دومـره بـاور نـه شـي
چـې پـهٔ ژونـد بـه مـې اشـنا راسـره ښـهٔ شـي
هـره شـپه مـې غـم الـود زړهٔ سـتا پـهٔ يـاد کښـې
پـهٔ ژړا ژړا چـې سـتړے شـي اوده شـي
څوک فرهاد شي خپل تند ے پهٔ تېشه مات کا
څـوک پـهٔ هيلـه او اميـد ورتـه زاړه شـي
نهايـت بـه ګلابـي رخسـار حاصـل کـړي
چې پهٔ ډېر همت څوک اوښکه شي اوبه شي
ممـات ښـهٔ دے چـې ايمـان سـړے درلـودی
نـه هغـه چـې پـهٔ ژونـدون بانـدې څـوک مـړه شـي
سـتا د عشـق پـهٔ اتـش دان کښـې څکـه خـوښ يـم
چـې پـهٔ سـرو لمبـو سـوخته شـي اخـر سـره شـي
پـهٔ ژړا مـې چـې دا سـتا پـهٔ غـم کښـې وينـي
پـهٔ ژړا راتـه د چـم واړه واړه شـي
کـه رادرومـې نـن پـهٔ نـن ديـدن تـه راشـه
د نـادار درپـه خېـل صـبر زيـاتی نـه شـي

ځوک چې پهٔ خله کښې اشنا ستا د مینې خوند نه لری
پهٔ شته ژوندون کښې ئې هم وګڼه چې ژوند نه لری
اے د قندو طلب کونکیه چرته بل خوا لاړ شه
پهٔ دې بازار کښې دکانونه شته خو قند نه لری
ځان چې صادق لکه مجنون کړې بیا پرې یون کوه تل
لارې د مینې که اوږدې دی هم خو بند نه لری
هغه دلدار ته به زهٔ څهٔ د ځان ستاینه اوکړم
چې بې باوره دے باور مې پهٔ سوګند نه لری
ځوک د خوشحال خټک پهٔ شان د خپل فرزند نه تنګ وی
ځوک ارماني د فرزندانو وی فرزند نه لری
د هر چا خوښه خو زما خوښه ئې نه خوښوی
ځوک پهٔ غزل کښې ښکلے رنګ چې د مومند نه لری
ناداره مړ ئې وی ضمیر چې پهٔ دې دور کښې هم
سالم ګرځیږی پهٔ زړګی کښې څهٔ پیوند نه لری

چې د ژوندون پۀ صحيفو کښې مې جانان لټوو
خلقو بـه څۀ وئيل خو مـا پکښې خپـل ځان لټوو
څيـرې ګرېوان او تشـنه لـب اولېمـه تـر پـه اوښـکو
لکـه مجنون پۀ داسې حـال کښې مې ارمـان لټوو
چې تفـاوت د سـيم و زرو ښـه څرګنـد وو پکښې
د زمـانې پـۀ بـازار مـا هغـه دکـان لټـوو
لکـه يوسف خپـل صداقت ورځنې خلاص کړمـه زۀ
زليخـا خويـو کـه هـر څـو راتـه زندان لټـوو
چې منصورى نور ئې ځليږى د رخسار ګونځو کښې
د عشق مضمون د پاره ما داسې عنوان لټـوو
دا سـتا د مينې محبت ورکـه رمـه ئې غوښـته
د تخيـل شـپونکى مـې ځکـه بيابـان لټـوو
چا راتـه ويـل چې د خپـل زړۀ ورکـه دې چرتـه مونده
زۀ هم شکمن شوم ستا پۀ لاس کښې مې ګرېوان لټوو
هغه رنځور چې دې تعجيل کړى خام شعوره ښکارى
ګنې ايـوب خـو ځـان تـه صبر او ايمـان لټـوو
نـاداره ځـان تـه ديوانـه کـه فرزانـه اووايـم
چې پۀ شيشو کښې بـه مې لال د بدخشـان لټـوو

ستا پـهٔ غـم کښـې بـه ترکومـه تېروومـه ژونـدون هسـې
لکـه ژونـد د وصـال لنډ وو خـدائے دې لنډ کړه بېلتـون هسـې
چـې پـهٔ ډېـرو ژړاګـانو ئـې لیلـی خپلـه رضـا شـی
مینـه هسـې رنګـې خونـد کـړی جنـون هسـې مجنـون هسـې
نقـش د یـار و نقـش د مینـې چـې لـه زړهٔ مـې پـاکیزه کـړی
خـدائے زده چرتـه بـه مونـده شـی سـاحر هسـې افسـون هسـې
نـه بـه شـوے وی پـه هیچـا نـه بـه او کانـدی پـهٔ هیچـا
لکـه زهٔ ئـې چـې وېـزار کـړم د خوبـانو بېلتـون هسـې
هغـه نـن مـې چـې اغـاز کـړو د حـالاتـو پـهٔ زنـدان کښـې
بـل مـې نـه وو بیـا لـیکلے عنـوان هسـې مضـمون هسـې
د خـالق د جـاه لـه مخـه صـرف دومـره خـو مـې پـوئ کـړه
خـو بـه سـترګې غړوومـه بـې سـکونه محـزون هسـې
لکـه تـا پـهٔ رڼـا ورځ مـې چـې کشـور د زړهٔ تـاراج کـړو
کلـه وو بـه دل و جانـه د مغلـو شـب خـون هسـې
زمـا پـت زمـا ښـېګړه زمـا تـوان زمـا وفـا بـه
در معلـوم شـی خـو اوس څـهٔ شـول تـا خـو وئیلـه پـرون هسـې
لکـه تـا چـې خپـل خلیـل تـه خپـل کلـیم تـه امـن ورکـړو
مـا هـم اوسـاتې اے خدایـه پـهٔ دې وخـت کښـې مـامون هسـې
د ممـات پـهٔ انتظـار د ے الـوداع بـه اوس حیـات کـا
ستا نـادار پـهٔ درپـه خیـل کښـې تـا پسـې د ے محـزون هسـې

زړۀ کښې زما داسې دلبر اوسیږی
لکه صدف کښې چې ګوهر اوسیږی
شپه که هر څومره له تیارو ډکه ده
بیا ئې هم غېږه کښې سحر اوسیږی
د اولیاؤ کرامت ته ګوره
چې پۀ کچکول کښې سمندر اوسیږی
ستا پۀ ثنا باندې مشغول دی واړه
که څۀ پۀ بحر څۀ پۀ بر اوسیږی
خوشنودی هغو د کونین اومونده
چې تر ابده ستا پۀ در اوسیږی
نهایت هار شی د لیلی د غاړې
پۀ سرو لمبو کښې که سره زر اوسیږی
څوک چې عادی د شب خیزۍ اوګرځی
بخت ئې بېدار وی بختور اوسیږی
نادار پۀ ګرانو مرحلو کښې د عشق
څیرې ګرېوان او لیمه تر اوسیږی

پوهېږم نه چې اوس به خپل زخمي ګوګل ژړووم
که به په وينو سره توچي که به کابل ژړووم
اے د مغرب د خاک حاکمه ته چې ما ژړوې
ځان ته خوښېږمه د ځان نه دې اول ژړووم
تر څو چې ژوند وی تر هغې به زۀ په هر محفل کښې
د چا په وينو سور تند ے د چا څنګل ژړووم
پرون سپرلی ته خزان څۀ داسې خبرې اوکړې
چې ځان تيار کړه د ګلشن دې هر يو ګل ژړووم
لکه دا تيا چې پل په پل زما غندنه اوکړه
زۀ هم همت کوم چې تا به پل په پل ژړووم
څنګه چې تا په نيمو شپو زمونږ واړه ماشومان
دی ژړولی تا به داسې يو په سل ژړووم
دومره خو ته هم ځان پرې پوئ کړه سرو سترګی لرې
چې ته له څۀ ئې چې به ستا د لارې مل ژړووم
دا مې يقين دے چې که خدائے کاندی نادار در پۀ خېل
حساس ياران به مې نن بيا پۀ دې غزل ژړووم

پـه لېمـو کښـې مـې دلبـره صـبح وشـام وی سـتا عکسـونه
هــر زمــان درپســې ژاړم هــر زمــان کــؤم ويرونــه
نه مې تـه د ځـان اشنا کړې نه مې ځـان دا سـتا اشنا کړو
هســې خامخــا مــې اوکــړل دا بــې ځايــه تکليفونــه
خـالی لاس چې لـه کـور اوځـی پـۀ خـالی لاس بـه رادرومـی
کــه هــر څــو ئــې وی لیــدلی دکانونــه بازارونــه
درنـاوے سـتا د ښائسـت کـړم چې ګنـډلی خلـه ګرځيـږم
ګنې ايښې مې ګيلې دی پۀ زړګی کښې غرونه غرونه
پـۀ درګـاه د الهـی نـن پـۀ تاريکـه نيمـه شـپه کښـې
سـتا پـۀ يـاب مـې دی نيـولی پـۀ دعـا دواړه لاسـونه
سرې لمبې د ډېر ښائست چې ستا پۀ ښکلی مـخ بليږی
کــه د ګلــو پــۀ ګلشــن کښــې لګيــدلی دی اورونــه
د زرګــر د امېلونــو وهغــو تــه حاجــت نشــته
چې پـۀ غـاړه ئـې زانګيـږی خپـل د اوښـکو اميلونـه
د ګلابــو د ســنبلو مرتبــه مونــدوې نــه شــی
تــر ســماء کــه ورســيږی پــۀ قــد ســروې چنارونــه
سـتا د عشـق سـيلاب اغسـتې لکـه خـس پۀ وړانـدې درومـم
پـۀ نصـيب کښـې مـې چپـې دی پـۀ نصـيب مـې ګردابونـه

د وطن سپینی کوترې الوتے نه شی هوا ته
دخوړلو پهٔ طلب ئې تل غوټې کاندی بازونه
اے نادار ه ځان ترې ژغوره هسې نه چې دې لاهو کړي
توچی بیا پهٔ چپو راغله توچی بیا وهی موجونه

ستا یاری مې تمنا وه
راته اور واړه دنیا وه
ورځ مې هم پهٔ هائ و هوئ وه
شپه مې هم پهٔ واویلا وه
زندګی مې زندانی وه
که کوځه زما او ستا وه
پهٔ درګاه د الهی کښې
مې هم دا یوه دعا وه

نــه منصــور پــهٔ چغــو ســر شــوم
نــــه مــــې ســـتا يـــارى رســـوا وه
نــــه مجنــــون ووم تښـــــتېدلې
چـــې قبولـــــه مــــې صـــحرا وه
نــــه مــــې كـــړى څـــهٔ گنــاه وو
نــــه مــــې كـــړى څـــهٔ خطـــا وه
پټـــــه مينـــــه مـــــې پـــهٔ زړهٔ كښـــې
پټـــــه كـــړې لــــه هــــر چـــا وه
پـــــټ مـــــې كـــړى فريادونـــــه
هــــم پــــه پټــــه مــــې ژړا وه
نــــه مــــې څــــوک راخبــــر كــړي
نــــه مــــې كــړى څــهٔ گيلــه وه
ســـتا پـــهٔ هـــره يـــوه خـــوښ ووم
كــــــه رواكــــــه نــــــاروا وه
تـــا چـــې بيـــا زمـــا د پـــاره
مناســــــب دومــــــره ســـــزا وه
وايــــه كــــوم اســــلام دې اوكــــړو
وايــــــــه كومـــــــه دې روا وه
وايــــه كــــوم رنــــگ دې اختيــــار كــــړو
وايــــــه كومــــــه دې وينــــــا وه

# انس نامه

مونږ خبر نه وو له تا نه
د سوخته زړونو درمانه
چې به ته مونږ ته رادرومې
مونږ به تا ته به مونږ مومې
د رب ډېر شکر ګذار یم
په دربار ئې منت بار یم
مبارک دې دا راتلل شه
بختور بختور دې هر منزل شه
خوشحالي دې را پیدا کړه
په هر لورې دې رڼا کړه
غم و درد دې رانه دور کړو

د سنبلو بوئ دې خور کړو
ستا راتګ زمونږ د پاره
یو انعام دے له غفاره
اوس مې دا وصیت واوره
پرې هواره نکړې خاوره
زۀ به مړ لا به ژوندے ووم
لا به زوړ لا به زلمے ووم
خو چې هېرې درنه نه شی
زما زړۀ به درنه بنۀ شی
چې تر غوږ مې کړې خبرې
دی خوږې لکه شکرې
ویر جهان واړه نیمګړے
یو د بل پۀ سبب ستړے
دلته ظلم زیاتے ډېر دے
یو ظالم پۀ بل نه تېر دے
دلته واړه جابران دی
د پېسو مسلمانان دی
دلته واړه ستمګر دی
نه د چا پۀ مال و سر دی
دلته واړه تخریب کار دی
بې وقاره بې کردار دی

دلته سود او زنا هم شته
د شرابو مينا هم شته
دلته مر د مينې پلار دے
سماج واړه بې قرار دے
دلته لوټ و شوک بسيار دے
هر يو کس په سر د دار دے
دلته شته ريا کاران هم
شر پسند و شرمخان هم
دلته شته ډېر بې نمازه
په ګناه ډوب بې اندازه
دلته شته په رنګ انسان دے
خو خصلت ئې د شيطان دے
ګوره ته خوداسې نه شې
چې د دوئ په خبر سپېره شې
هر يو کس چې درنه تنګ وی
مخ دې سپين و زړهٔ دې زنګ وی
نيک عمل و نيک کردار کړه
رب دپاره هر يو کار کړه
شفقت و اخوت کړه
د زړهٔ مينه محبت کړه
د مسلم د پاره خير شه

د علمـــاؤ ســـره شـــمېر شـــه
ســـتا پـــدر هـــم مســـلمان وو
کـــه مجـــرم د پـــاک ســـبحان وو
ســـتا نيکـــه هـــم مســـلمان وو
ډېـــر ســـخي عـــاجز انســـان وو
تـــه چـــې څـــو دلتـــه ژونـــدے وې
خبـــر کـــه زوړ وې کـــه زلمـــے وې
دعاګـــانې ورتـــــه غـــــواړه
خـــدائے تـــه تـــل پـــهٔ تېـــرو ژاړه

د بېلتانـه پـهٔ کفرسـتان کښـې مـې نـن شـپه راغلله
ايمـان مـې وانخلـی ملګـرو چـې کـافر مـې نـه کـړی
منصـوری مينـې تـه بـه لاس د ملامـت اوږد کـړم
چـې د منصـور غونډې د دار پـهٔ سر حاضر مـې نه کـړی

پـه یـو غـزل کښـې شـو بیـان د غزلونـو بیـان
وختـه پـهٔ تېر وخت راتـه مـه کړه د وختونـو بیـان
زمـا د مینـې مقدسـه فـن پـاره کښـې تمـام
شـته د دوزخ بیـان او شـته د جنتونـو بیـان
د اد و فریاد کهٔ پهٔ خله نه کړم خو دردونه خو شته
غـزل مـې کانـدې د زړګـی دا پرهرونـو بیـان
ځـان تـه کـه هر څومره شاعر او سخن دان وایمـه
خـو بیـا هـم کړې نـه شـمه ستا د رحمتونو بیان
د فـراق ابـر مـې د وختـه نـه پـهٔ سـر راخـور دے
څنګـه بـه اوکـړم د وصـال د بـارانونو بیـان
دا برکـت د خوږژبـان وو کـه د عشـق زاهـده
لـږ راتـه اوکـړه د بـلال د اذانونـو بیـان
ډېـر سـحرونه ماښـامونه بـه پـرې لاړ شـی راشـی
چـې درتـه کـړم د فراقـت د ماښـامونو بیـان
هرګز کېدے نه شی چې زهٔ پهٔ انجمن د غېرو
کښـې چاتـه اوکـړم دصـنم د سـتمونو بیـان
نادار له ځایه مسلمان او خدائے پښتون پېدا کړم
تـه راتـه مـه کـړه د پښـتو د رواجونـو بیـان

هر یو کام مې دې ناکام کړو
هر سحر مې دې ماښام کړو
نه مې خېر درنه مونده کړو
نه دې ځان راسره ښه کړو
هسې تېروتم خطا شوم
چې په تا باندې شیدا شوم
چې هر څوک مې حال ته ګوري
مخ په شا کړي په بل لوري
ټول جهان راپورې خاندي
تهمتونه په ما کاندي
ستا په جاه و جلال یاره
زه مئین یم رب د پاره
دیدنونه دې ویړیا کړه
د ژوندون لار مې رڼا کړه

Pukhto.Net

مئـــين زړګـے مــې داســې کانــدی د دلبــر تمنــا
لکــه شــپو نغـے چـې پـهٔ ماښـام کـړی د ســحر تمنـا
نه بـه زمـا پـهٔ ډېـر خلـوص بانـدې بـاور اوکـړی څـوک
نــه بــه څــوک اوکــړی د رهــزن نــه د رهبــر تمنــا
اے د تــوچي زلمــو تيــار شــئ ګنــې نــور خــو زمــونږ
نــه شــی لــه چــا څخــه د جنــګ او د ســنګر تمنــا
خليــل ئــې کلــه چــې غندنــه د بتــانو اوکــړه
خــاورې ايــرې پــهٔ هغــه وخــت شــوه د آذر تمنــا
ملګـــرو نـــن پـــهٔ دې خـــونريز واتشـــين دور کښـــې
څنګـــه پـــه اوکړمـــه د جشـــن د اختـــر تمنـــا
پـهٔ لاس و پښـو کښـې بـه اخـر د کيکـر غنـې راوړی
څــوک چــې لــه هــرې ونــې کانــدی د ثمــر تمنــا
پــهٔ دې خصــلت الهــی ډېــر شــکر ګــذار يمــه ســتا
چــې د زردار نـــه هـــر ګـــز نـــه کـــوم د زر تمنـــا
هســې نــادار ســتا د وفــا نــه طمـع پـرې شـوه يـاره
لکـــه چـــې نـــه شـــی د کيکـــر نـــه د اينځـــر تمنـــا

لکه کابل چې هر يو ځائے پۀ وينو سور ليده شی
داسې مې زړۀ شولو ليلی ستا د ويشتو له مخه
تېر کال چې ما د چا له مخه پۀ سلګو کښې تېر کړو
نن هم قسم دے پۀ سلګو ووم د هغو له مخه
د زړۀ کنعان مې وران ويجاړ شو يوسف چرته ورک دے
زمرو خوړلے که د رونړو د مېړو له مخه
هزار هزار توبې مې اوکړې بيا مې ماتی کړلې
اوس مې توبه هم نه قبليږی د توبو له مخه
زمونږ پۀ سيمه بيا د مشکو بارانونه ووری
که شميم راغے ستا د زلفو دکمځو له مخه
خليل د چا له مخه نار وته تيار ولاړ وو
نه ئې څۀ خوف وو نه ئې ويره د لمبو له مخه
امد اورد به ئې نور څۀ کړې خو ليکلی مې دی
دغه غزل د محبوبې د بيلېدو له مخه
څوک سترګه ورو کړل ړانده پۀ دواړو سترګو باندې
مونږ سترګې اوموندې ملګرو د ړاندو له مخه
دواړه لاسونه شو کېدلی پستتنه ترې لاړم
ماليارہ ګل شو رانه پاتې د ازغو له مخه
توچی د ښو زلميو ځائے دے خو نادار درپه خېل
شه صدقه د درپه خېلو د زلمو له مخه

زما د سترګو نه د اوښکو بارانونه ووری
که د محبوبې له رخساره شهابونه ووری
نشته امید چې شی زرغون ستا د وصال ګلونه
د زړۀ په زمکه مې دِلیٰ ستا له بېلتونه ووری
ګیله مې څۀ له مفسدانو حاسدانو څخه
په مونږ ملګرو له فلکه تندرونه ووری
بلال زړګې مې د لیلی لیلی نعرې نه پرېږدی
که پرې هر څو د ستمګرو ستمونه ووری
غم طلب زړۀ مې له ازله غم طلب وو ځکه
د محبوبې له لوری هر وخت پرې غمونه ووری
زمونږ حاجی میرزالی خانه ته چې لاړې دوبار
وزیرستان کښې سرې سکروټې انګارونه ووری
ډېر دې د هجر په سقر کښې ورځې شپې اوباسې
په چا د وصل په فردوس کښې رحمتونه ووری
چې په ګلګونو لبو ګفت راته نګاره کوې
که ذوالقرنین شومه په سر مې سره لعلونه ووری
څه برکت دے د دهقان څۀ د لائق درپه خېل
چې په شعراؤ د توچی هسې شعرونه ووری
ناداره خدائے خبر چې څو به مې د زړۀ په اقلیم
دا دردېدلی بوربېدلی شان یادونه ووری

لېمو ته اوښکې راځی شونډو ته خندا رادرومی
منتظر اوسمه چې نن راته اشنا رادرومی
زړګې مې ریږدی چې افتاب کله څوکېږی ځکه
سبا سبا وائی زۀ وایم چې سبا رادرومی
چې پۀ ښۀ وخت مې تپوس نه کا نو د مرګ پۀ غاړه
سود مې پرې نه شی راته څه له مسیحا رادرومی
پۀ دې دوران او رد ماحول هیڅ تعجب مه کوه
هغه وخت ښکاری چې عیسی به له سماء رادرومی
برمل لرمل نمر لویده څه چې پۀ هر دم و قدم
بددعا خلې ته نه راځی تا ته دعا رادرومی
طلب د مینې مې درلود د غم طالب ئې کړمه
اوس پروا نه کړی دا ستا غم که پۀ بیا بیا رادرومی
خدایه امسا د موسی راکړې چې بیا هغه شان ئې
کړم ورغوزاره چې مېدان ته اژدها رادرومی
خوارو ته ژاړمه زه هم د بن یامین په شانې
یوسفی یار پسې سلګۍ مې په بیا بیا رادرومی
د مصر جونو کښې څرګندې خوار نادار به ترڅو
دا ستا کوڅې ته پۀ هائے هائے او پۀ غوغا رادرومی

Pukhto.Net پښتو

په ليدو دا ستا د حسن د ليدو شوم
دل زخمي دې د چشمانو په غمزو شوم
ستا دحسن د ګلشن د ګل په طمع
څيرې ويرې په ازغو شوم د ازغو شوم
بېهوده په اور ستي شوم نه امېل شوم
ستا د غاړې نه رنجه ستا د لېمو شوم
څوک مې يو خواته راکاږي څوک په بل خواه
چې هوښيار شوم که حساب په ليونو شوم
دلسوزي د هر سړي رابانـدې کېږي
د ليلى په ياد کښې اوښکه د باڼو شوم
عاشق وش او بلاکش زړۀ مې تسليم شو
چې هدف ستا د ظلمونو د لښندو شوم
دا زما د ناداني نتيجه بويه
پرون اور ووم نن په مثل د اوبو شوم

Pukhto.Net

عاقبت بـه مشـرف سـتا پـهٔ وصـال شـم
نـن کـه خـاک سـتا د دربـار سـتا د کوڅـو شـوم
منصـوری مینـې دنیـا تـه ملامـت کـړم
انـا الحـق انـا الحـق وایـم بـې قـابو شـوم
سـتا پـهٔ شـانې ګـل مـې یـو هـم مونـده نـه کـړو
کـه څـو سـترې د دنیـا پـهٔ ګلکـدو شـوم
قناعـت د ذوالقـرنین سـلطانی راکـړه
پـهٔ تـش لاس څښـتن د لال و دردانـو شـوم
سـامعین مـې پـهٔ خبـرو حـق حیـران شـول
پـهٔ محفـل کښـې چـې ګـډ زهٔ پـهٔ ګفتګـو شـوم
نورخـه نشـته تـاثر د محبـت دے
چې پـهٔ شـته شعور کښې شمېر پـهٔ لېونو شوم
هیڅ تدبیر راځخه نشته چې ځان خلاص کړم
مقیـد دسـتا د عشـق پـهٔ زولنـو شـوم
د تـوچی غـاړې لیلـی مـې نـه هېریـږی
کـه مقـیم نـن پـهٔ ښـاریه د ښـاپېرو شـوم
نـه مومنـد یـم نـه ختـک یـم نـه شـنواری
زهٔ نـادار پـهٔ دریـه خېـل کښـې غـزل ګـو شـوم

ربــــه شـــوی ګناهونــــه رانــــه ډېــــر دی
دومـره ډېـر چې یـاد مـې نـه دی رانـه هېـر دی
پـهٔ حجـاب مـې کـه لـه هـر چـا پـټ پنهـان دی
خــو عیبونــه مــې همــه تــا تــه برڅېــر دی
وحـــده اولا شـــریکه لـــه تـــا زار شـــم
قدرتونـــه دې پـــهٔ یـــو او پـــهٔ بـــل تېـــر دی
ســـتا د د غـــه کـــرم حـــق څنګـــه ادا کـــړی
پهٔ امت د خپل حبیب دې چې څوک شمېر دی
ابرهـــه شـــدادیان څـــهٔ چـــې ســـتا پـــهٔ اذن
ســـکندر او ســـلیمان تـــر خـــاورو زېـــر دی
ســـتا لـــه قهـــره لـــه عذابـــه امـــان غـــوارم
بیـا خـلاص نـه دی چـې د قهـر پـهٔ دام ګېـر دی
څـــوک دې ګـــډ کـــړل د بهشـــت پـــهٔ رڼاګـــانو
څوک لـه ځانـه ورک دی ګـډ دې پـهٔ انـدهېر دی
اے خاونـــده خېـــر و هغـــو تـــه نصـــیب کـــړې
څوک چې شپه ورځ طالبان د ستا د خېر دی
کامیـــابی د کـــونېن غـــوارم ســـتا پـــهٔ فضـــل
ګناهونـــه د نـــادار کـــه هـــر څـــو ډېـــر دی

لــه تــا زار شــم د ښائســـت د ښــار رواجــه
شـاه ګـدا کـړي ګـدا شـاه کانـدې بـې تـا جـه
پــهٔ امیــد مــې تــن اوبــه لکــه د مــوم شــو
تــه خبــر نــه شــوې زمــا لــه احتیاجــه
پــهٔ جمــال کښــې دې کمــې جــو دانــه نشــته
ســتا تصــویر مصــور جــوړ لــه امتزاجــه
د حــالاتو پــهٔ تـورتم کښـې مـې ژونـد ورک دی
راڅــــوکېږه زر زمــــا د بخــــت ســــراجه
چــې ســاکن وې پکښــې تــه د زړهٔ محــل مــې
پــاتې نــه شــو د فــراق لــه تاخــت تاراجــه
لـړ څـو غلـے شـه چـې ښـهٔ پـهٔ دیـدن مـوړ شـم
شــپه لا پــاتی ده نعــرې مــه کــړه دُجاجــه
داد فریــاد لکــه جــرس پــهٔ هــر زمــان کــړم
پــهٔ کــټ پــروت لکــه بیمــار یــم بــې علاجــه
هســې نــه چــې خوشنودی د ژونـد پامـال کـړې
ازار وانخلــــې پــــام اوکــــړه لــــه محتاجــــه
د تــــاثیر بویــــه همــــه د خپلــــې مینــــې
ســتا نــادارچې تنهــا خــوښ دے لــه ســماجه

اول حــاجی میــر زاعلــی خــان تــه ســلام
بیــا مــې تمــام وزیرســتان تــه ســلام
دا شــودی خېــل او د چلګــی خلیفــه
د دوئ مړانــې او دســتان تــه ســلام
چــې د تــوچی غــاړې لــه ځــې نســیمه
وایــه ښــاغلی میــر شــاه جــان تــه ســلام
د خپــل نیکــه محتــرم نــام نــه اخلــم
بــس دومــره وایــم چــې ئــې شــان تــه ســلام
پــهٔ وینــو ســور مــدراز مــې نــه هیریــږی
د دهٔ پښــتو د ده ایمــان تــه ســلام
لکــه پیــاوړے پلنګــزائے ملګــرو
داســې تــورزن داســې انســان تــه ســلام
د ضمیرشــاه یــاران مــې یــاد کــړل پکښــې
ځکــه دې وی زمــا بیــان تــه ســلام
چــې د وطــن پــهٔ ننــګ و نــام لیکــه شــی
داســې مضــمون داســې عنــوان تــه ســلام
چــې مــې کــړل یــاد صــرف بــس دغــه نــه دی
زمــا ټــول اهــل خانــدان تــه ســلام
نــاداره ســتا څــو پــهٔ لائــق درپــه خېــل
بــل مــې هرمــزو کښــې دهقــان تــه ســلام

خبر دے خبر دے که وصال وی که هجران وی
سود مندی بویه همه واړه که زیان وی
د مجنون د زمانې نه تر دې وخته
عشاق واړه لېمه تر ځیری ګرېوان وی
تعجب به ولې ستا په حسن نه کړم
بل به څوک وی چې ئې شان دا ستا په شان وی
د کسری دنګې مانۍ څه که په تخت د
ذوالقرنین ووم ستا لیدل به مې ارمان وی
نه به ستا په څېر ځلند د چا جبین وی
نه به ستا په څېر شیرین د چا زبان وی
د لبانو نه دې سره ګلان حیا کا
عاجز بویه که لبان د چا ګلان وی
ستا د لبو له پېغوره اجتناب کا
که عادی څوک په باده د ساقی جان وی
در ګوهر په هغه ځائے وی بې قیمته
تبسم کښې چې څرګند دا ستا دندان وی
د فرهاد په محبت به تو لعنت کا
چې لیدلی چا دا ستا خپل عاشقان وی
که په وینه نه وی خوب کښې راته راشه
د نادار به ترقیامته دا ارمان وی

شب و روز لکه جرس پهٔ هائے سوران
د فراق پهٔ سرو لمبو یمه بریان
پهٔ ګوګل کښې مې درون څړیکی پېدا شی
چې مې خیال او فکر مل شی د جانان
نن د ښکلی تربیت پهٔ سبب ګوره
یم ممنون د خپل پدر او خپل خاندان
درپه خېل کښې خو بل ځائے د امن نشته
که مې ستا سیوری ته اوموندو امان

عشق دې ياره د مجنون درې نخښې راکړې
تشنه لب و لېمه تر خيرې ګرېوان
شب خيزی بې شک چې هر څوک کوے نه شی
دغه بخره ده راغلی له اسمان
د ميرزا و ارزانی دعوی ئې پرې کړه
چې څرګند شو په مومندو کښې رحمان
بې له تا مې د دنيا په خلقو څۀ شی
که همه خلق زما شی تابعان
بې حاجته قيل و قال بېهوده بويه
اموخته چې وی کوم څوک په هر مکان
اشنايان د دهر واړه پوچ بادام دی
يا شجر چې د ګنډېر لری ګلان
له بدخويو فرزندانو نه که يو وی
خو نېک خويه غوره دے په څو چندان
په ښاريه د درپه خېلو چې وردرومې
په انس مې سلام وايه په ښۀ شان
ورته وايه په نادار دې خدائے ګواه دے
يادوی دې په هر دم په هر زمان

غــم د هجــر دې زمــا پــۀ ځيګــر پــروت دے
زړۀ مـــې ځکــه غــم الــود و پرهــر پــروت دے
ســتا د رنګـــه رنــګ ناســـازو لـــه کبلـــه
خــوار مئــين دې يرقــانى پــۀ بســتر پــروت دے
نــه پــوهيږم چــې زړګـے د رقيـب چـاود شـو
کـه پـۀ لاس د حسـين مـړ شـو شـمر پـروت دے
ببلتانيـــه دې يعقـــوبى کـــانې را وکـــړې
ګــرد غبــار مــې درپســې پـۀ بصـر پـروت دے
خوشـــنودى پـــۀ مـــخ د زمکـــې څــۀ پکـــار ده
چې پۀ وړاندې دې حساب د محشر پروت دے
د مجنـــون پـــۀ مينـــه زار شـــم پـــۀ لتهــون کښــې
د ليلـــى د ګـــل بورجـــل نـــه بـــدر پـــروت دے
چـــې شـــيرينه پـــرې خوښـــيږى زېـــرے ورکـــړه
چې نادار دې نن مات کړے دے سر پروت دے

چې نن بېګا اوده شوم نو دلبر پۀ خوب کښې راغلو
تیاره پۀ زغلېدو وه سپین سحر پۀ خوب کښې راغلو
حسن او حسین دواړو غبرګې تورې وې اغستې
پۀ وینو سور لړلے وو شمر پۀ خوب کښې راغلو
وئیل ئې چې زما نقش قدم دې ولې پرېښوو
حاجي میرزاعلی خان وو مرور پۀ خوب کښې راغلو
وګړی د مغرب ټول پۀ سوران پۀ زغلېدو وو
څۀ داسې ښکلے جنګ ښکلے سنګر پۀ خوب کښې راغلو
ملګرو دا موسی ته رودنیل ورکړلې لارې
پسې د فرعونیانو لوئے لښکر پۀ خوب کښې راغلو
انجام ئې د غرور د سمندر راته ښکاره کړو
کچکول ئې وو پۀ غاړه قلندر پۀ خوب کښې راغلو
ښاغلے شودی خېل راپاڅېدلے وو د ګورنه
پۀ لاس کښې ئې نیولے وو خنجر پۀ خوب کښې راغلو
خالو هم ورسره وو نورغازیان هم مچ مېړی وو
محمود غزنوی ورته پۀ سر پۀ خوب کښې راغلو
تعبیر اوس د لیدلی خوب نادار وته بیان کړئ
ملګرو هر ظالم چې محقر پۀ خوب کښې راغلو

Pukhto.Net

پـــه لهـــب ســـتا د رخســـار
پـــهٔ ادب لـــيکم اشـــعار
نـــه دچـــا پـــرې دا گمـــان شـــی
چـې ئـې يـاد کـړو سـتا سينگار
نـــه د چـــا پـــهٔ زړهٔ لگيـــږی
چـــې لـــه عشـــقه دی ويـــزار
ځنـې وائـی چـې يـو خيـال دے
چـې ئـې کانـدي پـهٔ بـار بـار
ځنـــې وائـــی تصـــور دے
د گـــــلاب او د بهـــــار
ځنـې وائـې چـې يـو سـوز دے
د منگـــــی او د ســـــتار
ځنـــې وائـــی چـــې فريـــاد دے
مستشـــفی کښـــې د بيمـــار
ځنـــې وائـــې چـــې مـــدهوش دے
مدهوشـــۍ کښـــې کـــړی گفتـــار

خـــو

دغـــه هـــر څـــهٔ نـــاروا شـــه
حـــق وينـــا کـــړم اوس پـــهٔ جـــار
زهٔ پـــهٔ تـــا بانـــدې شـــيدا يـــم
تـــا پســـې يـــم بـــې قـــرار

ستا وصال مې جستجو ده
د ژوندون په هره لار
نه مې دم نه مې دارو شي
یم پنهان په زړهٔ داغدار
زهٔ مجنون ته مې لیلی ئې
یمه ستا په انتظار
زهٔ فرهاد یم ته شیرین ئې
نور تېشه ته یم تیار
زهٔ منصور ستا د ښائست یم
په خندا یم پاس په دار
اوس چې کومه ستا رضا وی
ته واکمن د کل اختیار
ما خو عشق درته څرګند کړو
خدائے دې کړی چې شم سنګسار
هیڅ څهٔ خوف مې زړهٔ کښې نشته
له غماز او له اغیار
درپه خېلو کښې میشته یم
د توچی سیند په کنار
نه بل ستا پهٔ خیر خو بروئ شته
نه زما پهٔ څېر نادار

زۀ ئې ګڼمه د حبشو تور لښکر راپسې
چې لرې برې اړوی سترګې دلبر راپسې
د ښاپېرک غونډې پۀ ښۀ ګفت ملامته شومه
اوس مې پۀ سترګو رنډوې ګرځي سحر راپسې
زۀ پۀ خپل توان و پۀ توفیق دومره بالانه وومه
دغه دعا څۀ د ادې څۀ د پدر راپسې
قاتل لاسونه دی چینجڼ شه دا ما څله وژنې
ماشوم اشنا به مې کړی مات ماشوم ځیکر راپسې
سپینو کوترو وئیل چې مونږ پۀ اشیانو کښې ښې یو
که رابهر شو شهبازان وهی وزر راپسې
زۀ چپه خله ولاړ زبانه ستا ستم کړم هله
چې دې راوغستو پۀ وینو سور خنجر راپسې
زۀ درنه ځم خو درپه خېل نادار ته داسې وایه
چې و دې لیکی څو شعرونه مختصر راپسې

پۀ تورو زلفو دې د سپين مخ شهابونه پټ دي
کۀ د تيارو پۀ تور څادر کښې سحرونه پټ دي
څنګه چې تۀ ئې پۀ يو رنګ کښې د رنګو مجموعه
هسې زما پۀ تخيل کښې ډېر رنګونه پټ دي
څۀ درته اووايم چې راشه او که مه رادرومه
ځکه چې ستا پۀ تلو راتلو کښې محشرونه پټ دي
پۀ دغه ابر کښې د ګل د نرمو پاڼو پرخه
نشته سيلۍ ده طوفانونه تندرونه پټ دي
چا ته د خپل زړۀ د سالو غوټه پرانستې نه شم
پکښې زما او ستا د مينې ډېر رازونه پټ دي
د غنچه لبو د خندا ارزو به ولې نه کړم
چې پۀ خندا کښې ئې سپرلي اوبهارونه پټ دي

لکه منصور چې پۀ نعرو شو فرهاد مات کړو تند ے
د عشق پۀ لار کښې داسې ډېر امتحانونه پټ دی
پۀ هر يو بيت کښې د غزل د ستا ستائينه غواړم
خو د حالاتو پۀ ديوال رانه لفظونه پټ دی
څومره چې ستا د مخ لهب دور ودراز ليده شی
دومره دراز دراز مې زړۀ کښې اميدونه پټ دی
زما د يار پۀ ناراضگۍ کښې د سقر لمبے دی
خو پۀ رضا کښې ئې کوثر او جنتونه پټ دی
زما د سترګو رودنيل چې پۀ چپو شی کله
دا ستا پۀ ياد کښې پکښې ډېر در و لعلونه پټ دی
دا تاثر مې د مورجانې د دعا ښکاريږی
چې پۀ يو شعر کښې د نادار بلا شعرونه پټ دی

لـه سرو لمبو لـه سرو سکروټو څخه
کم نه ګڼم د بېلتانه وختونه
بيا بـه ارمان کړې لـږ تپوس مې کوه
و بـه مې خوری سړی خواره وختونه

که په مینه کښې بېدل د خپل دلبر یم
بیا هم خوښ یم که په داد و فریاد سر یم
ستا ګلاب ګلاب ځوانی زۀ هم ګلاب کړم
سر تر پایه خون الود د غوځ ځېګر یم
شیشه ګر مې د شیشو په نظر ګوری
که له اصله د صدف غېږی ګوهر یم
چې عیبونه د باطن خدائے رانه دور کړي
دا عیب نه دے په صورت که محقر یم
ځکه هر وختې طلب د شب خېزۍ کړم
چې شېدا دا ستاد مخ په سپین سحر یم
زوړند سر لکه انګور یم ستا په وړاندې
نه چنار یم دنګه غاړه نه نښتر یم
په ګرېوان مې دردانې د اوښکو زانګې
د عشاقو په تولی کښې سکندر یم
نابینا وته زه هم نابینا ښکارم
سترګه ور مې پېژنی چې سترګه ور یم

کــه طلــب کــړم خــو دا ســتا د مــخ طلــب کــړم
طالــــب کلـــه د دنيــــا د ســــيم و زر يـــم
خار و خنډ ئې پهٔ يو ګوټ کښې هم نه ښکاری زهٔ
د هســــې ميـــوه داره بـــاغ شـــجر يـــم
چــې قبــول دا ســتا پــهٔ درو ديــار نــه شــوم
ځکــه داســې در پــهٔ در خــاورې پــهٔ ســر يــم
پــرورش مــې ئــې د ښــکلو د دود اوکــړو
ممنـــون ځکـــه پـــهٔ کـــردار د خپـــل پـــدر يـــم
دحســـين و د نســورين شـــعور لـــه مخـــه
پـــهٔ تيـــارو د اســـتبداد خـــتلے نمـــر يـــم
چــې مــې ســتا پــهٔ بــې نظيــر حســن نظــر دے
بــې نظيــره ســينه چاکــه زړهٔ پرهــر يــم
کــه بيــرون خلقــو تــه خــوښ وخــرم ښــکارم
خــو درون اختــه هــر دم پــهٔ شــور و شــر يــم
دوايـــــانې دې طبيبـــــه بېهـــــوده دی
زهٔ ســتی د يــار د مينــې پــهٔ شــرر يــم
د بيـــاض پـــهٔ اوراق ليـــک کـــوم ملګـــرو
خــو پــهٔ ښــو بــدو ئــې خــدائيګو کــه خبــر يــم
درپـــه خېلـــو کښـــې انـــس راپســـې ژاړی
زهٔ نـــادار ورځنـــې تلـــے مســـافر يـــم

چې شېدا دا ستا په زيب او په زينت شوم
خدائيګو هله پوئ په مينه محبت شوم
د نفرت سپيره خشکې راځني لاړه
سر تر پايه اب الود د اخوت شوم
چې په عشق ئې د خوبرويو سزاوار کړم
شکمن ځکه د قاضي په قضاوت شوم
په کوڅه کښې د ادب مې چې ګام کېښود
له مجازه ور داخل په حقيقت شوم
فرښتې مې په ايمان کښې په ثنا شوې
چې مشغول ستا په ثنا او په صفت شوم
مقيم نه شوم ستا د حسن په بوستان کښې
که د خاک او خس په شانې بې قيمت شوم
په قيام او په رکوع او په سجود کښې
يادوم دې بيا هم تا ته ملامت شوم
څه غربت څه ستا د عشق راته سبب شو
زۀ نادار چې داسې وچ په روغ صورت شوم

سوخته شو او ستی پهٔ کوم تقصیر وزیرستان
ملګرو دا زمونږ جنت نظیر وزیرستان
پهٔ حکم د مغرب د واکدارانو ئې لمبه کړو
زمونږ جان جګر او د لپذیر وزیرستان
پوهېږی چې فاتح میرزاعلی خان اوس پکښې نشته
نن ګوری ځکه دا رنګې حقیر وزیرستان
د وخت د قاتلانو مقتولانو له کبله
بدل پهٔ فلسطین شو پهٔ کشمیر وزیرستان
پهٔ کور کښې دې شروع کړه خدائے پهٔ ویر لړلې ساندې
چې ډک دې کړو له خوف پهٔ هائے او ویر وزیرستان
نه هند شته نه یورپ او نه لښکرې د ماسکو شته
پهٔ خپلو کښې مې کړو سره دلګیر وزیرستان
مولاتهٔ ئې حافظ لکه موسی او یا خلیل شې
که اور وی که لاهو شی پهٔ غدیر وزیرستان
تر اوسه ئې پهٔ شوندو لاوخ نه دی راته کړی
خوشحال ستا پهٔ تدبیر پهٔ خپل تقدیر وزیرستان
وګړی د نړۍ پوهیږم نه چې داسې ولې
پهٔ برندو سترګو ګوری پهٔ ځیر ځیر وزیرستان
نادار صبح و شام دغه دعا او التجا کړه
پهٔ دام د کفر خدائے مه کړه اسیر وزیرستان

پـه فـراق کښـې چې غمنـاک د خپـل دلبـر وی
هغــه بویــه در پــۀ درکــه پــۀ خپــل در وی
هغــه څــوک کــه نابینــا دی هــم بینــا دی
چـې لیـدلې ئـې دا سـتا د حسـن نمـر وی
کـومې اوښکې چې د خدائے لـه ویرې تـوئ شـی
هغــــه در وی او لعلونــــه وی ګــــوهر وی
خوشــنودی مــې خوشـنما اشــنا پامــال کــړه
پــۀ ژړا مــې هــر ماښــام و هــر ســحر وی
چــې نظـر ئــې سـتا پــۀ جـاه و پــۀ جـلال وی
د منصــور پــۀ دود بــه تــل پــۀ نعــرو ســر وی
یــا تنــدے د بــې صــبرۍ پــۀ تېشــه مــات کــړی
یــا مجنــون شــی د لیلــی عشــق ئــې هنــر وی
چــې کــردار ئــې لــه ګفتــاره پــۀ څــو چنــد وی
مــرد هغــه دے پــۀ صــورت کښــې محقــر وی

اشـــنائی د هغـــه چـــا مناســـب نـــه ده
چـــې صـــفت د چـــا پـــهٔ شـــانې د کیکـــر وی
لـــه حیاتـــه خپـــل ممـــات ورتـــه بهتـــر وی
پـهٔ کـوم چـا چـې شـوے سـتا د عشـق اثـر وی
پـــهٔ نظـــر ســـتا د عشـــاقو عـــاجزان وی
ســتا لــه مخــه کــه خورشــېد وی کــه قمــر وی
د تقـــدیر لیکلـــی هـــر چـــا تـــه رســـیږی
پـهٔ نصـیب کښـې ئـې کـه خېـر وی او کـه شـر وی
خدائے خبر چې هغه وخت به کوم نیک وخت وی
زمـــا اوښـــکو چـــې پـــهٔ ســـتا کـــړے اثـــر وی
د ایمـــان و د حرمـــت ســـره ئـــې غـــواړم
هـــر زمـــان لـــه خدایـــه ســـیم وی او کـــه زر وی
د ښلتـــون پـــهٔ ادم خـــوره ښـــاریه کښـــې
عشـــاق واړه تشـــنه لـــب و لېمـــه تـــر وی
ګـــل ورینـــه هـــیڅ څـــه بـــاک و پـــروا نـــه کـــا
کـــه پـــه عشـــق مـــې تمـــامی جهـــان خبـــر وی
د خلـــې خونـــد بـــه ئـــې تـــر عمـــره خونـــدور وی
چـې یـو ځـل ئـې پـهٔ خلـه سـتا د عشـق شـکر وی
د تـــوچی غـــاړې لیلـــی پـــهٔ فراقـــت کښـــې
خـــوار نـــادار بـــه ترمرګـــی پـــورې مضـــطر وی

کـه د خس پـهٔ څېر پـهٔ عشق کښې بې بها شوم
بيـا هـم ښـهٔ ده پـهٔ ګلشـن کـښې د هـر چـا شـوم
چـې مـې غـږ د بېلتانـه تـر غـوږو تېـر شـو
د جـرس پـهٔ څېـر پـهٔ هـائے او پـهٔ غوغـا شـوم
د رخسـار مشـال دې مـړاوے مـه شـه يـاره
د ليـدو پـهٔ انتظـار ئـې نابينـا شـوم
اے ژوندونـه بېهـوده را څخـه لاړې
نه سود منـد ستا پـهٔ بېګـا نـه پـهٔ سبا شـوم
مـا خـو وئيـل چـې دا سـالو د صـداقت دے
خـو زهٔ پـټ پـهٔ تـور سـالو کښـې د ريـا شـوم
پارسـائی مـې د همـه عمـر پامـال شـوه
چـې حاضـر د سـاقی جـان پـهٔ مـی مينـا شـوم
نـه خـادم شـوم د يثـرب د سـينګارونو
نـه ملګـرو د موسـی د لاس عصـا شـوم
سـاکنان د درپـه خېلـو ټـول خبـر کـړه
اے نـاداره وائـی وخـت چـې اژدهـا شـوم

# دا ستا مزار به زۀ پۀ څۀ پېژنم

چې بې پوښتنې رانه ته لاړلې
تیرې چارې زما پۀ زړۀ لاړلې
زۀ خو میشته ووم پۀ پردی وطن کښې
ته د مرګی پۀ خوب اودۀ لاړلې

اوس چې بیا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به زۀ پۀ څۀ پېژنم
ستا پۀ مزار به رازرغون وی بوټی
لکه کرلی چا پرون وی بوټی
هم به ئې ښلې پریوتلې ښکاری
نقش و نشان به د بېلتون وی بوټی
اوس چې بیا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به زۀ پۀ څۀ پېژنم

نه به دا ستا هغه تصویر پرې ښکاری
نه به د خپلو پردو ویر پرې ښکاری
اوس چې بیا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به پۀ څۀ پېژنم

نه مې په سترګو ستا کفن ليدلې
نه مې ستا مرګ او زنکدن ليدلې
نه مې دا ستا د قبر لار اوليده
نه مې په خاورو کښې دفن ليدلې
اوس چې بيا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به زۀ څۀ پېژنم

نخښه ئې نه ستا د مزار راکړله
نه ئې د تنګ و راتنګ لار راکړله
صرف ئې ستا د مرګ قيصه اوکړله
نه ئې نيټه ښکلې په شمار راکړله
اوس چې بيا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به زۀ په څۀ پېژنم

دا ته چې تلې اخر خبر به دې وې
ياد کړې زۀ خپل مسافر به دې وې
زما د پاره يوه ښکلې نخښه
د چا قاصد په لاس کښې ور به دې وې
اوس چې بيا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به زۀ په څۀ پېژنم

بس اخرين هغه دا ستا رخصت وو
چې دې راکړې پۀ ژړا رخصت وو
ما خو وئيل چې بيا به کيږي ديدن
خو تېر شو هغه بې وفا رخصت وو
اوس چې بيا کله خپل وطن ته درشم
دا ستا مزار به زۀ پۀ څۀ پېژنم

زما پښتون استان ته راشه چې پښتو در زده کړم
پښتون به وی منم خو ته پښتانه نه پېژنې
زۀ درته خاندم ته پۀ ستغو سپورو سر ئې راته
عجب ميزبان ئې د خپل کور مېلمانه نه پېژنې

زمـا د خيـال مصـور ګوتـه پـهٔ دنـدان پـاتې شـو
نېمګـور تصـوير رانـه ملګـرو د جانـان پـاتې شـو
دراز مژګـان درازې زلفـې ګـل رخسـار د ليلـى
پـهٔ جوړېدو کښـې لکـه بت هسـې حېران پاتې شـو
فرهـاد تېشـه مونـده منصـور پـهٔ سـر د دار اوخنـدل
زما پـهٔ برخـه تـش د اوښکو لوند ګرېوان پاتې شـو
چـې سـيم و زر پـهٔ يـوه نـرخ اخلـى لـه مـا هـم څکـه
اوس د هغـه ښـکلى زرګـر اشـنا دکـان پـاتې شـو
چې د زړګى پهٔ شيش محل کښې ئې ليلى ميشته کړه
مجنـون خـو څکـه پـهٔ صـحرا پـهٔ بيابـان پـاتې شـو
سـتا ښلتانـه مـې کـه پـهٔ زړهٔ ډېر کوششـونه اوکـړل
بيـا هـم کـافر نـه شـو د مينـې مسـلمان پـاتې شـو
دا سـتا نـادار سـتا د ناسـازو بـې رخـۍ لـه مخـه
څـومره پرېشـان دا سـتا پـهٔ مينـه پښـېمان پـاتې شـو

ژوندون یو سیند دے بهېدونکې تا ته څۀ پته ده
غږ د جرس دے تېرېدونکے تا ته څۀ پته ده
دا پۀ اوراق مې د بیاض لیکل سندرې نه دی
د حق وئیلو یم لیکونکے تا ته څۀ پته ده
زۀ پۀ تیارو د استبداد کښې د خوارانو پۀ نوم
چراغ مشال یم بلېدونکے تا ته څۀ پته ده
د خپل وطن د خپلې خاورې د شهید پۀ قبر
سپین رنګ بیرغ یم رپېدونکے تا ته څۀ پته ده
د خپل مزاج څخه مجبور یم چې مې نه خوښېږی
د بېهوده قیصو کونکے تا ته څۀ پته ده
د ګل ورینې نازنینې شا لیلی له مخه
سر پۀ تېشه یم ماتونکے تا ته څۀ پته ده
نادار چې ریږدی لکه پاڼه رنګ ئې زیړ لیده شی
د سترګو جنګ دے جوړېدونکے تا ته څۀ پته ده

Pukhto.Net

ستا تصویر مې داسې اوسی د لېمو پهٔ ښاریه کښې
لکه ګل چې شګفته شی د ازغو پهٔ ښاریه کښې
د رښا طلب کونکیه خدائے راستی که رښا مومې
چې مدام ګرځې راګرځې د تیارو پهٔ ښاریه کښې
پهٔ ګرېوان به مې ډېوې تل بلېدلې ځلېدلې
همنشین و خپل مې نه وی د پردو پهٔ ښاریه کښې
احمقان دی هغه خلق چې له اصله فرعونی وی
دوی بیا مهر کرم غواړی د هغو پهٔ ښاریه کښې
هیڅ څهٔ باک پروا مې نشته که مې تن پهٔ خون الودشو
ما چې پېِ د وزې غوښتلی د زمرو پهٔ ښاریه کښې

چې ئې عشق ابراهيمي وي يار اشنا ئې نمرودي وي
سره ګلان ورته ټوکېږي د لمبو په ښاريه کښې
د توچي غاړې له راشه چې ښه سېل دربانديې اوکړم
د نېزو په کلي کور کښې د ليندو په ښاريه کښې
پرون دوئ ته انکاري ووم ځکه ګوته په دندان شول
نن چې وليدم شېخانو د توبو په ښاريه کښې
چې تراخه وينم اوګورم زما خيال او فکر تريخ شي
زړۀ او ذهن روخ مې خوږ شي د خوږو په ښاريه کښې
څوک له ځايه په خندا کښې لکه ګل خندان اوسيږي
څوک له ځايه په سلګو دي د سلګو په ښاريه کښې
يا حنا ئې د منګول وي يا شانه وي چې مې ژوند وي
د ليلى د تورو زلفو د کمځو په ښاريه کښې
خام شعوره ئې نادان ئې دغه خيال دې بېهوده دے
چې د سترګو تمنا کړې د ړندو په ښاريه کښې
ته زما د زړۀ په ښار کښې د ګلاب د ګل په شان ئې
زۀ د اوچ ګيا په شان يم ستا د پښو په ښاريه کښې
د ماضي اوراق نه ګورو مستقبل ته منتظر يو
ځکه مونږ په مړو حساب يو د ژوندو په ښاريه کښې
په پښتو ژبه به وائي د رحمان د خيال سندرې
چې نادار تر څو ميشته وي د پښتو په ښاريه کښې

ته د رسـل د کـاروان پوښتنه اوکړه
بیا زمونږ د تورې توان پوښتنه اوکړه
د ښاغلی شودی خېل میرانه څهٔ چې
د ښاغلی میر شاه جان پوښتنه اوکړه
خلیفه چلګی پیاوړې پلنګزئې څهٔ
د تمام وزیرستان پوښتنه اوکړه
کرامت د اولیاؤ څه پټ نه دے
د حاجی میرزا لی خان پوښتنه اوکړه
که مدراز پهٔ وینو سور جنت ته لاړ شو
ورشه نن ئې لږ د شان پوښتنه اوکړه
ضمیر شاه هم د دې باغ د څانګې ګل وو
ګنې ته ئې له بوستان پوښتنه اوکړه
غنیم رنګ هم د شاهانو د سر تاج وو
د هغې د پاک ایمان پوښتنه اوکړه
لکه دوئ چې څنګه کړی ته هم داسې
شې کولے له خپل ځان پوښتنه اوکړه
د غرور بلند تندے ئې پهٔ کب مات کړو
دروغ نه دې له جهان پوښتنه اوکړه
که څهٔ شک دې پرې راځی نو بل خوا لاړ شه
د نادار د حق بیان پوښتنه اوکړه

Pukhto.Net پښتو

پـه هـر جمـال کښـې راتـه سـتا د مـخ جمـال ليـدهٔ شـي
ځکـه خـو مـا وتـه پـهٔ هجـر کښـې وصـال ليـدهٔ شـي
خلـه پرانسـتې نـه شـم ګنـډلی مـې پـهٔ تـار د حيـا
سترګې مې ګوره پکښې ستا د مينې سوال ليدهٔ شي
سـتا فراقـت وتـه چـې څـومره څـومره فکـر کـؤم
زمـا د ژونـد د کمـالاتو لـوئې زوال ليـدهٔ شـي
د مينې يار مې چې پرديس کښې ورځې شپې اوباسي
څـومره بې خونده بې مزې دا واړه کـال ليـدهٔ شـي
حـالات ئـې نـه پريـږدی وئيلـو اوريـدلو تـه نـن
ځکـه هـر څـوک پـهٔ غـوږو کـوڼ پـهٔ ژبـو لال ليـدهٔ شـي
احمقـان واړه د دنيـا پـهٔ کـار روزګـار مشـغول دي
ما ته سېوا لـه عشـقه هر څهٔ خواب و خيـال ليدهٔ شي
نـاداره اوس د تـوچې هـم هغـه مـزې نشـته دې
هـر يـو وګـړے ئـې پـهٔ غـم او پـهٔ جنجـال ليـدهٔ شـي

چې رایاد کړم د دلبرو رخسارونه
پۀ ګوګل کښې مې اوسېږی سرۀ ګلونه
تورو سپین مې د لېمو هر زمان ژاړی
رانه غواړی توري سترګې سپین مخونه
د زړګی پۀ قندهار مې پۀ فراق کښې
شول قابض لکه یهود دا ستا غمونه
زۀ تا ستایم خو حالات راځخه غواړی
سوی ساندې غم الود غوندې نظمونه
د لا یق وینا بې شکه حق وینا ده
پۀ یو مخ وګړی راوړی سل رنګونه
د بخت ستورے مې له ارض پۀ سماء پریوت
خو که زۀ شوم کم همته کړم خوبونه
نه پوهېږم د عشاقو داد فریاد دے
که له درده رنځوران کړی فریادونه
نمر پۀ ابر کښې پنهان شولو که زلفې
د لیلی پۀ جبین راغلې غرونه غرونه
تو لعنت دې وی پۀ هغو خریدارو
د شیشو پۀ نرخ چې اخلی سره لعلونه

پــهٔ جــامو مـــې د غربـــت داغونـــه ډېـــر دی
خـــو د نیـــت پـــهٔ جـــامو نـــه لـــرم داغونـــه
تـــه خوشـــنود زهٔ غـــم الـــود ښـــهٔ یـــم دلبـــره
ګـــلاب خانـــدی بلبـــل تـــل کانـــدی ویرونـــه
د زینـــت نمـــود پـــهٔ خـــوب کښـــې راتـــه اوکـــړه
کـــه پـــهٔ ویښـــو ســـترګو نـــه شـــی دیدنونـــه
مقتـــدی اشـــنا مـــې نـــه راځـــی جمـــات تـــه
کـــه مـــې ډېـــر اوکـــړل د مینـــې اذانونـــه
تبلیغـــــات د محبـــــت کـــــوه نـــــاداره
پـــهٔ نیکـــۍ دې چـــې بـــدل شـــی ګناهونـــه

منمـــه چـــې لـــه رنګـــه لـــه صـــورته شـــاعرنه یـــم
خو خـدائے مـا تـه راکـړی چې خیالونـه د شـاعر دی
دعـوی د شـاعری زهٔ نـه کـوم خـو تـول یـاران مـې
دا وائـــې چـــې لیکلـــې دې شـــعرونه د شـــاعر دی

نـــۀ پـــۀ ادب نـــه پـــۀ حیـــا پـــوهیږی
نـــــه پـــــۀ روا او نـــــاروا پـــــوهیږی
مـــدام د شـــرعې نـــه بهـــر ښـــکاریږی
ملګـــــرو دغـــــه د مغـــــرب جینکـــــۍ
مـــدام پـــۀ سـیند د خواهشـــاتو لاهـــو
مـــدام د نفـــس پـــۀ احساســـاتو لاهـــو
د خپـــل ژونـــدون نـــه نـــا خبـــره اوســـی
پـــۀ خـــوئ خصـــلت د حیوانـــاتو لاهـــو
پـــۀ خوشـــحالو او پـــۀ خنـــدا پـــوهیږی
نـــه پـــۀ عقبـــی نـــه پـــۀ دنیـــا پـــوهیږی
مـــدام د شـــرعې نـــه بهـــر ښـــکاریږی
ملګـــــرو دغـــــه د مغـــــرب جینکـــــۍ
دا نـــه خپـــل دیـــن نـــه خپـــل اســـلام پیژنـــي
نـــــه د الله د درقیـــــــام پیژنـــــــي
نـــه پـــۀ رکـــوع نـــه پـــۀ ســـجدو خبـــر دي
بـــس مدهوشـــی پیژنـــي جـــام پیژنـــي

نـــه پـــهٔ توبـــه نـــه پـــهٔ ژړا پـــوهيږي
تـــش پـــهٔ نوشـــلو پـــهٔ مينـــا پـــوهيږي
مـــدام د شـــرعې نـــه بهـــر ښـــکاريږي
ملګـــــرو دغـــــه د مغـــــرب جينکـــــۍ
ژونـــد تېـــروي واړه پـــهٔ شـــان د حېـــوان
کانـــدي خـــدمت پـــهٔ هـــر زمـــان د حېـــوان
کلـــه نـــا کلـــه ئـــې چـــې اووينمـــه
خدائے پهٔ راستۍ اوکړم ارمان د حېوان
ځکـــه حېـــوان پـــهٔ مـــور بابـــا پـــوهيږي
هم پـــهٔ خپـــل ســـود هم پـــهٔ ســـودا پـــوهيږي
مـــدام د شـــرعې نـــه بهـــر ښـــکاريږي
ملګـــــرو دغـــــه د مغـــــرب جينکـــــۍ
پـرون مـې سـوچ کـړو دا د چـا لونـه دي
زړهٔ راتـــه وئيـــل چـــې د حـــوا لونـــه دي
بـــې شـــکه واړه د ادم نـــه پيـــدا
خـــو د تيـــارو او د رڼـــا لونـــه دي
نـــه پـــهٔ ماښـــام نـــه پـــهٔ ســـبا پـــوهيږي
نـــه پـــهٔ تيـــاره نـــه پـــهٔ رڼـــا پـــوهيږي
مـــدام د شـــرعې نـــه بهـــر ښـــکاريږي
ملګـــــرو دغـــــه دمغـــــرب جينکـــــۍ

شب و روز ناست پۀ ژړا يم ستا پۀ عشق کښې
پۀ هائے هائے او پۀ غوغا يم ستا پۀ عشق کښې
پردی څۀ خپل پۀ خپلو لارو لاړل
ځان تۀ پاتې يک تنها يم ستا پۀ عشق کښې
چې پۀ غم د بېلتانه کوم څوک الود وی
د هغو سره اشنا يم ستا پۀ عشق کښې
کله کله ځان عاصی و فاجر شمېرم
کله وايم چې پارسا يم ستا پۀ عشق کښې
تخت وتاج د ذوالقرنين مې پکار نه دے
له هر څۀ نه بې پروا يم ستا پۀ عشق کښې
د ويرژنې ښځې خوئ راسره مل دے
سر پۀ وير بېګا سبا يم ستا پۀ عشق کښې

زما غم و ښادي هيچا معلوم نه کړل
ژړغونې په خندا يم ستا په عشق کښې
د مجنون تښته مې ځان ته خوښه نه ده
د فرهاد په کار رضا يم ستا په عشق کښې
فريادونه مې له درده سندريز شول
د مجبورو زړو صدا يم ستا په عشق کښې
مرمه مرمه نه روغېږم زۀ وهلې
د فراق توري بلا يم ستا په عشق کښې
ستا د سپين مخ د شهاب له برکته
زۀ هم سپين لکه سبا يم ستا په عشق کښې
که څوک بد راسره کاندي که څوک ښۀ کا
زۀ هر چا ته په دعا يم ستا په عشق کښې
د بلبل په دود مدام دا ستا د حسن
په صفت او په ثنا يم ستا په عشق کښې
د حباب دوام ته ګوره زۀ هم دا رنګ
بې بنياده بې بقا يم ستا په عشق کښې
زۀ د ګونګ په خله کښې ژبه يم قيصې کړم
د ړانده د لاس عصا يم ستا په عشق کښې
د نادار د حال احوال پوښتنه مه کړه
په ګردش لکه هوا يم ستا په عشق کښې

دا ستا د عشق لـه کاروبـاره سـېوا څـومره چـې دی
بـې هـوده ښـکاری مـا خـو ډېـر کاروبارونـه اوکـړل
زمـونږ د مینـې مقـدس جمـات تـه یـار نـه راځـی
کـه هـر څـو ډېـر مـې اذانونـه تکبیرونـه اوکـړل
بېگانۍ شپه مې پۀ محفل کښې گرانې ستا لـه مخه
پـۀ سـندریزه شـان لهجـه کښـې فریادونـه اوکـړل
د زړۀ پـۀ زمکـه مـې دا سـتا د غـم ولاړه څانگـه
اوس ئـې د هجـر پـۀ موسم کښـې نـور ښـاخونه اوکـړل
قاصـده دغـه د خوبرویـو د بېلتـون قیصـې وې
کـه نـا پـۀ مـا دې نـن د تـورو گذارونـه اوکـړل
زړۀ مـې د سـتا لـه مینـې کلـه اجتنـاب کـوې شـی
خولـه ناکامـه مـې ناصـح تـه قسـمونه اوکـړل
پـۀ تـدبیرونو بانـدې لیـک د تقـدیر نـه ورانیـږی
گنـې مـا سـتا د پـاره هـر رنـگ تدبیرونـه اوکـړل
سـتا د فـراق پـۀ اتشـین وخـت کښـې پـرون اومنـه
ښـۀ مـې ویـر اوکـړو ښـۀ مـې ځـان تـه ازارونـه اوکـړل
بغیـر لـه تانـه مـې بسـتر کـه بخملـی وو بیـا هـم
نـه پـرې ارام راتلـو او نـه مـې پـرې خوبونـه اوکـړل
بیـا هـم د خـدائے د رحمتونـو ډېـر امېـد لرمـه
نـاداره مـا کـه غرونـه غرونـه گناهونـه اوکـړل

حسن ته دې یاره په سندرو کښې خبرې کړم
زۀ شاعر سړے یم په خبرو کښې خبرې کړم
کله چې د ننګ او د ناموس اوپت ګټنه وی
خدائے ګو که ویر بړم په لښکرو کښې خبرې کړم
ستا د سپینو هار ته زما سترګې هم اړیږی نه
زۀ د سرو زرګر یم په سرو زرو کښې خبرې کړم
زۀ بلقیسی نه یمه چې نمر ته به سجدې کوم
زۀ سلیمانی یم په وزرو کښې خبرې کړم
خدائے مې چې پالنه د توچې په اوبو اوکړله
ځکه خو په تورو او په زغرو کښې خبرې کړم
نیل مې چې د سترګو ستا په یاد کښې په چپو
راشی وړم ډ که جولۍ په ملغلرو کښې خبرې کړم
ما ته د مجنون په څیر جنون بیلتانه راکړلو
ناست یمه د ځان سره ننښترو کښې خبرې کړم
سره مې د قلم چې د شیشو سره په تله ږدی
ځکه خو نادار په شیشه ګرو کښې خبرې کړم

# وزیرستان ته

څنګه دې چې نام دې هسې ښکلې ئې
اې وزیرستانه سپین سپیڅلې ئې
غېرو وته ستا د شوکت څۀ پته
ستایم به دې زۀ چې ما لیدلې ئې
اخ دې لاتر اوسه چرته او نه کړل
ډېر که د فرنګ نسل سوزلې ئې
نه مې دستاکانې پۀ مرمر ورکړل
نه مې پۀ سرو سپینو ورتللې ئې
ستا ځلنده نور وته چې ګورمه
ستورې له اسمانه رالوېدلې ئې
ځکه دې دفاع د زړۀ پۀ مینه کړو
مونږ ته میرزالي حاجي ګټلې ئې
تنګ دې چې پۀ خپلو پردو اوکړلو
ځکه نن پۀ خپل پردي وتلې ئې
ځکه خو نادار دا ستا ستائنه کړم
خلقو تر مغرب پورې منلې ئې

ستر ګي مې رندېږي په دلبر پسې
يمه تشنه لب و لېمه تر پسې
خدائے خبر چې کله به ئې وينمه
يمه ډېر لېواله او اوتر پسې
شوم چې په ښائست باندې خبر ديار
ځان مې کړو له ځانه نا خبر پسې
ما که په هامون موندو نو ښه ګڼې
ځان به کړم فرهاد ماتوم سر پسې
ښار کښې مې د زړۀ دے تور ماښام ځکه
شپې شوګيروم په روڼ سحر پسې

لارې مې د ژوند که بې منزله دي
بیا هم یون کومه په رهبر پسې
خوب کښې ئې که سپین مخ راڅرګند کړلو
ور به کړمه واړه سیم و زر پسې
پوئ مې چې د عشق په دود دستور کاندي
څمه چرته هسې دانشور پسې
توان مې د زړۀ لاړو د فراق سره
ځي مې اوس د سترګو نه نظر پسې
ساه مې چې ترکومې په صورت کښې وي
وي به مې ازار د وخت شمر پسې
بیا به نادار غواړې خو نادر به وي
ګرځې به جانانه لر او بر پسې

ته د پښتون دعوی په کوم دلیل کړې
چې دې په غاړه دے لباس د مغرب
دا ستا وطن ئې لوټې لوټې کړلو
ستا سره نشته څۀ احساس د مغرب

Pukhto.Net
پښتو

چې د حسن په لتهون شوم
بې شعوره شوم مجنون شوم
سر ترپا زخمي زخمي شوم
سر ترپا الود په خون شوم
د ګلاب د ګل رخسار نه
رنګ مې واخستو ګلګون شوم
خوشنودي مې زېرخاک شوه
په هائے هائے سر په زنګون شوم

ندامت کولے نشم
که ستی ئې په بېلتون شوم
د توچی په وران بوستان کښې
لکه ښاخ د ګل زرغون شوم
د حالاتو په ماښام کښې
خپل سماج ته سباؤن شوم
زندګی مې زنداني شوه
ډېر ستومانه په ژوندون شوم
دا نادان يم که دانا يم
چې خرم په خپل جنون شوم
ستا وصال مې په هيچا هم
پېروزونه دے سم قارون شوم
ګام په ګام باندې فردوس وو
ستا استان ته چې درون شوم
ګام په ګام سقر ليده شو
ستا له دره چې بيرون شوم
ما وئيل ورک به شم چې مړ شم
خو په شعر کښې بيا زرغون شوم
له فرعون نه بغاوت کړم
زۀ نادار ورور د هارون شوم

یون د ژوندون د هرې لارې راته
د هر یو ګام راته ادب اوښایه
چې ستا د عشق اسم اعظم ترې زده کړم
ما ته اشنا هغه مکتب اوښایه
ستم کوه خو لږ د خدائے پۀ خاطر
ما ته ئې جرم او سبب اوښایه
شاعر خو یم خو دومره پوئ خو نه یم
د دې غزل راته مطلب اوښایه
چې زیان ئې نه وی سود مندی وی واړه
بې مینې بل داسې کسب اوښایه
لکه زما پۀ زړۀ کښې ستا طلب دے
د بل طالب داسې طلب اوښایه
پۀ زړۀ یوه او پۀ خله بله کوې
پۀ کوم مذهب ئې خپل مذهب اوښایه
مونږ د اسونو سورلۍ نه دی کړی
تګ و نیول ئې د جلب اوښایه
کج مزاجی هر ګز نادارہ مه کړه
ژوندون ته خپل ځان مهذب اوښایه

که پهٔ خپله پهٔ خپل کور کښې هم مهمان یم
بیا هم یاره ستا د درد و غم مېزبان یم
عندلیب غوندې جهان مې خبر نه کړو
د ګلاب غوندې په پرې سینه خندان یم
پتنګ نه یم چې د ځان پهٔ سود ځان سوزم
زهٔ مشال د بل پهٔ سود سوے پهٔ ځان یم
د فراق قیامت خېز اوقات له مخه
تشنه لب او لېمه تر ځیرې ګرېوان یم
د غماز پهٔ تاخت تاراج مې پېروز نه شي

شــب و روز د خپلــې مينــې نګهبــان يــم
څــهٔ د حســن د ښائســت د ګــل رويــانو
څــهٔ د وخــت او د حــالاتــو ترجمــان يــم
شيشــه ګــرو تــه دکــان دشيشــو ښــکارم
زرګرانــو تــه د ســيم و زر دکــان يــم
د دښــمن لــه تــوانګرۍ مــې ويــره نــه شــي
زهٔ نمســې د خپــل فــاتح ميرزالــی خــان يــم
خــدائے راســتی کــه خوشــامد د هېڅــا اوکــړم
زهٔ لــه ځايــه د ښــو خلقــو ثنــاخوان يــم
دا مــې وارِه د ســپين ســرې مــور دعــا ده
چې پــهٔ بــاغ کښــې د تــوچی ګــل رېحــان يــم
ډېــر رنګونــه مــې پــهٔ ځــان مبتلــی نــه دی
هــر ســړی تــه پــهٔ يــو رنــګ بانــدې عيــان يــم
ســـر وهمــه درپســـې مــدام پـــهٔ ګټـــو
بــې لــه تــا نــه پــهٔ مثــال آب روان يــم
کــه مــې مــال او منــال نشــته خــو ملګــرو
د قــانع زړهٔ لــه کبلــه شــاه جهــان يــم
بــوئ د مشــک او د عنبــر خــو خــوئ د مــار کــا
زهٔ نــادار د هســې زلفــو بنــديوان يــم

په ما تېر شو داسې زر د ځوانۍ عمر
لکه تېر شي يو سحر د ځوانۍ عمر
ما د سيم په بها ځان وته حساب وو
که له اصله وو سره زر د ځوانۍ عمر
اشنايان مې همه واړه په سکون دي
عشق په ما تېر کړو مضطر د ځوانۍ عمر
که برمل وو که لرمل وو دواړه تېر شول
اوس راغلے مازيګر د ځوانۍ عمر
ځوانه پام کړه په ځوانۍ غرور او نه کړې
حساب غوښت شي په محشر د ځوانۍ عمر
د پيرۍ د سلو کالو نه سود مند دے
يو ساعت او يو نظر د ځوانۍ عمر
د خټکو خوشحال خان هم مونده نه کړو
هم په زور هم په هنر د ځوانۍ عمر

تـر ابــده ئــې امېــد مــه کـړه چــې روغ شــې
څوک چې غـوځ شـی پـهٔ خنجـر د ځـوانۍ عمـر
د زرګــــر د زيـــورات حاجـــت ئـــې نـــه وی
ښائســــته وی بــې زيــور د ځـــوانۍ عمـــر
دا خـو ليـک د ے د تقـديـر ځنې پـهٔ کـور کښې
ځنــې تېــر کــړی در پــهٔ در د ځـــوانۍ عمـــر
شــب و روز پـهٔ دې سـبب سـوال او زاری کـړم
چــې مــې خـدائے کـړی منـور د ځـوانۍ عمـر
د ژونــدون پــهٔ ائينــه کښــې راښــکاره شـــو
پــهٔ مثــال د مـــاه و نمــر د ځـــوانۍ عمـــر
عــاقلان ئــې همــه واړه زيـــر دســـت وی
چــې د چـا شــی بختــور د ځـــوانۍ عمـــر
د پيـرۍ ګـرد و غبـار نـه بـه پـټ نـه شـی
کـه ډېـر پـټ شـی پـهٔ څـادر د ځـوانۍ عمـر
مــا چــې څـومره خيــال او فکـر ورتـه اوکـړو
واړه در وو او ګـــــوهر د ځـــــوانۍ عمـــــر
صـــــفتونه تعريفونـــــه ئـــــې لا ډېـــــر دی
مــا بيــان کــړو مختصــر د ځـــوانۍ عمـــر
اوس د هـر چـا خپـل اختيـار د ے چـې څـهٔ وائـې
نــادار شــمېرم هفــت کشــور د ځـــوانۍ عمـــر

زمـا د زړۀ بیـت الحـزن دې خـدائے ابـاد لـری تـل
چـې راسـره وی سـتا د مینـې محبـت نشـانه
چې د شفق رنګ دې راخور شو پۀ رخسار لـه غصې
بـې شـکه دا ده سـتا د هجـر د ظلمـت نشـانه
وحشت انګېز چشمان ئې ځکه پـه ځیر ځیر نـه ګورم
چې راسـره ده زړۀ کښې اوس هـم د وحشـت نشـانه
پـۀ مـخ د زمکـې دغـه لـوړ لـوړ محـلات اوګـوره
دا د اخـــر دور نشـــان دا د قیامـــت نشـــانه
پـۀ هـر راحـت کښـې زحمتونـه پـۀ چپـو لیـده شـی
ما تـه پـۀ خپـل زحمت کښې ښکاری د راحت نشانه
چاته حاصله پۀ محراب څوک ئې پۀ دار کښې مومی
چـا تـه حاصـله پـۀ خلـوت شـی د بهشـت نشـانه
پـــۀ تنقیـــدونو د ناقـــد حوصـــلې نـــه مـــاتوم
ځکـه تنقیـد دے عظـیم لفـظ د عظمـت نشـانه
سـتا د نـادار زیـړه څهـره او تشـنه لـب درخـانۍ
دغـه تـاثیر دے سـتا دعشـق د فراقـت نشـانه

زما د ژوند ښاپیرۍ وایه بیا به کله راځې
زۀ به درځمه کوه قاف ته که به خپله راځې
پۀ ژوندانه بیا راته راشه هغه فیض نه لری
چې مرګے کیږدی پۀ ما لاس ته راته هله راځې
نسیمه هره ورځ دا ستا چې رڼې اوښکی څاڅی
ته هم دردمند شې له توچی او له کابله راځې
دا ستا پۀ مینه صدقه ستا پۀ خلوص صدقه
چې مې کنډر کنډراستان ته له محله راځې
ته پۀ سپندرو کښې زما د یار ستائنه کوې
وایه له کوم کلی له کوم باغ نه بلبله راځې
اے د یار غمه جوړې ته راسره مینه لرې
د زړۀ بغداد ته مې چې داسې تل تر تله راځې
طبیبه ته زموږ د خوږو زړو تپوس دپاره
راځې منم خو بې دارو اوبې درمله راځې
بیا دې محفل ته د راتللو څۀ حاجت نشته دے
ناداره ته چې بې کتابه بې غزله راځې

Pukhto.Net
پښتو

زهٔ مئین ستا پهٔ جمال یم
ارزو مند دې د وصال یم
له هر چا نه مې زړهٔ تور دے
ستا پهٔ مینه کښې مجنون یم
خدائیګو ستړی پهٔ ژوندون یم

ستا یاری ظلم ستم دے
واړه عمر د زړهٔ غم دي
هیڅ پرې ښاد او اباد نه شوم
بس اخته پهٔ شوا خون یم
خدائیګو سترے پهٔ ژوندون یم
که بیګا وی که سبا وی
که ژړا وی که خندا وی
چې پهٔ کوم رنګ مې ژوندون وی
هر زمان ستا پهٔ لټون یم
خدائیګو سترے پهٔ ژوندون یم
سود مندی مې پهٔ چا نه شی
که مې ځان شی که مې زړهٔ شی
لیه هبر چا نه لرې لرې
مقیم ځکه پهٔ هامون یم
خدائیګو سترے پهٔ ژوندون یم
د طبیب دا دوایانې
پهٔ شفا چې دی ودانې
هیڅ اثر راباندې نه کړی
سوزولے دې بېلتون یم
خدائیګو سترے پهٔ ژوندون یم
د وفا طلب کونکے

د ادا طلب کونکے
د دې د هر له کبله
بې ارامه بې سکون یم
خدائیګو ستړے په ژوندون یم
هر ګفتار زما منظور کړه
مه جنجال کوه مه شور کړه
نه دجال او نه قارون یم
زۀ موسی ورور د هارون یم
خدائیګو ستړے په ژوندون یم
زۀ د نبض بیمار نه یم
ظاهری پۀ صورت ښۀ یم
خو پۀ تیر دا ستا د مینې
لګیدلے پۀ لړمون یم
خدائیګو ستړے پۀ ژوندون یم
چې هر څوک مې حال ته ځیر شی
له ناکامه ګډ پۀ ویر شی
چې هر څوک مې لولی ژاړی
زۀ د عشق هغه مضمون یم
خدائیګو ستړے پۀ ژوندون یم

چې نمود راته ساقي تل د پيالو کړي
پښېمان به مې دوباره په توبو کړي
سفينه مې د امېد په تنګ و دو شوه
ستا منزل ته نه په آب ئې بيا لاهو کړي
هيڅ تپوپېر د بود نابود کولے نه شي
په بينا سترګو خويونه د رندو کړي
بل څۀ ګفت به دي په خله باندې رانه شي
که لذت ترګلو تير د الاهو کړي
زۀ د يار ثنا صفت کړم په غزل کښې
شېخه ته ئې ثنا هر وخت په تسبو کړي
د طوبى سيوري حاجت نشته نادار ته
بې له تا نه که پوره ئې دا ارزو کړي

Pukhto.Net
پښتو

د حالاتو پهٔ تيارو کښې د سحر پهٔ طمع ناست يم
سرترپا په درد الود يم د دلبر پهٔ طمع ناست يم
هيڅ طفيل مې ربه نشته هر زمان اشفته حال يم
که ئې ته راته څرګند کړې يو نظر پهٔ طمع ناست يم
زهٔ د مينې قلندر يم قناعت خدائے راعطا دے
اورنګ نه يم چې د تخت او هفت کشور پهٔ طمع ناست يم

نادار دريه خېل

د فــراق ترخـــې روژې مـــې ډېـــرې اونيـــولې شـــيخه
چې راځـی بـه پـۀ مـا کلـه د اختـر پـۀ طمـع ناسـت يـم
يـا رشـيد علـی دهقـان شـو يـا لايـق د درپـه خېلـو
زۀ د داســې هنــر منــدو د هنــر پــۀ طمــع ناســت يــم
ستا د عشق درازې لارې خدائيګو ډېرې پېچ وخم شوې
يون کوے نه شم پۀ ورانديې د رهبر پۀ طمع ناست يم
چې د زړۀ دکنعان ښار مې پسې وران دې او ويجاړ دې
زۀ د هغـه يوسـف مخـی نـاز پـرور پـۀ طمـع ناسـت يـم
هـيڅ ارزو مې زړۀ کښې نشته د ساقی مې او مينا تـه
زۀ د خپــل اشــنا د لبــو د کــوثر پــۀ طمــع ناســت يــم
امېلونــه ئــې د اوښــکو دردانــو نــه راتــه جــوړ دی
ځکــه هــر زمــان ملګــرو د زرګــر پــۀ طمــع ناســت يــم
دا مې عقل خدائے سيوا کړو خو که زۀ شوم خام شعوره
پـۀ سـاحل د اباسـين چې د ګـوهر پـۀ طمـع ناسـت يـم
مـا خـو وئيـل راتلـونکی کـال تـه بـه ثمـر ورځنـې خورمـه
خو اوس پوئ شوم تاسف چې د ښبتر پۀ طمع ناست يم
د تــوچی نســيمه لاړ شــه زاخيلــی حلــيم تــه وايــه
چـې نـادار ئـې تشـنه لبـه لبمـه تـر پـۀ طمـع ناسـت يـم

Pukhto.Net
پښتو

چې خپل حسن ته ځير شولو جانان په ائينه کښې
خزان ورته څرګند شو د بوستان په ائينه کښې
ناله وی او غوغا وی اشکباری وی او سلګۍ وی
خندا به مونده نه کړې د پرېشان په ائينه کښې
اول خو يار زما په حېرانۍ باندې خېران شو
خو ځان ته ئې چې مخ کړو شو حېران په ائينه کښې

د چا پـهٔ ښـو او بـدو بـه هـر ګـز نظـر اونکـړې
کـه ځـان تـه دې سم اوکتـل د ځـان پـهٔ ائينـه کښـې
هـر څـو کـه ځنـې سترګې پټـوم خـو بيـا هـم يـاره
تصـوير دې راتـه خانـدې د ارمـان پـهٔ ائينـه کښـې
جهان خو لا جهان دے خپل ځان هم پکښې نه وينې
چې زنـګ کلـه پيـدا شـی د انسـان پـهٔ ائينـه کښـې
تائيد ئې چې کوې نه شې تنقيد خو ئې حرام دے
تـه څـهٔ وينـې چـې وينـی شـاعران پـهٔ ائينـه کښـې
جلوې د سپين سبا لکه چې ښکارې پهٔ ظلمت کښې
وصـال دې داسې ښکارې د هجـران پـهٔ ائينـه کښـې
چـې سم مـې ورتـه اوکتـل پـهٔ برنـدو برنـدو سترګو
بهشـت وو حـور غلمـان وو د ايمـان پـهٔ ائينـه کښـې
نـه ګـل وی نـه بوسـتان وی نـه سـندرې د بلبلـو
خارونـه وی خندونـه د خـزان پـهٔ ائينـه کښـې
دانـا وی چـې لـه ځايـه هـر يـو کـس ورتـه دانـاوی
دانـا ښـکارې نـادان د هـر نـادان پـهٔ ائينـه کښـې
پـهٔ رد دور پيـدا يـم ګنـې مـا دې خدائے رد نـه کـړی
نـن ښـکارم زهٔ هـم رد د رد دوران پـهٔ ائينـه کښـې
نهٔ سوال نه ئې ځواب نه ئې تپوس کاندی لـه چانـه
نـادار دے جوړې مـړ د خپـل لقمـان پـهٔ ائينـه کښـې

پهٔ بې رخۍ دې ولې کيږمه د موم پهٔ شانې
پهٔ نه خبره خفه کيږم د ماشوم پهٔ شانې
ته خپل منصف شه انصاف اوکړه وايه حق دا حق دے
چې ځان حاکم ګڼې ما ګورې د محکوم پهٔ شانې
ځان کوهکن کړم که نعرې د انا الحق اوکړمه
دا ستا رضا ده چې زهٔ اوکړم اوس د کوم پهٔ شانې
جاه وجمال بهٔ دې همه شی زیرخاک که چرته
يو اسويلے مې پهٔ خله اوت د مظلوم پهٔ شانې
يا مې اشعار وې الغياث چې د مومند پهٔ شانې
يا د سعدی صاحب پهٔ شان وې يا د روم پهٔ شانې
آب وصال دې د کوثر نه هم شيرين ګڼمه
خوند د فراق دې راته تريخ دے د زقوم پهٔ شانې
د سترګو رپ وی خوشحالی نور مې پهٔ غم الود کړی
طالع مې کاندی خصلتونه څهٔ د شوم پهٔ شانې
نادار ه ياره قدر ته له قدردانو غواړه
د هر بې قدره خوا کښې مه کېښنه د زوم پهٔ شانې

Pukhto.Net
پښتو

پــه بــاده او پــهٔ ادا چــې د ســاقی صــاحب مئــین شــوم
ســم تائــب تــابع بنــده ووم تاســف توبــه شــکن شــوم
لاس په ځان د ملامت ږدم چې دا ستا پهٔ افضل عشق کښې
نـه منصـور پـهٔ چغـو سر شـوم نـه مجنـون نـه کـوهکن شـوم

عشق بې شک د رحمت ابر دے مومند صاحب فرمائی
ځکه زۀ پۀ دغه بخره تل شاکر د خپل ځبنتن شوم
دا د خو خلقو دعا ده ما چې څومره فکر اوکړو
چې پۀ هومره ښاریه کښې خار و خس ستا د ګلشن شوم
دلته دا کړم هلته أ کړم چې توبه کړم بیا ګناه کړم
شېخه اوس راته اووایه بت پرست که بت شکن شوم
چې نغمه دا ستا د مینې د فطرت مې شوه تر غوږو
پۀ تاثیرئې خدائیګو زۀ هم غزل ګو و نغمه زن شوم
دنړۍ واړه وګړی د خپل ځان پۀ غم الود دی
څۀ عجب چې زۀ یوازې د اشنا پۀ غم غمژن شوم
پاکیزه به مې تن نه شی که سل ځله غسل اوکړم
د نفاق پۀ ګردغبار کښې هسې خړ هسې خچن شوم
ستا پۀ عشق کښې شمع رویه د پتنګ پۀ څېر مې حال دے
سر ترپا ستی یم سر ترپا سوے لوغړن شوم
دروغژن به شم چې وایم چې له ځایه دروغژن ووم
پۀ سبب د دروغژنو خدائیګو زه هم دروغژن شوم
که هر څومره همت اوکړم پۀ طلب د خلاصولو
خلاص به نه شم تر ابده بند د مینې پۀ رسن شوم
زۀ نادار پۀ دغه بخره د رب ډېر شکر ګذار یم
چې ړندو و ته عصا شوم د بربنډو پیراهن شوم

Pukhto.Net
پښتو

☼

چې ستا پهٔ رنګ الود مې کړل رنګونه د غزل
لفظونه مې زیبا شول هم خیالونه د غزل
د دهر پهٔ ظلمت کښې دمخلوق د خېر دپاره
پهٔ سرو وینو مې بل دی مشالونه د غزل
شاعر د رحمانی مکتب مې قدر د غزل کړی
اغیاره ته مې مه کړه تعریفونه دغزل
ملګرو ممنون ځکه نن د ابراو فلک یم
پیرزو ئې چې پهٔ ما کړل بارانونه د غزل

وصال مې د لايق چې پهٔ ژوندون باندې نصيب شو
پهٔ زړهٔ کښې مې زرغون شول وچ ښاخونه د غزل
قطار کښې د همزولو پهٔ ځلنده غاړه ګرځم
مدام مې وی پهٔ غاړه امېلونه د غزل
هر څومره که تياره شی ماښامونه راخواره شی
بيا هم پکښې عيان شی سحرونه د غزل
د وخت د ادم خورو د نيوو پهٔ خاطر باندې
له توريونه مې جوړ کړل زنځيرونه د غزل
منم تا ته به ښهٔ ښکاری خو ما پهٔ خپل ضمير کښې
لا نه دی ادا کړی ټول حقونه د غزل
که ته ئې پهٔ مفهوم او پهٔ راز پوئ نه شوې بيا راشه
پهٔ سترګو کښې مې ښکاری ټول رازونه د غزل
پهٔ باغ کښې د ژوندون مې الهی پروردګاره
مېلمه کړې تر ابده بهارونه د غزل
همه پکښې ته ښکارې ما چې څومره څومره ياره
پهٔ خپل بياض کښې جوړ کړل تصويرونه د غزل
بې شکه دا دعقل او شعور خبرې نه دی
تقدير دی راپه غاړه امېلونه د غزل
چې ببرته مې پهٔ سپينه رېبره طنز نه کړی ناداره
انس ته به ليکم څو کتابونه د غزل

ورک ووم پۀ تیارو کښې خو سحر پۀ غېږ کښې اونیوم
لارې کړ کېږنې وې دلبر پۀ غېږ کښې اونیوم
دغه نتیجه د صبورۍ وه نوره هیڅ نه وه
دا چې د حالاتو غټ شمر پۀ غېږ کښې اونیوم
ما چې د یار مینه د زړګی پۀ غېږ کښې اونیوه
دا ئې وو بدل چې هر ګودر پۀ غېږ کښې اونیوم
سپین ویښته چې ګورمه تندی کښې زړۀ کښې وایم کاش
ورځ شوه د ژوند تېره مازیګر پۀ غېږ کښې اونیوم
خاورې ئې زما د ژوند همه قدر قیمت کړلو
تور ئې خدائے اوبه کړه کوم نظر پۀ غېږ کښې اونیوم

يــو خــوا عشــق تقــوى او ديانــت راســره مــل کړلــو
بــل خــوا د ســندرو ســمندر پــۀ غېــږ کښــې اونيــوم
تــن کــه د مجنــون لــرم خــو نــه شــوم ځائيــدے پکښــې
نــن ئــې ډېــر پــۀ ګرانــه د نظــر پــۀ غېــږ کښــې اونيــوم
پــوئ نــه شــوم پــۀ دې راز چــې سينه ئــې زمــا څيــرې کــړه
بيــا ئــې خــون الــود پرهــر پرهــر پــۀ غېــږ کښــې اونيــوم
مــا چــې پــۀ بــازار د زرګرانــو خپــل نمــود اوکــړو
ويــل ئــې چــې سره زر دې هــر زرګــر پــۀ غېــږ کښــې اونيــوم
زړۀ مې خدائے غيور کړو پۀ هيڅ شان هم شکست نه منى
څــو کــه شــعله زن غونــدې مجمــر پــۀ غېــږ کښــې ونيــوم
هــيڅ ګيلــه مــې نشــته د تقــدير پــۀ کــار شــاکر اوســم
خدائے چې کړم يوسف خود سوداګر پۀ غېږ کښې اونيوم
اوس ئــې د خلاصــون پــۀ تــدبيرونو نــه پوهيږمــه
مينــې دې نګــاره پــاتر ســر پــۀ غېــږ کښــې اونيــوم
لنــډ تعبيــر ئــې اوکــړه پــۀ اوږدو اوږدو پــوهيږم نــه
خوب کښې خپل ”انس“ جان جګر پۀ غېږ کښې اونيوم
بيــا هــم ځــان تــه وايــم چــې ماشــوم يمــه نــادان يمــه
نــو يشــتو نــادار کــه برابــر پــۀ غېــږ کښــې اونيــوم

نه حيات هيڅ موندہ کړو بې مماته
نه ممات چا ته رادرومی بې اوقاته
دشوار وخت د ژنکدن به مې اسان شی
که نصيب مې شوې د ښکلو وصلاته
د ژوندون په پاک حرم کښې زما خدايه
پاتې مه شه څوک دمينې له رکاته
عشق بې شکه غير محدوده اباسين دے
نور ئې څۀ غم و ښادی اوستايم تا ته
د فراق درازو شپو کښې ډير ويريږم
د يعقوب په شان راپيښه نه شی ماته
فرش خاک فتنه انگيز شو فرحت نشته
لب مې څکه ارزو نه کاندی خندا ته

دا همــــه د ادميـــــت نشــــانه بويـــه
چــې پــۀ دســت و پــا ضــرر ورنــه کــا چــا تــه
نــه پــۀ ويښــۀ نــه پــۀ خــوب کښــې راتــه راغلــې
تعجـــب دے حياناکـــه ســـتا حيـــا تـــه
ســـتا پـــۀ در و پـــۀ ديـــار بـــه راګـــذر کـــړی
څکـــه ناســـت يـــم منتظـــر بـــاد ســـباته
انتقـــاد د ناقـــد هلـــه ســـود منـــدی کـــا
چـــې پـــۀ زور او پـــۀ زېـــر اوګـــوری انشـــا تـــه
مـــا پـــۀ خپـــل قـــدوس الفـــت داســـې مشـــغول کـــړه
پـــۀ دنيـــا کښـــې چـــې اور پـــورې کـــړم دنيـــا تـــه
يـــو ســـاعت او يـــو نظـــر دا ســـتا لـــه يـــاده
مـــا وزګـــار مـــه کـــړې هـــر ګـــز بلـــې وينـــا تـــه
د کيکـــر او د نښـــتر خويونـــه مـــه کـــړه
څـــان انګـــور کـــړه کـــه آشـــا لـــرې بقـــا تـــه
يـــانعرې د انـــاا لحـــق رابانـــدې اوکـــړه
يـــا مجنـــون غونـــدې مـــې اوســـپاره صـــحرا تـــه
ابتـــداو انتهـــا کښـــې ســـتا دپـــاره
خدائے تـه سـوال کـړم چـې لاس پورتـه کـړم دعـا تـه
ســتا پــۀ در کښــې د رقيــب ګفــت هســې شــمېرم
لــک ســګ چــې پــۀ غپــا ســر شــی ګــدا تــه
نهايــت بــه مــې تېشــه پــۀ ســر نصــيب شــی

سـر چـې زۀ رسـوم هغـه سـر هـوا تـه
کـه رادرومـې نـن پـۀ نـن دیـدن تـه راشـه
خـدائے خبـر چـې ژونـدی پـاتې یـو صـبا تـه
تاسـف یـار مـې اشـتی تـه رضـا نـه شـو
گنـې مـا ئـې رضـا ترکـه کـړه رضـا تـه
څـوک چـې تـا وتـه منـت د نرمـۍ کانـدی
گویـا د کانـدی منـت سـنگ خـارا تـه
ستا د سپین مخ روڼ مشال مې پۀ زړگی کښې
تـل بلیـږی حاجـت نـه لـرم رڼـا تـه
ستا نـادار چـې داسې کـوک پـۀ کـوک ژړا کـا
ځـان بـه هسـې ملامـت کانـدی دنیـا تـه

تـه د پښـتون دعـوی پـۀ کـوم دلیـل کـړې
چـې دې پـۀ غـاړه دے لبـاس د مغـرب
دا سـتا وطـن ئـې لـوټې لـوټې کړلـو
سـتا سـره نشـته څـۀ احسـاس د مغـرب

څو به داسې غم الود اوسم دلبره
څو به وومه تشنه لب و ليمه تره
درسته شپه درپسې ژاړم تر سحره
ته خبر ځان کړه له ما نه نا خبره
دا ستا دغې هنر زۀ کړم بې هنره

اے د ښکلو پۀ ټولي کښې سرفرازه
يوسف مخيه ښيوه ګره عشوه سازه
ما قبول دي دا ستا هره ناسازه
خو رقيب چې خبر نه کړې له دې رازه
زۀ که ډېر اشفته حال شم و مضطره

نه زۀ دا رنګ اموخته پۀ شور وشر ووم
نه مې درد وو نه پۀ زړۀ باندې پرهر ووم
نه د ښکلو پۀ دربار کښې محقر ووم
نه مې عشق ليدلے وو نه ترې خبر ووم
چې يوه شپه ئې د کال ده برابره

پۀ ژړا ژړا مې دواړه سترګې سرې دی
پۀ نصيب مې ستا د هجر شوګيرې دی
بېلتانه دې راته بيا توري تيارې دی
تعجب دے راته چا کړے ښېرې دی
چې وردرومه هميشه شې در پۀ دره

په فراق کښې دې اشنا په زړه غمژن يم
مقيد د تورو زلفو په رسن يم
چې نه مړ شومه نه ژوند په زنکدن يم
بې باوره شوم بې شکه دروغژن يم
په ګناه د عشق الود شوم پا تر سره
ستا په عشق کښې مې که ژوند ډېر په زحمت دے
دا زحمت هم ما قبول په ډېر راحت دے
دا ستا مينه محبت يو غنيمت دے
پرې شاکر يم دا د پاک الله رحمت دے
سکندر ئې کړم بې تخته بې کشوره
نه به چغې د منصور په څېر اختيار کړم
نه به مات لکه فرهاد تندے په وار کړم
تر هغې به جستجو ستا د رخسار کړم
نهايت چې په خپل سر خاورې انبار کړم
چې مې ورځ د حشر خدائے کړي منوره
حسرتونو راته اور واړه حيات کړو
له حياته ئې بهتر راته ممات کړو
په فراق کښې مې چې تېر څومره اوقات کړو
نادار خدائے ته ستا د مينې مناجات کړو
په خُله نه راتله هر ګز بله خبره

# تشـــــــــــکر

زۀ د پښتو ژبې د نامتو شاعرانو ، لیکوالو او دانشورانو لکه:

- جنـــاب محتـــرم پروفیســـر محمـــد نـــواز طـــائر ، پخوانے ډائریکټر پښتو اکېډمی ، پېښور پوهنتون
- جنـــاب محتـــرم پروفیســـر ډاکټرسـلمی شـاهین ، ډائریکټر پښتو اکېډمی ، پېښور پوهنتون
- جنـــــاب محتـــرم نقیـــــب احمـــــد جــــان ، پی ایچ ډی سکالر ، پېښور پوهنتون
- جنـــاب محتـــرم شـــېر زمـــان ســـیماب ، پښتو اکېډمی ، پېښور پوهنتون
- جنـــاب محتـــرم حلـــیم زاخېلـــی ، ضلع نوښار

ډېر ممنون او مشکور یم چې زما (دردانې) ته ئې د دردانې په نظر وکـتل او هـر رنګې زېب و زینت ئې ورکړو۔ الله دې دوئ ته هم دا رنګې زېب و زینت په دواړه جهانه ورنصیب کړی۔ آمـــین

نادار درپه خېل



نهٔ مومند یم نهٔ ختک یم نهٔ شنواري
زهٔ **نادآر** په دربه خېل کښې غزل ګو شوم

بیعه : =/190